

# اپریدی عجب خان

صفیه حلیم
عمر اپریدی

# اپریدی عجب خان

صفیه حلیم

عمر اپریدی

ټول حقوق د مؤلف په حق کې خوندي دي

د کتاب نوم: اپریدی عجب خان

مصنفه: صفیه حلیم

کمپوز: نعمان احمد

چاپ کونکی: تنویر پرنټرز 0333-9171026

تعداد: ۱۰۰۰

اشاعت: ۲۰۱۶ء

د موندلو ځای: ګرین بك پشاور ۰۳۳۳-۹۱۲۳۱۳۵



# اپریدی عجب خان

صفیه حلیم

عمر اپریدی

۲۰۱۵ م

د املا سموونکې- محمد جعفر هاند

# تړون

د هغو پښتنو په نوم
چې خپلې خاورې ته پتمن دي



## فهرست


| شمېره | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ١ | پېژندګلوي | ٦ |
| ٢ | لومړی باب- پښتانه قبایل او د دوی خاوره | ٨ |
| ٣ | دویم باب- د شلمې پېړۍ پیل | ٢١ |
| ٤ | درېیم باب- ظالم او مظلوم | ٣٣ |
| ٥ | څلورم باب- د برامته داستان | ٤٤ |
| ٦ | پنځم باب- جرم او سزا | ٥٩ |
| ٧ | شپږم باب- د عجب خان خبرې | ٧٣ |
| ٨ | اوم باب- د غازیانو کلي | ١١١ |
| ٩ | اتم باب - په مزار کې ژوند | ١٣٣ |
| ١٠ | افسانې او تحلیل | ١٤٤ |

## پېژند ګلوي

د اپریل ١٤ نیټه او میلادي کال ١٩٢٣ و. د کوهاټ د چاونۍ یوې بنګلې ته نیمه شپه دوه کسان ورننوتل چې یو انګریز پوځي وتښتوي. دغه د میجر(جګړن) اېلس بنګله وه چې پخپله په کور کې نه و. د ده مېرمن او ځوانه لور په کوټې کې هم په یوکټ ویدې وې. په تیاره کې یوه کس په چاقو ووهل شو، جینۍ په څادر کې تاو او له کوره بهر یوړل شوه.

دغه جینۍ "مولي اېلس" او تښتوونکې عجب خان او شهزاده خان اپریدي، پخپلو کې سره ورونه و.

برطانوي چارواکې هغه وخت په ټول هند کې د خپلواکۍ د غوښتنې څپو په مخه اخستي وو. د افغانستان سره په پوله داپېښه په کلکتې او په لندن کې حکومتي خلک هېښ کړل او ان چې د لندن په پارلمان کې ورباندې بحث وشو.

خو پرته له حقایقو پښتون اولس کې داپېښه یوه افسانه شوه. د انګرېز په نظر دا کار یو جرم و خو پښتانه یې د خپلواکۍ د جنګ یوه برخه ګڼي.

وروسته په دې پېښې فلمونو نه علاوه څو کتابونه هم ولیکل شول چې حقایق یې لږ او رومانوي ډرامه یې پکې زیاته ښودله.

دا کتاب د دوو ژورنالیستانو صفیه حلیم او عمر اپریدي له خوا لیکل شوی دی. په دې کې د لیکلي اسنادو سره سره د مولي اېلس وروستۍ مرکه، د عجب خان اپریدي د خپلې خولې لیکل شوي خبرې، د شهزاده خان



خبرې د هغه د زوی له خوا او د انګرېز پوځي افسرانو مرکې شاملې دي.

د دې دوارو اپریدیانو د ټبر خلک اوس هم د افغانستان د شمال، بلخ ولایت کې اوسېږي چې د مرکو د لارې د ځینو اسنادو په موندلو کې یې مرسته وکړه.

هغه ټول کتابونه چې د دې پېښې د پلټنو لپاره وکارول شول، حوالې یې په پای کې ورکړل شوي دي.

لومړی باب

## پښتانه قبایل او د هغوی خاوره

د افغانستان او پاکستان سره په پله هغه سیمې چې قبایل نومېږي، څنګه اداره کېږي؟ قبایلي نظام او پښتونولي څه وي؟ دا سیمې تر اوسه ولې یاغیستان نومېږي؟ ایا دلته څه حکومت یا انتظام شته او که نه؟

دااو داسې ډېرې نورې پوښتنې که څوک ځوابول غواړي نو لومړی به د دې ځای جغرافیې ته پام کوي. د لرغونو زمانو راهیسې د پښتونخوا غرونه او درې د بېلابېلو قامونو په واک کې وي. په دې درو کې کرونده نه وي او یواځې هغو ځایونوکې چې اوبه لري ونې شنې کېږي. خال خال داسې هواره زمکه هم پکې شته چې کر کرونده پکې کېږي او جوار، غنم یا میوه او ترکاري ترې اخلي. نور اهمیت یې هم په دې کې دې چې په دې درو کې تجارتي قافلې د لویدیځ نه ختیځ ته تلې راتلې. په ځینو تنګو درو کې د بېلا بېلو قامونو خلکو د تېرېدونکو نه د لارې باج یا ټیکس اخیستو چې اوس هم شته. په دوی کې تر ټولو مشهوره د خیبر دره ده چې نه یواځې انګریزانو بلکه پخپله د پښتنو لپاره هم یو شاعرانه خیال دی.

د خیبر دره یې سره کړله په وینو
په کړپه یې هم روان کړو دندوکار
تر کړپې تر باجوړه سمه غرونه
په لړزه په زلزله شو باربار



دا شعر د پښتو نامتو شاعر خوشال خان خټک د خیبر درې د هغو پنځو کالو د جنګ نه وروسته ولیکلو چې د اوولسمې پېړۍ په وروستیو کې د مغل باچااورنګزېب پر ضد قبایلي پاڅون و.

د سمندر نه درې نیم زره فټه لوړه د خیبردره د سپین غر شمال ختیځ کې واقع ده. دا د هم هغه وخت راهیسې د انسانانو لاره وه، له کومې ورځې چې دوی د سړو ملکونو نه د هند تودې هوا ته کډې وړلې. د تاریخ ځینې نامتو حمله کوونکې، لکه پارسي، یوناني، مغل او ترک لښکرې په دې تېرې شوي دي. د مغلو نه وروستهسکانو په ۱۷۹۸ م کې دا دره څه مودې لپاره ونیوله.انګرېزان هم د دې په اهمیت پوهېدل ځکه افغانستان او د مرکزي ایشیا ملکونو ته د ورتلو دا یوه لنډه لاره وه. خو هغه وخت انګریزان په دې وېره هم وو چې د دوی سیال او حریف روس به د افغانستان د لارې له دې غرونو واوړي او هند به ترې ونیسي.

د لومړي نړیوال جنګ نه وروستهانګرېزانو د خیبر درې ته د اورګاډي پاټلۍ جوړه کړه. چې د جمرود نه تر لندي خانې پورې غځیدلې ده د دې پرانسته په ۱۹۲۵ م کې وشوه. بیا د دویم نړیوال جنګ پر وخت، چې دوی د جرمني سره اخته وو نو د جمرود نه وراخوا یې د کانکریټ لوی لوی بلاکونه کېښودل چې که جرمني د افغانستان د لارې په هند حمله وکړه نو د دوی د ټانکونو په وړاندې خنډ شي.اوس هم په دره ادم خېلو کې د انګرېزانو د وسلې جوړه کاپي د "خیبر پاس کاپي" نومېږي.

د پېښورنه تر لنډي کوتل درې پورې د اپريدو په لاس کې وې، د جلال اباد نه تورخم پورې شينواري دي او بيا د جلال اباد نه ترکابل پورې غلجي پراته دي. دوی د هر واکمن او حکومت نه د تجارتي قافلو او لښکرو د تېرېدولپاره پېسې اخستې. قبايلو په دې لاره تېرېدونکې هر قوت سره د خپلې بقا لپاره معاملې کړې دي. خو په دې سيمه کې اوسېدل د دې قبايلو ځواک هم دياو کمزوري هم.

يو انګريز مورخ واربرټن وايي، د پارس (ايران) نادر شاه په هندوستان د حملې لپاره د يو لک(۱۰۰۰۰۰) پوځ پر مټ د خيبر د درې نه په مفته کې د تېرېدو هڅه وکړه. اپريدو او ااورکزو په ګډه تر يوې نيمې مياشتې دا پوځ په لنډې خانه کې ايسار کړی و. اخرد نادر شاه په پوځ کې يو اورکزي سردار دا لښکرد يوې بلې لارې نه له غرونوپورې وويستلو. مغل او نورو باچاهانو به تل په دې لاره د تېرېدوپېسې ټاکلې وې. کله چې په ۱۸۳۹ م کې انګريزانود شاه شجاع بېرته د کابل پر تخت د کېنولو پلان جوړکړو نو د بلوچستان او د افغانستان ځينو قبايلي مشرانو ورته ليکونه ورواستول او په دې کار کې يې ورسره د مرستې وړانديزونه وکړل. دوی د خيبر درې نه د تېرېدو لپاره ترې باج غوښتلو. انګريزانودا خبره په سر کې نه منله او هڅه يې کوله چې د پېسو ورکولو دا سيستم بند کړي. خو ورته وويل شول چې په دې لاره يو ځواک هم مفت نشي تېرېدی. اخر انګريزانو پېسو ورکولو ته غاړه کېښوده او د کابل او جلال



اباد تر منځ غلجو ته د کال اته زره(۸۰۰۰) پونډه ورکړل کېدې. دا يې د مرستې يا سبسيډي (مراعات) په نوم يادولې.

د ختيځ هند کمپنۍ (ايسټ انډيا کمپنۍ) کار تجارت و او د دې مشرانو به تل خپلې ګټې او تاوان ته کتل. د نولسمې ميلادي پېړۍ په نيمايي کې په کابل کې ميشتو انګريزانو له خوا کمپنۍ ته داسې راپورونه ورکړل کېدل چې افغانستان دوی سره خوندي و او د روس خطر نه ليدل کېږي. د بريطانيې حکومت هم په دې ډاډه شو چې کابل کې د دوی لوی شمېر پوځ ته هېڅ خطر نشته. هم هغه وه چې کمپنۍ د هغو پېسو د بندولو فيصله وکړه چې قبايلو ته يې د سبسيډي په نوم ورکولې. په کابل کې ميشت د بريطانوي حکومت استاځي هغه ټول قبايلي مشران کابل ته راوبلل او د کمپنۍ دا فيصله يې ورته اعلان کړه چې دوی ته به نورې پېسې نه ورکړل کېږي. په ۱۸۴۱ م د اکتوبر په مياشت کې هغه ټول قبايل چې پېسې پرې بندې شوې وې، په باميانو کې د محمد اکبر تر بيرغ لاندې راټول شول او د انګريز پرضد د جهاد ناره پورته شوه. بل کال انګرېز پوځ د افغانستان نه په بد حال ووتلو او به زرګونو کسان يې لاره کې ووژل شول. د دوی په وژلو او لوټلو کې زياته ونډه هم قبايلو واخيسته.

د دويم افغان انګرېزجګړې پر وخت چې په ۱۸۷۹ م کې پېل شو او بل کال پای ته ورسېدو، قبايلو د بريطانيې د پوځ درې واړو برخو سره چې په کندهار، کرمه او خيبرد لارې ورتللو د لارښود، ملو او د منځګړو په

حیث مرسته کوله. انګریزانو ورته د لارې باج او نور امتیازات منلي وو. انګریزانو کله چې په علي مسجد کې د افغان ځواک قوماندان فیض محمد د بېرته تګ لاره بنده کړه، یو زخاخیل اپریدي ملک ولي محمدخان د دوی مرستې ته لاړو، له دې یې خلاص کړل او په غرونو کې یوې بلې لارې نه یې خوندي وویستل. خو په دې لاره زخاخېلو د هغو عسکرو نه اته سوه(۸۰۰) ټوپکې وشوکولې. بیا هم ولي محمد د خپل خدمت په بدل کې د کابل واکمن نه د انعام اخستو لپاره ورغلو او وروسته یې بیا د انګریزانو سره لاس یو کړو. انګریزانو ټخپلو قبایلي ملاتړو کې ولي محمد د یو مهم کس په توګه ومنلو او له هغه نه د نور کار اخیستو لپاره یې ورته ښې ډېرېپیسې ورکړې.

په خیبر کې ټولو قبایلي مشرانو د " کرم میداني ځواک " په نوم د انګریز ډلې چې مشري یې جنرال فریډریک رابرټس کوله، لاره ښودله او له دې سیمې تر افغانستان ورسره بدرګه تلل. د دویم افغان جنګ نه وروسته انګریزانو د افغانستان نه د وتلوفیصله وکړه نو امیرعبدالرحمان یې د کابل امیر وټاکلو. په ۱۸۹۳ م کې انګریزانو د امیرعبد الرحمان سره دا تړون کړی و چې د ډیورنډ کرښه به د دواړو ملکونو ( بریطانوي هند او افغانستان) تر منځ یو رسمي سرحد وي. د دې هدف هغه وخت د روس او هند تر منځ یو داسې نااړونده سیمه ساتل وو چې دوی "بفرزون" بلله. د تړون مسوده د کابل له خوا تصویب شوه. د هند د وېش او د پاکستان د



جوړېدو نه وروسته د افغانستان یو حکومت هم د ډیورنډ کرښه نه ده منلې. خو په رسمي توګه دا د پاکستان او د افغانستان تر منځ یو منل شوی نړیوال سرحد دی.

د خیبر پښتونخواپه صوبې کې د ۲۵ ضلعو (ولسوالیو) نه علاوه د دې زمکې سره نښتې شپږ قبایلي سیمې هم دي چې د پېښور، کوهاټ، بنو، لکي مروت، ډېره اسمعیل خان او د ټانک، ضلعو سره یو ځای اداره کېږي.

د دې نه علاوه،اوو۷ایجنسۍ دي چې باجوړ ایجنسي، اورکزیایجنسي، مهمند ایجنسي، خیبر ایجنسي، کرم (کورمه) ایجنسي، شمالي وزیرستان ایجنسي او جنوبي وزیرستانایجنسۍ نومېږي.له باجوړ تر جنوبي وزیرستان دا په زرګونو مربع میله قبایلي سیمه یوې خواته د ډیورنډ په کرښه د افغانستان او بل اړخ ته د خیبر پښتونخوا سره تړلې ده.په جنوب کې د وزیرستان ایجنسۍبیاد پښتنو د شیراني او مندوخېلو د سیمو سره تړلې ده.

د پېښور لویدیځ او د کابل جنوب کې د تېرا غرنۍ سیمه په شنو ځنګلونو پټه ده. دا د کورمې سیند په ختیځ او د اورکزواو کوهاټ په شمال کې د څو لوړو او ټیټو غرونو نه جوړه دره ده. دلته سپین غر په اصل کې څو غرونه دي چې لوړه څوکه یې په تېرا کې د مورګۍ په نوم یادېږي. د دې نورې غونډۍ خپل خپل نومونه لري. هم دغسې د تورغر په نوم د غونډیو سلسله ده چې یو ځای "سمانه" نومیږي او دغه څوکه یې د کوهاټ او د تېرا په منځ کې ده. د دې سیمې په میدانونو کې وړې ژمی

دواړه معتدل وي خو په غرونو کې یې واورې کېږي او په ژمي کې سخت ساړه وي.

د پښتنو یو متل دې چې " د خپلو نه پردي ښه دي، او د پردیو نه اپریدي ښه دي" که دا ریښتیا وګڼو نو ممکن د اپریدو په اړه شک پیدا شي چې دوی پښتانه دي او که نه؟ د دوی د نسل په اړه هم افسانې جوړې دي او ځینې یې د سکندراعظم ( ٣٢٨ ق م ) د یونان د پاتې وګړو اولاد ګڼي. تر اوسه په دې موضوع سمې ساینسي څېړنې نه دي شوي خو د دې قام په اړه څه چې بهرنیانو لیکلي دي، په هغې هم مونږ باور نشو کولی.

د پښتنو د شجرو پر اساس اپریدي قبایل کرلاڼي پښتانه دي او په اتو څانګو وېشلي دي چې ادم خیل، ملک دین خیل، کوکي خیل، زخا خیل، اکا خیل، قمبر خیل، کمرخیل او سپاه نومېږي. په دوی کې ادم خیل د پېښور او کوهاټ تر منځ سیمه کې خپاره دي او نور په تیرااو خیبر (ایجنسي) کې میشت دي. که څه هم پارسي او اردو ژبو کې د دې قام لپاره " افریدي" توری کاریږي خو پخپله دوی ځان ته " اپریدای" وایي. دا د یوناني مورخ هیرودوټس د " اپریتا" سره ورته دی چې ذکر یې پخپل کتاب" تاریخونه" کې کړی دی او ځینې تاریخ پوهان یې هم دغه اپریدي ګڼي.

د اپریدو لپاره د خیبر او د کوهاټ درې، دوه مهم ځایونه دي. د دې لارې باج به تل اپریدو او شینوارو اخیستو او د ژوند لپاره هم دغه یې



لویه وسیله وه. نن سبا دې ته " روډ ټیکس " وایي چې په هر ملک او حکومت کې یو قانوني او روا کار ګڼل کېږي. هند نه د مغلو تګ راتګ به په دې لاره کېدو او کله هم دوی د پېسو ورکولو نه ډډه وکړه نو شاهي قافله به یې لوټ شوه.

د ادم خېلو دره هم د لرغونو زمانو راهیسې د کوهاټ او د پېښور تر منځ د تګ راتګ لاره وه. دا د پېښور نه اتلس(١٨)او د کوهاټ نه اووه میله په فاصله پنځلس میله اوږده ده. د درې دواړو غاړو ته د دریو نه پنځه زره فټه لوړد غرونو څوکې دي. د ادم خېلو د څانګې، ګلي خیل او نور واړه قامونه چې په دره کې میشت دي، زرغون خیل- شیراکې- بوستي خیل- سني خیل- شپلکي وال او کوهي وال نومېږي. د دوی سره په بره غرونو کې تورسپري او د حسن خېلو دوه څانګې اخور وال او ګدیا خیل میشت دي. په ادم خېلو کې یو ځای " زوړ کلی" نومېږي چې د روایاتو تر مخې پکې زرغون خیل او شیراکباوسېدل. خو کله چې د خلکو شمېره زیاته شوه نو دوی ورو ورو د لویې لارې سره نږدې د خپلو کورونو په جوړولو لاس پورې کړو. بوستي خیل د شیراکو د توربورانو اولاده وه او وراندې په څو پښو(ټبر) کې وېشلي دي چې یوه پکې " یونس خیل" نومېږي.

د دې سیمې د نفوسو شمېرې نه دي څرګندې خو د شلمې پیړۍ تر پایه په ادم خېلو کې لس زره (١٠٠٠٠) کسان میشت وو چې دوه نیمو

زرو(۲۵۰۰) ځوانانو يې وسله لرله. د انګريزانو په وخت کې به د دره ادم خېلو ترمنځ تېرېدونکې يوه کچه لاره وه او په ۱۹۰۱ م کې دلته د يو څو اهنګرانو (اوستکارو) هټۍ وې. د نولسمې ميلادي پېړۍ د پېل نه انګريزانو په هند کې خپلې پښې ټينګې کړې او سکانو ته په ماتې ورکولو د پښتونخوا غرونو ته هم ورسېدل. په ۱۸۴۹ م کې دوی د ادم خېلو د لارې نه تګ راتګ لپاره د دې ځای د کلي خېلواو حسن خېلو سره يو تړون وکړو. د دې تر مخه دواړو قامونو د لارې د خوندي ساتلو لپاره د انګريزانو نه د کال ۵۷۰۰ روپۍ اخيستې. دا ټولې پيسې به د هر قام په تېر برابر وېشل کېدې.

د ادم خېلو د درې نه وراخوا د کوهاټ ښار د انګريزانو نه وړاندې د سکانو په لاس کې و او له دې ځايه به يې د اپريدو سره جنګونه کول. د انګريزانو لپاره هم د افغانستان سره جوخت دا يوه مهمه پوځي چاوڼۍ وه. دلته د دوی لوی وسله تون (بارودخانه) و او د شاوخوا قبايلي سيمو د وړو جنګونو او جګړو لپاره به يې ترې وسله وړله. د پېښور نه وړاندې انګريزانو دلته د جنګي الوتکو لپاره يوهوايي ميدان جوړ کړې و. کوهاټ د انګريز پوځ د سرحدي ځواک د کنډک مرکز (فرانټير فورس رجمنټل سنټر) و. د هند د وېش نه وروسته، دا مرکز ايبټ اباد ته ورانتقال شو. په دې چاوڼۍ کې د انګريز افسرانو لپاره، په يو قطار کې ښکلې بنګلې جوړې وې چې مخې ته يې شنه چمنونه او ځايځای ونې کرل



شوې وې.

سل کاله پخوا د وچو غرونو په منځ کې کوهاټ لکه د يو نخلستان ښکارېدواو د غوزانو، توتانو او د هندي اينځرو ونې پکې ډېرې وې. يو ځای د ونو په منځ کې د "حاجي بهادر بابا" زيارت و چې خلک ورته د مراد او نذر لپاره ورتلل. دا زيارت اوس هم شته. د نولسمې ميلادي پېړۍ په وروستيو کې دلته ورغلي يو انګرېز د کوهاټ چاوڼۍ حال په تفصيل سره ليکلی دی.

هغه وايي دلته " درې رجمنټ د پياده عسکرو، يو د اس سوارو، يو غرنۍ بېټرۍ او يو د چاوڼۍ بېټري ده. ټولټال درې نيم زره (۳۵۰۰)عسکر پکې پراته دي. دا ټول د فرانټير فورس يا د مليشه رجمنټ دی چې په پنجاب کې د "پفرز" په نوم يادېږي. د چاوڼۍ کورونه واړه او ورسره باغونه د هغې نه هم واړه دي. ځکه دلته د باغبانۍ دومره موقع نه وي او سنټريان چې د شپې پهره ورکوي، د ګلونو په هرې ګملې نظر نشي ساتي. هر هغه څه چې د الوچې هرمره غټ بوټي لري، د دې غلو د لاسه يې بايد خوندي کړي."

په چاوڼۍ کې يوه ودانۍ داسې وه چې لويه کوټه يا هال يې لرلو. د اړتيا پر وخت دا به کليسا شوه او کله کله به يې د ډرامو او د نڅا لپاره ترې کار اخيستو. دې سره يو کتابتون هم و چې څو الماريو کې يې کتابونه لرل. يو لوی شين مېدان و چې چاپېره ترې د لرګي د تختو جالۍ دار دېوال راتاو و.

د اړتیا په حساب دا میدان به کله د ریکټ د لوبې، ټېنس، کرکټ، پولو او د اس د ځغاستې لپاره کارېدو. د ورزش، ماځیګر چایاو د پوځي بېنډ د غږولو لپاره به هم دغه مېدان نه يې کار اخیستو. د دې نه وراخوا د افسرانو لپاره لنګر (مېس) و چې درې وخته ډوډۍ به پکې خوړل کېدل. یواځې هغه پوځیان به ورتلل چې هم هلته مېشت وو. خو د داسې کسانو شمېره به لږ وه ځکه زیات انګرېز افسران پخپلو کورونو کې اوسېدل. د کوهاټ په چاونۍ کې هېڅ ناآشنا کس ته د ورتلو اجازه نه وه او دلته شپه او ورځ هغه ځواک به پهره (ګزمه) کوله چې پفرز نومېده. که یو مېلمه دې چاونۍ ته ورتلو نو هر چا چې ورغوښتی و، باید هغه ورسره تر بهر بدرګه لېږلی وای ځکه محافظانو ته ویل شوي و چې په ناآشنا کس به بې دریغه ډز کوي.

انګرېزان خبر وو چې پښتنانه ډېر مېلمه پال خلک دي خو په هغوی يې باور نه کاوه. کوهاټ ته ورغلی یو انګریز لیکي،" د چاونۍ نه وراخوا بدمعاشان د خپل بزنس په وخت بیا د میلمستیا دود په نظر کې نه نیسي. کېدېشي چې مړ دې نه کړي ځکه د یو صاحب وژل دوی ته ګټور نه دي. هسې هم د یو انګرېز کافر د وژلو پر ځای دوی د ۹۹ ښو پښتنو په اړه زیاته اندېښنه لري. خو دوی به هر هغه څه ترې شوکوي، چې ځان سره يې وړلې شي. دوی د دومره محافظانو سره هم، د کمشنر نه اسونه او لفټینټ ګورنر د کمپ نه اوښان یوړل. د پېښور د بارکونو نه ټوپکې



غلا کول د دوی عادي کاروباردی. هم هغسې لکه چې دوی د کلي نه خپلې غواوې یا پسونه وړي.

د کاروباري سړي یا هندو نه د هغه یواځینی زوی وتښتوي. هغه چې د خپل ماشوم غوږ یا د بدن یو غړی ترلاسه کړي نو بونګه ( تاوان پېسو) ورکولو ته غاړه ږدي. د ډګرمن د بالبنت لاندې نه د تماچې ویستل او یا د ډسټرکټ افسر (ولسوال) د خېمې نه هر څه يې داسې په هنر یوړل چې د هغه د کټ چاپېره قالینه يې هم پرېکړې وه. د یو پولیس افسر د خېمې نه بهر ساتندویان هم ولاړ و، غلو د هغه او د مېرمنې جامې يې پداسې وخت کې یوړې چې دواړه ویده وو."

داسې ښکاري چې انګرېزانو د نوي راتلونکو افسرانو د وېرولو او یا د ټوکو لپاره داسې پېښې نورې هم په خوند یو بل ته کولې او ځینې يې لیکلي هم دي.

یوه کېسه يې داسې بیان کړې ده" د کوهاټ د چاونی په منځ کې محافظان ګرځي راګرځي او هر څوک چې ناشنا کس ووینې نو ورباندې ډز کوي. په دې حالت کې یو چا پوره خېمه له ځانه سره یوړه چې د دوی د هنر مندی یوه بېلګه وه. محافظان هم عام خلک نه دي، دوی غټ بوټان په پښو کړي وي او د پښو په دربولو یو خوا بل خوا څرګند ګرځي. په لاس کې يې یو غټ غوږ کوتک وي چې په تیاره کې برېښي او د هغو غلو لپاره لکه د ملګرتیا یو خبرداری وي چې یرغل ته يې زړه ښه کړی وي."

د پفرز په نوم محافظان به یا د دېوال شا ته ولاړ وو او یا بیا په وړو ډلو کې به هغه ځای ته ورتلل چې ترېنه د چا د راننوتلو خطر و.

" هره ورځ سهار داسې راپور تر لاسه کول یوه غیرعادي خبره نه ده چې، دوه بدمعاشان تېره شپه ووېشتل شول او یو درېیم په زخمي حال کې وتښتېدو. د سهار په خړه کې که بهر وتلې یې نو ښه خبره دا ده چې محافظانو ته ژر خپل ځان وروپېژنې او د پېښور په دود عمل کول له هر څه غوره دي چې پر زمکه پریوزې او په چیغه ووایې چې- ملګری یم."

د کوهاټ په دې چاوڼۍ کې د"کاویناري" بنګله په افغانستان کې د انګریزانو د ځپل کېدو یوه علامه وه. کاویناري په ۱۸۷۹ م کې د امیر محمد یعقوب خان سره د ګندمک تړون لاس لیک کړی و. بیا په کابل کې د برطانوي حکومت د استازي په توګه میشت و چې په سفارت یې د عامو خلکو او د افغان پوځ حمله وشوه او دی د خپلو ملګرو سره هلته ووژل شو. د ده د ویاړنې لپاره د کوهاټ د پوځیانو د مشر بنګلې ته د هغه نوم ورکړلشو. د وېش نه وروسته په دې کور کې د کوهاټ د کمشنر مرستیال (ډپټي کمشنر) اوسېدو خو اوس پکې یوه کتابتون جوړ دی.

جواکې (ځینې خلک یې جاوکې یا ژواکې بولي) د کوهاټ په ختیځ کې د لوړو غرونو په منځ کې د یوې تنګې درې نوم دی. دا دره اتلس میله(۱۸)اوږده او یو ځای یې پلنوالیشپږ میلو ته رسیږي. دلته څو واړه واړه کلي دي چې سل کاله پخوا پکې کورونه جوړ وو. هغه وخت دلته



درې نیمو زرو(۳۵۰۰) کسانو ژوند کوو چې د هیبت خیل او قیمت خیل اپریدي وو. دلته یوه غونډۍ د "پیریانو کمر" په نوم شهرت لري او ډېرې کیسې یې زیږولي دي. خو د عجب خان کیسه تر ټولو په زړه پورې ده.

✦✦✦

دویم باب

# د شلمې پېړۍ پیل

د اګست د میاشتې په شپږمه نېټه ۱۹۰۰ کال کې د وزیرستان یوه لښکر د یو دیني شخص "میاجي" په مشرۍ په کشمېر کاټ (کاړ) کې په انګرېزانو برید وکړ، د دوی ۳۵ پوځیان یې ووژل او ۳۰ ټوپکې یې ترې یوړې. څومیاشتې وروسته هم هغه لښکر په "نېلی کاڅ"او د "خوږمې" په خوله کې په پرنګیانو برید وکړو او هم هغه هومره تاوان یې ورته واړوو. دغسې پښتنو په نورو ځایونو لکه ژوب، زام او د وزیرستان په بېلابېلو سیمو کې انګرېزاناندېښمن کړل.

"ملا پونده (پاونده) او ملاحمزالله د انګرېز پر ضد د غزا ناره پورته کړې وه. هغوی د پخلاینې لپاره دوی ته په ټانک کې زمکه او د سلو روپو(۱۰۰) ملکې (ملک کېدل) منلې وو. دواړو د انګرېز دا پیشکش منلی و خو څو میاشتې وروسته کابل ته ولاړل او بیا یې جنګ ته لاس واچوو. ملا پونده د خپل مرګ( ۱۹۱۳ کال ) پورې د پرنګیانو سره د جهاد څخه لاس وا نه خیست."

د شلمې میلادي پېړۍ د پیل راهیسې په ټولې نړۍ کې د لویو قدرتونو د استسمار پر ضد خلکو لکه د سمندر د څپو پاڅون کوو. په یورپ کې درې لویاستعماري قوتونه برطانیه، فرانس او ترکېه چې تر هغې یې د بلقان نه لاس نه و اخیستی، د یو بل سره په سیالی وو. د انګرېز هدف دا



و چې په عربانو کې د ملت پالنې جذبه پیدا کړي او دوی د ٤۰۰ کالو د عثماني ترکانو خلافت پر ضد راپاڅي. د عربو خاوره چې هغه وخت حجاز نومېده، د انګرېزانو د پوځي فعالیت مرکز شو.

دا هم هغه وخت و چې په اروپا کې مېشتو یهودانو د صېهونیت (زایونیزم) تحریک هم زور موندلی و او هغوی په فلسطین کې د اسرایل په نوم یو خپلواکه ملک د جوړولو لپاره غونډې او جلسې کولې.

خو د دې پېړۍ دویمه لسیزه د پښتنو په سیمه کې د "لوی لام" په نوم یادېږي. د ۱۹۱٤ م د جولاي په میاشت کې پیل شوی لومړی نړیوال جنګ څلورم کال و چې نهه میلیونه پوځیان پکې ووژل شول.

په دې جنګ کې برطانیه، فرانسه او روس ( وروستهامریکه او جاپان ورسره شول) یوې خوا ته او د مرکزي اروپا ملکونه جرمني، اسټریااو هنګري (وروستهعثماني ترکېاو بلغاریه ورسره مل وو) بلې خوا ته وو. دا جنګ لاپای ته نه و رسیدلی چې د انګرېزانو په ملاتړ په ۱۹۱٦ م د جون په ۵ نېټه په حجاز کې عربانو د ترکانو پر ضد یو پاڅون وکړو او مکه، جده او طایف یې ونیول. وروسته د فرانسې په "ورسایي" ښار کې د عربستان په اړه د روغې یو کانفرنس وشو. برطانې او فرانسې د کانفرنس په ترون کې د حجاز خاوره پخپلو کې ووېشله، امیر فېصل یې دمشق نه وشړلو او د اردن په نوم یو نوې ملک یې ورته ورکړو چې د برطانې په لاس کې و او لبنان د فرانسې تر اغېز پاتې شو.

د هند مسلمانانو هغه وخت د خلافت تحریک پیل کړی و چې په بله مانا د انګریز مخالفت کول وو. د برطانيې حکومت د هرې خوا نه تر فشار لاندې و. په ۱۹۱۹ م کې د افغانستان امیر حبیب الله خان ووژل شو او د ده زوی امان الله خان د انګریزانو نه خپلواکۍ اعلان کړه. ده غوښتل چې د پښتنو ټولې سیمې دې بېرته د افغانستان په خاوره کې شاملې شي. دا سیمې لومړی د ګندمک او ورپسې د دیورنډ د تړون له مخې انګریزانو اداره کولې. امیرامان الله خان قبایلو ته یو لښکر ورواستولو خو اخر په راولپنډۍ کې د انګریزانو سره د روغې تړون ته مجبور شو. په ۱۹۲۱ م کې امان الله خان د شوروي اتحاد سره د " ملګرتیا " تړون وکړو چې افغانستان ته يې د مالي مرستو نه علاوه، ټیکنالوجي او پوځي الاتو د ورکولو ژمنه وکړه. ولې د روسانو سره په اړیکو کې شخړې وې. ډېرو افغانانو په مرو(ترکمنستان) او پنجده (تاجکستان) کې د روسانو نه د خپلو زمکو بېرته اخستل غوښته. روسان هغه څه چې امان الله خان يې ژمنه کړې وه د هغې نه د زیاتو سیمو غوښتونکي وو.

د برطانيې دا خبره خوښه نشوه او په افغانستان يې اقتصادي بندیزونه ولګول. هغوی لیدل چې امان الله خان د دوی د اغیزې له حلقې په وتلو و. هغسې چې دوی په عربو کې د ملت پالنې جذبه پیدا کوله چې د ترکانو د جغ نه يې خلاص کړي، په افغانستان کې برعکس د یو ملتپاله باچا پر ضد يې خلک د اسلام او د ملاتوب د لارې راپاڅول.



په ۱۹۱۸ م د لومړي نړیوال جنګ په پای کې د کوهاټ ډپټي کمشنر کرنل چارلس ایډورډ بروس نومېدو. دی پخوا د بلوچستان رجمنټ د پیاده پوځ یو افسر و او وروسته د هند په ملکیخدمت کې شامل شو. د خیبر ایجنسی سیاسي استاځی (پولیټیکل ایجنت) میجر هربرټ کاب فینیس او د کورمې ایجنسی سیاسي استاځې میجر هییل نومېده. دوی د اورکزواو د اپریدو جرګې را بللې او د ښو اړیکو او ښه نیت د څرګندولو لپاره به يې ورسره د مراعاتو او د پیسو ورکولو لوظ وکړو. یو لوی هدف يې دا و چې نور قبایل هم ورته غاړه کېږدي. د کوهاټ چاونۍ هغه وخت د انګریزانو مرکز ګڼل کېدواود ادم خېلو د اپریدو لپاره داځای هم هغسې و لکه د شاتو د مچیو لپاره ګوره.

په ۱۹۱۹ م کې د ۲۶ او د ۲۷ نومبر په شپه د اپریدو یوې ډلې، د دیارلسم لانسر په ګارډ روم ( د ساتندویانو کوټې) حمله وکړه چې پکې یو ساتندوی ووژل شو. حمله کوونکو له ځان سره ۱۲۵ ټوپکې، اته دوربینه، پنځلس تورې او۳۱۷ کارتوس یوړل. په سرکاري رپورټ کې دا غلا مرزا علي قمبر خیل او د هغه دوو ملګرو کړې وه چې عجب خان هم ورسره مل و. نور کسان د زخاخیل، اکاخیل، جواکیاو د ځنګل خېلو نه و. د دې نه وروسته داسې د نورو پېښو یوه لړۍ ده چې ښايي ورو ورو زیات کسان په دې ډاکو کې شامل شول. په دې غرونو کې پښتنو قبایلو د انګریز شته والي ته په ښه نظر نه کتل او د دوی په چاونیو حملې مسلسل

کېدي.

د انګرېزانو د پولیسو رپورټ وايي چې په شلم اکتوبر ۱۹۲۰ م کې عجب خان د کوهاټ د چاوڼۍ نه دوه اسونه غلا کړل چې د تېرا یو ملا محمود اخونزاده ته يې ورډالۍ کړي. په دې کې یواس د کپټين سپارکس و. په دې کال د نومبر د څوارلسمې او پنځلسمې په شپه د کوهاټ د ضلع د طبي خدمتونو د مشر مرستیال لیفټننټ کرنل (ډګرمن) ټامس هاورډ فووکس پخپل کور کې ویده و. څو کسانو د ده په بنګله چپاو وکړو.په دې حمله کې کرنل فوکس ووژل شو او د ده میرمنه چې ټپي شوې وه، د خپلو ټپونو د لاسه شل ورځې وروسته د ډسمبر پر شپږمه ۱۹۲۰ م کې مړه شوه. پولیسو د دوی د قتل په تور عجب خان او د ده ملګري ونیول، محکمه (مقدمه) پرې وچلېده خو عدالت هېڅ ثبوت ونه موندلو او دوی يې خوشې کړل.

انګرېزانو اوس پوره باور لرلو چې د دې حملو او د وژنو تر شا یوه ډله منظم کار کوي او د سیاب، ګنډيالي، رازګير، بابري بانډې، غلام بانډې او په کوهاټ کې شیخانو، میر احمد خېلو، ځنګل خېلو، او محمد زو ورسره مرسته کوله.

دا منظمه ډله چا جوړه کړې وه؟ چاپي ملاتړ کاوهاو مشر يې څوک و؟ یو نوم چې د هرې ډاکې پر وخت دوی اورېدو هغه د عجب خان نوم و. په ډيوټۍ ولاړو ځينو کسانو عجب خان پېژندلو خو انګرېز د ده خلاف د



ثبوت په لټه و. په ۱۹۲۱ م د اپریل په دیارلسمه او څوارلسمه شپه عجب خان د کوهاټ په پوځي هسپتال (روغتون) کې د ۵۶ رایفلز په ایف ایف ګارډ چپاو وکړو چې پکې دوه سپاهیان ووژل شول او یو سخت ټپي شو. د ده لاس ته دوه ټوپکې ورغلې. له دې پېښې وروسته په سیمه کې د وسلې هره غلاو په پوځیانو هره حمله د عجب خان په نوم لیکل کېده. او په دې کار يې شهرت وموندلو.

په ۱۹۲۳ م د فروري په ۲۲ نېټه یوې ډلې د کوهاټ په پولیس لاین (مرکز) د وسلتون په ګودام چپاو وکړو او ۴۳ تهري ناټ تهري( ۳۰۳) ټوپکې يې ترې یوړې. د هر یو ټوپک بیه زر (۱۰۰۰) روپۍ وه ( په اوسنيو پېسو کې دا ممکن پنځه زره ډالره وي) انګرېزانو د دې غدۍ لپاره د خپلو مخبرانو نه کار واخستو. د کوهاټ د کاغذي کلي یو مفرورد خپل جرم نه وروسته په "سره میله" کې د غازي نومې کس ته پناه وړې وه. د ده یو ملګرې به د عجب خان سره ګرځېدو. دی خبر شو چې د وسلتون ټوپکې عجب خان پټې کړې وې. د ده لپاره موقع برابره شوه چې د دې معلوماتو په بدل کې انګریز ته خپل ځان سپین کړي. کومو خلکو چې انګرېزانو ته مخبري کوله، هغوی ته به يې پخوانی جرم معاف کړو. هغه مفرور د کوهاټ پولیسو ته ورغلو او نه یواځې د ده جرم معاف شو بلکه په انعام کې يې پېسې هم وګټلې.

د دې معلوماتو نه وروسته انګرېزانود قام مشران راوبلل او خبرداری يې

ورکړو چې که غلا شوې ټوپکې ورته بېرته ورنکړې نو د قبایلو د قانون سره سم پوره قام ته به سزا ورکول کېږي. د پوره قام سزا د ټولو کورونه سوزول یا ړنګول وو. خو د اپریدو مشرانو د دې پېښې د مسولیت اخستو نه انکار وکړو چې عجب خان د دوی سره څه تړاو نه لري. انګریزانو اوس د عجب خان د نیولو او د ټوپکو د رابرسېره کولو لپاره بځپله د عملیاتو فیصله وکړه. د کوهاټ ډپټي کمشنر د ځای پوځ د یو قومندان په ملاتړ د عجب خان په کور د چپاو پلان جوړ کړو.

د مارچ په ۵ نیټه ۱۹۲۳ م سهار وختي، د فرنټیر کنسټیبلري قومندان، اې. سي. هینډې سایډ د خپل یو سپاره لښکر سره په بوستي خېلو کې د عجب خان کلا محاصره کړه. دوی د عجب خان په کور ورننوتل اوتالاشي يې پیل کړه. د کور ښځو او ماشومانو ننداره کوله. قومندان هینډې سایډ نااميده شو اوغوښتل يې چې بېرته ولاړ شي خو نابېره يې سترګې په زمکه ولګېدې. هغه ته داسې ښکارېده لکه چې زمکه اړول شوې وه او خاوره يې تازه معلومېده. ده د هغه ځای د کنېستلو امر وکړو او اخر ۳۳ ټوپکې يې د خاوروله لاندې رابرسیره کړې. هم هلته دوی د کرنل فووکس ځیني شیان هم پیدا کړل چې په هغه پېښه کې د ده د لاس لرلو شاهدي يې ورکوله. داسې اټکل کېدو چې ممکن سلطان میر د هغه ډلې مشر و چې کرنل فوکس يې وژلی و. د پېښې نه وروسته سلطان میر د عجب خان په کورکې ایسار شویاو هغه ته يې د کرنل فوکس د کور



ځیني شیان ورکړي وو.

په کلي کې د ده څلور ملګري عالم خان، ملک کمال، شیر خان پنجابیاو الله یار سوماري يې ونیول او کوهاټ ته يې بوتلل. پوښتنه دا ده چې هغه وخت عجب خان او شهزاده خان چرته و؟

پښتانه لیکوالان وايي چې عجب خان ښکار ته تللی و اوشهزاده خان د جلال اباد نه بېرته په راګرځېدو، د پېښور په باجوړي محلت کې د خپلو ملګرو کره ایسار و. هم هلته دی بځپل کور د انګریز د حملې نه خبر شو.

انګریز پښتنو ته په جرګه کې خبرداری ورکړی و چې دوی به په هر حال خپلې ټوپکې بېرتهاخلي. په هغه سیمه کې د انګریزپلې لښکر یوه معمولي خبره نه وه او د دوی د خوځېدو نه وړاندې مخبرانو هم کلي ته دا خبر راوړی و.

د انګریز مخبرانو هغوی ته خبر ورکړو چې عجب خان د هینډې سایډ د تالاشي پر وخت کور کې و خو هغوی هلته د ده د ټبر دوه درې سړیو نه علاوه نور څوک نه وو چې دوی ونیول.

کله چې عجب خان د ښکار نه بېرته، خپل کلي ته ورسېدو نو له دې پېښې خبر شو. د کور میرمنو ورله پیغور ورکړو چې د ده د فعالیتونو له کبله نن دوی سر توري شوې. مور ورته سپکې سپورې وویلې چې عجب خان پرې وځورېدو. خو د هغه لپاره د پیغور نه زیاته دا خبره مهمه وه چې نیول شوي خپلوان د انګریز له بنده راخلاص کړي. هغه جیل نشو

ماتولې نو د یو انګریز د تښتولو پلان يې جوړ کړو. دا کار اوس هم کېږي چې د سر په بدل کې سر وي او د سړي په بدل کې سړي.

عجب خان څو ورځې د شهزاده خان سره د کوهاټ د چاوڼۍ چاپېره تاوېدو راتاوېدو چې يو انګريز وتښتوي او په بدل کې خپل کسان پرې راخوشې کړي. په ۲۱ مارچ ۱۹۲۳ م کې د چاوڼۍ د رايل ارټلري (شاهي توپخانې) دوه افسران چې د کمپني باغ نه د بالا حصار لوري ته په بايسکلونو روان و، يو ځای ورته دوه اپريديان راووتل او د ودرېدوخبرداری يې ورکړو. هغو دواړو خپل بايسکلونه پرځايپرېښودلاو په تېښته يې ځان له خطر وويستلو. د دې پېښې نه وروسته انګريزانو د خپلې چاوڼۍ د ژغورلو لپاره امنيتي ګامونه سخت کړل. ميکوين لاين (سړک) اوپه نورو مهمو لارو يې ساتندويان وټاکل چې هر وختې به ولاړ و. په چاوڼۍ کې د ګشت (ګزمې) لپاره يې له هنګو د دېرشو ځوانانو يوه اضافي ډله راوغوښتله. په ټولې چاوڼۍ کې هر وخت د ګشت کولو امر وشو. انګريزانو د بوستي خېلواو شيراکي خلکو ته خبرداری ورکړو چې که عجب خان بيا په سرکاري علاقه حمله وکړه نو د دې پړه به د ټول قام پرغاړه وي. د دې سره د دولت زو درې قامونو، فيروز خېلو، عثمان خېلواو بيزوټو ته يې هم ګواښ وکړو چې د هغه سره به مرسته نه کوي.

عجب خان خپل د کور ميرمنې او ماشومان په تېرا کې د اورکزو په سيمه کې ماموزو ته ورواستول او هلته د ده ملګرو سلطان مير او ميرک ورله



د اوسېدوځايځايری ورکړل. عجب خان اوس د لارې په سر څوک نه شو تښتولی نو هوډ يې وکړو چې په چاوڼۍ کې د يوې بنګلې نه به سړی وتښتوي.

ميجر(جګړن) ارچيبالډ جينراېلس د کوهاټ په چاوڼۍ کې د انګريز لوی پوځي افسر و. دې د سرحدي ځواکونو د لومړي رجمنټ (غونډ) قوماندان و او په لومړي نړيوال جنګ کې يې د ميړانې مډال هم ګټلی و. لږه موده وړاندې ده خپله ميرمنه ايلن ميري او اوولس کلنه لورمولي د انګلستان نه رابللې وې چې د ده په سرکاري بنګله کې ورسره ميشتې وې. د هغه بنګله د بريګيډ قوماندان د کور" فليګ سټاف هاوس " سره جوخت او هلته شپه او ورځ سخته پهره کېده. د ميجر اېلس د بنګلې سره يوه پوځي څوکۍ هم وه چې د دېرشو کسانو يوه دسته به هر وخت پکې په ډيوټۍ وه. د ده د بنګلې په يوه برخه کې هغه وخت يو کپتان (تورن) هاي لينډ ميشت و او په کور کې د سپي نه علاوه يو څوکېدار هم موجود و.

نيمه شپه تېره وه چې د ميجر اېلس کور ته څو کسان وردننه شول. تر اوسه چې مونږ څومره ليکنې ګورو، په هغې کې وايي چې يواځې عجب خان او د ده ورور شهزاده خان د ميجر اېلس په کور ورغلي وو. خو په اصل کې د هغې شپې په تښتونه کې د څلورو کسانو ونډه وه. دوه نور کسان حيدر شاه (د عجب خان زوم) او ګل اکبر نومېدل.

ګل اکبر د کور نه بهر څارنه کوله، نور درې واړه په کور کې وګرځېدل.

سرې يې پيدا نکړو نو د کټ نه يې يوه ښځه راپورته کړه. هغه اوولس
کلنه مولي اپلس وه چې مور کلکه د لاس نه نيولې وه او په انګريزي ژبې
يې ورته څه ويل. عجب خان شهزاده ته په قهر وويل، "غلې يې کړه!"
شهزاده خپل خنجر د هغې په خيټه کې ووهلو او د ښځې غږ غلی شو.
عجب خان او حيدر شاه مولي اپلس د کټ په څادر کې تاو کړه او بهر ته
يې وويستله. شهزاده د کوټې يوه وړه قالينچه د ځانه سره راواخسته. بهر
د بنګلو مخې ته پهره داران پخپلو کټونو ويده وو. داسې ښکارېدل چې
ممکن يو چا به دوی ليدلي هم وي خو سترګې يې پټې کړې چې که
وشورېدو نو وبه وژل شي.



دريم باب

## ظالم او مظلوم

په ۱۹۲۳ م کې د انګريزانو اټکل دا و چې عجب خان د پنځو دېرشو کالو و.
خو د شهزاده خان د خولې روايت دی چې د مولي اپلس د تښتونې پر
وخت، دی پخپله د دېرشو کالو و او عجب خان د څلوېښتو نه اوختی و.
د دې مانا دا ده چې عجب خان د ۱۸۷۸ او د ۱۸۸۰ م کلونو په منځ کې
"اخوردره" کې زېږېدلی و. خو د ده پلار حيدر خان د ملک کمال خان
موساخېلو په کلي کې ژوند کوو. د حيدر خان پلار محمد عظيم خان او
نيکه محمد کبير خان نومېدل چې د بوستي خېلو د يونس خېلو قام نه و.
په عمومي توګه د ادم خېلواپريدي د رنګه سپين، لوړ دنګاو شنې سترګې
پکې ډېر ليدل کېږي خو عجب خان ميانه قد او غنم رنګی و. هغو
خلکو چې دی يې په وروستي عمرکې ليدلی و، وايي چې دې خاموش طبع
انسان و. په شپاړس کلنۍ کې دی د سيمې د نورو ځوانانو په شان د
ټوپکو مينوال و.

شهزاده خان د ده نه لږ تر لږه لس کاله کشر، سپين، لوړ دنګاو په ۱۹۱۳ يا
۱۹۱۴ م کې د انګريز په ۱۳۰ بلوچ رجمنټ (کنډک) کې د سپاهي (عسکر)
په توګه ملازم و. په لومړي نړيوال جنګکې د دې کنډک ۱۳۰ پوځيانو د
رنګون (برما) په محاز له جنګانکار کړی و او د دې لپاره دا ټول کسان
پوځي محاکمه شوي وو. هر يو ته د لسو نه ترپنځلسو کالو پورې د بند

سزا ورکړل شوې وه. دوه کسان جمعدار خوشال خان مومند او خوشال خان اپریدي په دې جرم چارماري (د ټوپک په ډزو وژل) کړل شول. شهزاده خان او د ده نورو ملګرو ته په بکسر او هزاري باغ کې د څلورو کالو د بند سزا ورکړل شوه چې د دې د پورهکېدو نه وروسته يې خوشې کړل.

دا چې عجب خان خپله ځواني په کومو کارونو تېره کړه، څرګنده نه ده. د دره ادم خېلو د سړک ساتنه، ښکار او د سيمې د ټولو غرونو او په درو کې پلي ګرځېدل، هغه څو کارونه وو چې مونږ يې اټکل کولی شو. د عجب خان په څېرډېرځوانان داسې وو، چې هغوی د دې غرونو د هرې تيرې او د بوټي نه خبر وو. د دې سيمې جغرافيايي معلومات او د پښتنو ځوانانو د متبو زور دواړه د انګرېز پوځ د خدمتونو(مليشيه) لپاره پکارېدل. مليشيه ځوانانو ته به يې معاش، جامې، څپلې او ډوډۍ ورکول. هغه چې د عجب خان په څېر د سيمې نه خبر و، د " ګايډ" (رهنما) په رساله کې به يې کار ورکړو.

په ۱۹۱۹ م کې د ټل د جګړې ( دريمافغان انګليس جنګ) پر وخت کله چې جنرال نادر خان (د ظاهر شاه پلار) په قبايلو د حملې پلان جوړ کړو نو عجب خان د ده ملاتړ کوو. د غبار په تاريخ کې پخپله د عجب خان د خولې ليکل شوي دي.

" نادر خان د جنوب د جبهې قوماندان و. انګريزانو په دغو شپو ورځو کې



د سرحد د پښتنو مليشه د افغانستان د خلکو سره د جګړې په خاطر لومړۍ ليکې ته راليږلې وه. په ټل کې هم په دغو شپو ورځو کې چې د افغانستان جنګ روان وو، زيات شمېراپريدي پراته و او د ټل ساتنه يې کوله. نادر خان د دې لپاره چې اپريدي مقاومت ونکړي، نو زه يې ورولېږلم. اپريدو خبره ومنله، په ټل باندې چې کوم يرغل پېل شو، هغه د شپې و او مونږ چرګ بانګ (محال) ټل ونيولو. اپريدو پښتنو هېڅ ډول مقاومت ونکړو. مونږ د ټل په چاونۍ باندې د افغانستان بيرغ ودراوه او پرې ولاړو. پوره لس بجې وې چې نادر خان له يو شمېر نورو کسانو سره په داسې حال کې چې يو توپ يې په کچرهبار کړی و، راورسېدل او د ټل د فاتح په نامه ونومول شو."

ښايي عجب خان د ځاځيو او ځدراڼ قبايلو ته وسله خرڅوله خو د دې شواهد نشته چې ده هغه وسله د کوم ځای نه راوړه.

په ۱۹۱۸ م کې د عجب خان يو ملګری حيدر شاه نومېدو چې د کېمبلپور(اټک) اوسېدونکی و. دی د چا د قتل نه وروسته فراري شوی او په دره ادم خېلو کې د عجب خان سره يې پناه اخيستې وه. وروسته عجب خان ورته خپل لور ورکړه. د ده بل ملګرې ګل اکبرد جواکېاوسېدونکی و چې په عمر کې ډېر کم و.

د ۱۵ اپريل په سهار د انګريزانو په ټولو پوځي چاونيو کې دا خبر لکه د اور خپور شو چې د کوهاټ د چاونۍ نه يوه انګريزه ځوانه جينۍ تښتول

شوې وه. په هند کې میشتوانګریز ژورنالستهانودا هیښونکې خبرخپلو مجلو ته ورواستوو چې "وحشي پښتنو په انګریز بل ګوزار وکړو". د تحلیل کوونکو اندازه دا وه چې د برطانوي هند د دې لرې پرتې وحشي سیمې نه هیڅوک ژوندی بیرته نه راځي. د صوبه سرحد(خیبر پښتونخوا) انتظامي مشر (چیف کمشنر) سرجان میفي په پیښور کې میشت و. دی د انګلستان په رګبي کې په ۱۸۷۷ م کې زیږیدلی و. هم هلته یې زدکړې وکړې او بیا په ۱۸۹۹ م کې د ملکې خدمتونو (سول سروس) امتحان کې کامیابه شو. دې پخپل مسلک کې بریالی و او په ۱۹۱۶ م کې د هند وایسرای لارډ چیمسفورډ د سکتر په توګه هند ته ولاړو. چیمسفورډ ډیرسخت طبیعته او د هغه په وخت په ۱۹۱۹ م کې د امرتسر د ډلیزې وژنې پیښه وشوه چې د احتجاج په توګه د هند کانګرس ګوند د ۱۹۲۰ م د انتخاباتو بایکاټ کړی و. جان میفي دا هر څه پخپله لیدلي وو او کله چې په ۱۹۲۱ م کې د پیښورچیف کمشنر وټاکل شو نو په دې کې یې هیڅ شک نه لرلو چې دی په یو خطرناک وطن کې حکومت کوي. هغه داسې بااعتباره ځایي کسان ساتل چې د پیرنګیانو سره یې کارکولی شو. ده پښتو ژبه هم زده کړې وه او ځان یې عام ولس په خبره پوهولو. د ده د خدماتو په بدل کې ورته په ۱۹۲۱ م کې د انګلستان نوابي خطاب (سر) ورکړل شوی و. د کمشنر په توګه دا د هغه دنده وه چې د پیښې په اړه څه فیصله وکړي.



هغه وخت دومره ګنګوسې پیدا شوې چې د مېفي لپاره د دروغو نه د رېښتیااو بیلول ګران شول. په کوهاټ کې ډیر ژر د دې کار پړه په عجب خان واچول شوه چې د انګریزانو لپاره د توقع خلاف خبره نه وه. د سر جان میفي مخې ته دوه ستونزې وې. یوه داچې عجب خان او د ده ملګري ژوندي ونیسي، سزا ورله ورکړي او دویم مولي ایلس پیدا کړي. هغه خبر و چې د عجب خان نورملګري به تیرا ته ورځي.

په ۱۸۹۷ م کې سر ویلیم لاک هارټ لومړیاروپایي و چې په تیرا کې یو کال د اپریدو سره جنګیدلی و او ژوندی ترې تللیو. له هغې وروسته هر څوک چې ورغلي و، ووژل شول.

د تیرا پوله د افغانستان سره وه او د دې امکان و چې عجب خان له غرونو اخوا لاړ شي. د ده د نیولو لپاره انګریز خپل ځواک د ډیورنډ له پولې اخوا نشو ورلیږلی. د مولي د خلاصون په خبرو اترو ډیر وخت ضایع کیدواو داویره هم وه چې عجب خان هیڅ ونه نیول شي. جان میفي د څو کسانو نومونه په نښه کړل او هر یو سره یې جلا خبرې وکړې.

په دوی کې یو کس زمان خان د خیبر د سیمې یو قومي مشر و. هغه ته یې دا کار وسپارلو چې تیرا ته دې خبر ورکړي چې مولي ایلس ته دې هیڅ تاوان ونه رسیږي. بله دا چې په هیڅ شان دې هغه د ډیورنډ د پولې نه اخوا د افغانستان سلطنت ته یو نه سي. بل کس قلي خان ختک په کورمې کې د انګریز د سیاسي استاځي معاون و. هغه ته دا کار سپارل

شوی و چې د تښتوونکود پټېدوځای معلوم کړي او که امکان وي نو مولي اېلس ته جامې او د خواړو شیان ور ورسوي. قلي خان فیصله وکړه چې که د مولي اېلس څه درک معلومول غواړي نو پخپله او یواځې ځان به تیرا ته ورځي. دې په ۱۷ اپریل چې په هغه ورځ لومړۍ روژه وه، د پېښور نه روان شو. د مولي د تښتونې درې ورځې شوې وې.

جان میفي پوهېدو چې قبایل ښځو ته څه نه وايي نو یوه انګریزه ښځه يې هم تیرا ته د تلو لپاره غوره کړه. دا ښځه لیلیان ستارنومېدله. هغه د پېښور په مشن هسپتال ( د مسیحي پادریانو له خوا جوړ روغتون) کې د نرسانو مشره وه. د دې پلار ډاکټر ټامس وېډ په ۱۸۶۳ م کې د مشن هسپتال بنسټ ایښی و. هغه په ۱۸۸۲ م کې د انګریزانو د کلیسایو مبلغې، انا بلیک سره واده کړی و. دوې لوڼې يې لرلې چې لیلیان يې کشره وه. هغې د څه مودې لپاره په انګلستان کې خپلې زدکړې سره ته ورسولې او د یوې نرسې په توګه وروزل شوه نو د کلیسا د تبلیغ کارونه يې هم کول. بیا په پېښور کې د مشن هسپتال د جوړېدو پنځوس کاله پوره شول نو لیلیان پکې نرسه وه. په دې روغتون کې هغې د ډاکتر ورنن ستار سره وپېژندل چې د ۱۹۱۱ م نه يې دلته کار کوو او هغه وخت د روغتون مشر و. دوی دواړو په ۱۹۱۵ م کې واده وکړو خو دوه کاله وروسته د مارچ په ۱۷ نیټه د سهار څلور بجې د ډاکټرستاردروازه چا وټکوله او دوو پښتنوخواست وکړو چې د یو مریض د لیدو لپاره دې ورسره ولاړ شي.



هغه چې دروازه پرانسته نو دوی ډاکټر په چاقو ووهلو. وروسته هغه د خپلو ټپونو د لاسه مړ شو او د لیلیان دومره ناهیلې شوه چې د کال په پای کې مصر ته ولاړه. لومړۍ نړیوال جنګ په زور کې و او دا تر یو کال هم هلته د قاهرې سره نږدې د برطانوي هند په پوځي روغتون کې کار کوو. لومړی جنګ چې پای ته ورسېدو نو دا په انګلستان کې خپلې مور لیدو ته ولاړه. هلته په وړو وړو غونډو کې به لیلیان د خپلو تجربو په اړه خبرې کولې. یو وخت د انګلستان باچاو ملکې هم د دې خبرې په خوښی واورېدې.

په ۱۹۲۰ م کې د کلیسا د مبلغینو ټولنې میرمن ستار ته اجازه ورکړه چې دا دې بیاپېښور ته ولاړه شي. هغه وخت د صوبه سرحد په کلیو کې ښځې او ماشومان د میرمن ستار له نوم سره بلد وو. هغې به په کلیو کې خلکو ته روغتیایي مرستې رسولې چې دا يې د ژوند هدف ګرځېدلی و.

د ۱۹۲۳ م اپریل په میاشت کې د پېښور په مشن روغتون کې ٤٤ مریضان بستر و او کله چې د مولي اېلس د تښتونې خبر خپور شو نو د قبایلي سیمې ټول مریضان له ویرې هلته نه ووتل. خو دا خبره هم په شک کې ده چې ایا دوی د هغې خبر په اورېدو ولاړل او که د روژې د پیل له کبله يې روغتون پرېښودو. په اتلسمه نیټه میرمن ستار خپل د ورځې په کارونو بوخته وه چې یو پیاده ورته خبر ورکړو چې د ګورنرهاوس (والي استوګنځای) نه ورپسې موټر راغلی دی او والي ورسره لیدل غواړي.

لیلیان ستهار ورغله او د جان میفي سره یې ولیدل. د هغه له خولې خبره شوه چې ښایي مولي اېلس په تیرا کې د خانکي په وادۍ کې وي. خو تر هغې پولیس او پوځ د عجب خان د لارې درک نه و موندلی. جان میفي ترینه پوښتنه وکړه چې ایا هغه د مولي اېلس په موندلو کې ورسره مرسته کولی شي؟ لیلیان ورته " هو" وویل او بېرته چې روغتون ته راغله نو هېڅوک یې خبر نکړل. جان میفي ورته خواست کړی و چې دا خبره له ټولو پټه وساتي. په هغه شپه میرمن ستهار د سفر تیاری وکړ. خپل بکس کې یې جامې او بل بکس کې یې د داروګانو او د طبي مرستو سامانونه کېښودل. په بله ورځ سهار دا د جان میفي سره د سړک د لارې، په پنځو ساعتونو کې هنګو او بیا د هغه ځایه د شینوارو کلا ته ورسېده.

په کلا کې میشت انګریز افسر په دې راضي نه و چې په دې دومره خطرناک سفر یوه ښځه ورواستول شي. ترهغې دا ثابته نه وه چې عجب خان مولي اېلس، خانکي ته وړې وه. بله دا چې هلته د تلو لپاره لیلیان باید د قبایلو د پنځو سیمو نه تېره شوې وای چې د اکاخېلو، علي خېلو، علي شیرزو، خدازو او منوزو په لاس کې وو. د هر یو قام د زمکې نه تېرېدلو لپاره باید هغوی نه یې اجازه اخستې وې. دې ټولو قامونو ته د انګریزانو د تېرېدو خبر ورکړل شوی و خو دا باور نه کېدو چې هغوی به ورته اجازه ورکړی وې او که نه. د شینوارو په کلا کې د هر یو ممکن



خطر په اړه خبرې وشوې او په پای کې فیصله لیلیان ته پرېښودل شوه چې هغه تلل غواړي او که نه؟ هغې سره د پلي پوځیانو یوه ډله بدرګه ورتله خو د ډلې ټول کسان پښتانه قبایل وو. د دوی مشر مغلباز خان اپریدی د انګریزپوځ رسالدار او د کمشنر جان میفي شخصي معاون و. ده ډېره موده انګریزي هند په پوځ کې نوکري کړې وه او د مولي اېلس د ژغورونکې ډلې مشر و. لیلیان ستهارد کلا په غولي کې د مغلباز د ډلې هغو ځلوېښتوغړو سره د لاس روغبړ وکړو چې په ورین تندي دې ته کتل. لیلیان خپله فیصله وکړه چې دا به مولي پسې ارو مرو ورځي.

مغلباز خان میرمن ستهار ته خواست وکړو چې خپله خاکي ټوپۍ دې نه په سروي ځکه د لیرې نه هغه پکې د یو سړي په شان ښکارېده. که چا پرې د پیرنګي سړي شک وکړو نو یو ډز به ورته بس وې. لیلیان د خپلو جامو نه یوه لوپټه په سرکړه. هغې پخپل بکس کې د کټ ځادرونه، تولیې او د مولي اېلس لپاره هم جامې ایښې وې. که تښتوونکو ځای پرځای د پېسو یا د بونګې غوښتنه ترې وکړه نو د دې لپاره انګریز حکومت ورته د سرو زرو ٢٥سکې (پونډ یااشرفۍ) هم ورکړې وې. جان میفي په غرمه کې ورسره خدای په اماني وکړه. تر دې دمه د هند حکومت خبر نه و چې د مولي د خلاصون لپاره جان میفي څه پلان جوړ کړی و؟ هغه چې بېرتهپېښور ته راغلو نو خپل حکومت ته یې د دې خبر ورکړو چې د یوې انګریزې ښځې د خلاصون لپاره ده بله انګریزه ښځه

ولې ورواستوله. د رسالدارمغلباز خان سره د تېرا یو اپریدی صوبه دار عظیم الله خان او ملک خان زمان اپریدی هم مله و.

د مغلباز خان په مشرۍ د مولي اېلس د ژغورنې دا ډله کوزماسپښین په غرونو وختله او د یوې ویالې سره یې دمه وکړه چې اسونه یې اوبه وڅښي. دوی سره یو ملا چې عبدالحق نومېده، هم مل و چې د سیمې د نامتو ملا" ملا کاربوغه" زوی و. د کاربوغه ملا د انګریزانو پلوی او عجب خان یې درې ځلې په جومات کې غندلی و چې په دې سیمه کې لکه د مجرمانو یې چلند کوو. دا یې هم ویلي وو چې یوې ښځې ته تاوان رسول په اسلام کې ناروا کار دی. د ملا کاربوغه کشر زوی له وړاندې خانکې ته تللی و چې د وروسته راتلونکو لپاره لاره هواره کړي او د عجب خان په اړه معلومات راټول کړي. دوی د ماځیګر لمونځ هم هلته د ویالې پرغاړه په جمع سره وکړو او بیا ماښام د روژه ماتي لپاره د "نعمت صلا" په کلي کې اېسار شول. د ملبشه ځوانانو دوه پسونه حلال کړل او ډوډۍ وخوړل شوه. د ماسخوتن لمانځه نه وروسته دوی د کلي خلکو نه د عجب خان په اړه پوښتنې ګرویرنې وکړې. خو دا کلی په غرونو کې دومره لیرې پروت و چې هلته خلک د سیمې د پېښو نه هېڅ خبر نه و.

د اپریل په ۲۰ د پیشمنې او د سهار د لمانځه نه وروسته د دې ډلې ټول خلک بیا په اسونو سپاره وړاندې روان شول. د هر یو کلي سره نږدې، یو چا به په دې ډله کې یوه اروپایي ښځه ولیده نو څو شېبې به حیرانه پاتې و.



ملا عبدالحق په لاره د هر یو قام سره د تېرېدو لپاره مرکې کولې خو په ځینو ځایونو کې د دې ډلې د تېرېدو لپاره دا خبره بس وه چې یوه میرمنه هم ورسره وه. کوم ځای چې دوی به د مشکل سره مخامخ شول نو هلته به یې د اسلام او د پښتنو میلمه پالنه راوننګوله. دا چې پښتانه ښځو ته تاوان نه اړوي او دا چې پیرنګیان د دوی په خاوره کې میلمانه دي او پښتانه ډېرمیلمه پال خلک دي.

په دویمه ورځ دا ډله یو ډېر لوړغر ته وختله چې خال خال کلا ګانې پرې جوړې وې. سپارو د پاړه چنارغرونه لیدلي شول چې سپینې واورې پرې ښکارېدې. ملا عبد الحق د دې ډلې په سر کې روان و او د ده په لیدو به ځینې کسان وروړاندې شول او لاس به یې ورته ښکل کړو. هم دغسې یو لاروي ورته خبر ورکړو چې مولي اېلس ژوندۍ وه او هغې ته هېڅ تاوان نه و رسېدلی. کله چې د هغه سړي نه پوښتنه وشوه چې دا به په کوم ځای کې ساتل شوي وي نو ده د خانکې لور ته اشاره وکړه.

✦✦✦

ځلورم باب

# د برامته داستان

مولي ایلس د خپلې تښتونې او د خلاصون ټول داستان وروسته د یوې روزنامچې (ډایرې) په شکل ولیکلو. ورسره په یوې نقشې کې هغه ټول ځایونه په نښه کړل چې دې پیژندل او یا یې نومونه اورېدلي و. په انګریزي کې ټایپ شوې د دې کېسې ژباړه داسې ده.

## په تیرا کې زمااېډوینچر

نیټه د اپریل څوارلسمه او کال ۱۹۲۳ م د شپې پاو کم دوه بجې وې چې د یوغیر عادي شي له کبله خوب مې ګډ وډ شو. کله چې پوره ویښه شوم نو داسې مې انګېرله چې په کوټه کې دوه ځایي کسان زما د مور سره په پرزونو (کشمکش) وو چې هغه د مرستې لپاره غږ ونکړي او یا دا یې په زوره بیوله. زما لومړی غبرګون دا و چې لاس او پښې وخوځوم او د دوی په لاس کې چې کومه رڼا وه هغه په بندولو کې بریالی شوم. خو ژر دوی بیا رڼا بله کړه چې ښایي له ځانه سره یې لرله. په دې رڼا کې مې خنجر په لاس، یوسړی ولیدو. موږ د داسې وحشي خلکوپه اړه ښه خبر وو چې که لږ مشکل مو ورته جوړ کړو نو دا (خنجر) به وکاروي. د دې پاره نورې هلې ځلې بیکاره وې. بله دا چې تر هغې یې زه د دواړو لاسونو نه کلکه نیولې او د کټ بل سر ته راښکلم نو زما لپاره امکان پاتې نشو چې څه مې کړې وې.



که څه هم د دې لیکنې پر وخت د هغې پېښېدو وخت تېر شوی دی، خو ښخوا له دې چې زه په ځان پوهېدلې، له کوره بهر وم. هغو دواړو سړیو زه د اوږو نه کلکه نیولې او په زوره یې کله په راښکلو او کله په پورته کولو، د سړک او بیا د بنګلې مخ ته جوړ د فوټبال میدان ته وروستلم. د فوټبال په میدان کې یې په منډه کړم او تر څو چې د هاکې میدان ته رسېدو نو بیا ورو روان شو. له هغه ځای موږ جنوب لوري ته مخه کړه او په ځنګله کې یوې تنګې لارې نه سړک ته راووتلو چې لویدیځ ختیځ ته تللې وه. هلته یې له خنډه موږ د سړک نه پورې غاړې ته بیا ځنګل ته ورغلو.

زه یې هغه وخت په اوږه پورته کړې وم چې ژر مزل وکړو. ډېر وخت هم دغسې روان وو، ان چې کرل شویو پټیو ته مو لاره پیدا کړه. له دې چې تېر شو نو د اورګاډي د پټلۍ څنګ ته جوړ دیوال مې وپېژندلو چې څو وارې د اس د ځغلولو پر وخت مې لیدلی و. له دې ځایه موږ شمال ختیځ ته مخه کړه اودوه تیزې رڼاګانې مې ولیدې چې ورسره نږدې دوه ځایي کسان پخپلو شړیو کې تاو ویده وو. له دې وروسته موږ د یوې ویالې نه تېر شو چې اوبه یې ختېځې وې او د خوشال ګړ عمومي سړک ته راووتلو.

( له دې ځایه زما دتګاندازه تاسو په هغه نقشه کې کولی شئ چې د دې لیکنې سره مله ده)

د سړک بلې غاړې ته یوه بله ویاله وه او نږدې زمکه کرل شوې وه نو زه یې ښکته کړم چې پخپلو پښو تګ وکړم. تګ خو نه و، منډې مو وهلې،

تر هغې چې د کوهاټ په شمال کې د غره لمنو ته ورسېدو. زمونږ مخې ته هېڅوک رانغلل خو کله چې شا ته مې کتل نو د کوهاټ د چاونۍ رڼاګانې ښکارېدې چې ترسپيده چاود مو ليدلې. هغه وخت مونږ يو ډېرين غر ته په ختلو پيل وکړ اود لمرد لومړيو وړانګو سره د دې غرڅوکې ته ورسېدو. هلته تم شو او د ورځې د تېرولو لپاره مو يو خوشې ځای وموندلو.

له هغه ځای ما د کوهاټ او پېښور سړک صفا ليدی شو چې ټوله ورځ پرې ګاډي تېرېدل، خو دومره نږدې ورته نه وو چې خلک مو په خپلو سترګو ليدلې وې. زما لپاره د لمر نه د پټېدو يوائينی لاره دا وه چې د يوې لويې تيږې لاندې پر ځان مې هغه قالينه وغوړوله چې زمونږ له بنګلې يې غلا کړې وه. تر هغه محال دوی راته د کتان يو نرې کوټ راکړی و چې ما د خپل خوب په جامو وراغوستو. زما په پښو يې د پټکي څو ټيکرې وتړلې چې د پوټکې د پرې کېدو نه يې ژغورلې وم خو پښې مې پړسېدلې وې.

په ټوله ورځ کې ما يو موټې کشمش او درې لوکاټ خوړلي وو. که څه هم مونږ د شپې په لاره د څو ويالو نه تېر شو او اوبه مې څښلې شوای خو، بې له اوبو مې ګوزاره وکړه. دوی زما ښارنه نه کوله او ښاييپوهېدل چې په هغه ملک کې زما لپاره تښتېدل ناممکن وو.

په هغه ماښام کله چې ستوري راښکاره شول نو مونږ مخ په ښکته لويديځ لوري ته بيا تګ پيل کړو او زما هيله پيدا شوه چې دوی مې بېرته خپل کور ته بيايي. کله چې مونږ د غره لمنې ته ورسېدو نو تم شو او يو تن



راسره يواځې پاتې شو. هغه بل په لسو دقيقو کې بېرته راغلو او په لاس کې يې د ګرمو پيولوښی او چپاتې، د غنمو کېک چې ځايي خلک يې خوري، نيولي وو. ما چې هر څومره پې څښلې شوې، راته يې راکړل او يو څه چپاتي مې وخوړې چې ډېره بې خونده وه، خو زه پرې مړه شوم. کله چې هوسا شو نو وړاندې ولاړو او د کوهاټ پېښور سړک ته چې ورسېدو نو زه خوشاله شوم. په دې سړک مونږ شمال لوري ته روان شو چې د کوهاټ مخالف لاره و. دوه سوه ګز تګ مو ورباندې وکړو او د سړک پر غاړه مې د فاصلې تيږه وليده چې په تياره کې مې لوستلې نشوه. دوی راته وويل چې دا د کوهاټ نه لسمه د ميل تيږه وه.

کله چې په ۲۴ نيټه، د خوشې کېدو نه وروسته، زه بېرتهپېښور ته روانه وم نو دا تيږه مې وليده چې هغه د فاصلې دولسمه تيږه وه. د دې تيږې نه سمدلاسه وروسته مونږ سړک نه وراخوا لويديځ لوري ته په يوه کچه ډېرينه لار روان شو. دا يوه اوږده دره وه او په لاره مونږ د څو کليو نه تېر شو، خو هېچا راته پام ونکړو چې وګوري مونږ څوک وو. نيمه شپه يو خر يې وموندلو چې په ورشو کې څرېدو. دوی خپل ټول شيان په خره بار کړل او دا يې په مخه کړو. سپيدې لا نه وې چاودې چې مونږ يو لوړغر ته ورسېدو. هغه وخت دوی زه په هغه خر سپره کړم او د دې لپاره مې ورته ډېره مننه وکړه ځکه ټوله شپه مې لس ميله مزل په پښو وهلی و.

کله چې د غر څوکې ته ورسېدو نو دوی هغه خرخوشې کړو او زه يې يو

وارې بیا پلي روانه کړم. هغه وخت لمر راختلی و او مونږ په یوې درې کې وو چې د تیږو تر منځ د اوبو چینه یې لرله. دلته مونږ ټوله ورځ واړوله او ما یو څه چپاتي د پاتې پیو ( شودو) سره وخوړه چې اوس تروه شوي وو.

د ارتفاع له کبله دومره ګرمي نه وه او د لمر د ډوبېدو نه وړاندې مونږ بیا روان شو. اول په لویدیځ کې یوې بلې غونډۍ ته وروختلو او هلته ناست ما چاپېره ټوله سیمه کتلې شوه. څه چې لومړی زما سترګو ته راغلل په جنوب کې هاغه غونډۍ وه چې د "زړې ښځې پوزه" نومېده. زه خبره وم چې دا غونډۍ د کوهاټ په شمال کې وه او دا راته څرګنده شوه چې زه هغه وخت په کوم ځای کې وم. خو دې معلوماتو راته ګټه نه کوله ځکه زه اوس هم د پخوا په شان له کوره لیرې وم.

مونږ هلته په انتظار پاتې شو ترڅو تیاره شوه او بیا په هغې درې کې مخ په ښکته روان شو. یو وړوکی سیند ته چې ورسېدو نو اوبه یې پاکې او رڼې وې. زه تږې ومه او سره له دې چې پوهېدم، دا د خطر وړ کار و خو هغه اوبه مې وڅښلې ځکه یو نه یو وخت خو به مې دا خطر په ځان منلو. بیا له دې سیند تېرشو او وړاندې ولاړو. یو څو سوه ګزه به مو قدم وهلی وچې ځینو کسانو راباندې غږ وکړو. دوی زه سمدلاسه د لوړې زمکې شا ته پټه کښېنولم او یو کس ورته ولاړو. د څه وخت لپاره مونږ هیڅ نه اورېدل او دی چې بېرته راغلو نو مونږ شمال لویدیځ کې یوې بلې لوړې غونډۍ ته روان شو. د دې غونډۍ په لمنه کې څو نورو کسانو پرې غږ



وکړو چې زما ټښتوونکي پرې وویرېدل او منډه مو واخیسته خو هغو خلکو نور څه ونه ویل. دوی به زه لیدلې وم خو داسې ښکاري چې ویې نه پېژندلم. د غره له څوکې مونږ بیا ښکته یوې درې کې روان شو چې هرې خوا ته یې کلي پراته وو. د نیمې شپې مونږ یو بل سیند (مستوره) ته ورسېدو چې اوبه یې په زور بهېدې. له هغې پورې ووتلو چې زما په نظر ځینو ځایونو کې ډېرخطرناک و.

اخر د سیند شېله مو پرېښوده، په یوې غونډۍ مخ په بره روان شو، په نیمایي کې یې تم شو او لږه دمه مو وکړه. تر سپیده چاودې د هغې څوکې ته ور وختلو او هلته د تیږو ورځو په څېر پر زمکه پریوتو او ښکته وادۍ ته مو کتل. دلته په هغو دوو کې یو تن (عجب خان) یو غرنی مرز وویشتلو. هلته دوی یو (درېیم) سړي سره خبرې هم وکړې چې ما ته یې سر سري نظر وکړو. له دې وروسته مونږ بیا روان شو، ان تر دې چې د څارویو د اوبو څښلو یو ډنډ ته ورسېدو. دلته نری باران پیل شو نو مونږ د څو ونو لاندې ایسار شو او تر لمرخاته هم هلته تم و. هغه وخت مونږ د درې لوړې ته ولاړو چې د ورځې ( اپریل ۱۶) د تېرولو لپاره یو مناسب ځای پیدا کړو او دا یو غار (سمڅه) وه. دوی د مرز نه بنډکې وویستې، دا یې په اور وریت کړو او ما ته یې د دې ښه غوښه راکړه. سره له دې چې دا غوښه د څرمنې په شان کلکه او زما غاښونو نشوه ژوولې، ما ترې خوند واخستو. پاتې ټوله ورځ کې نورڅه ونشول او ما د ویده کېدو

هڅه وکړه، ولې خوب نه راتلو. د لمر د ډوبیدو نه لږ وړاندې مونږ بیا د
دې ډبرین غر په لویدیځ لورې مخ په بره روان شو.
کله چې د غره څوکې ته ورسېدو نوتر لیرې مې دا سیمه لیدې شوه.
جنوب لورې ته د غرونو یوه اوږده لړۍ وه چې " د سامانا غاښې" نومیږي.
ما داځایپېژندلو چې د کوهاټ پاړه چنار سړک په شمال کې و. ښکته چې
کومه دره مو لیدله په هغې کې ښه کرونده شوې وه او یو دوه کلي هم وو.
پخوا له دې چې مونږ هغه درې ته ورښکته شوي وو، دوی زه د سر نه تر
پښو پټه کړم اود یو کس په اوږه یې بوتلم. په نیمایي لاره کې دوه ښځې
راباندې پېښې شوې او زما په اړه یې پوښتنې کولې. دویېړې خبرې
وکړې او ښایي زما تښتوونکو ورته قناعت ورکړو چې هغوی په خپله
مخه ولاړې. خو یوه پکې بیا راوګرځېده او زما د لیدو لپاره یې ټینګار
کوو. دوی له ما څادر لیرې کړو او ښځې راته سر تر پښو وکتل. کله چې
د هغې تسلي وشوه نو ورله اتانیز ورکړو. زما په اند هغه د دې لپاره و چې
بل چا ته حال ونه وایي. هغه ښځه په خپل مخ ولاړله او زما تښتونکي
دومره اندېښمن شول چې د کلیو نه د تېرېدو پر ځایاوږده لاره یې ونیوله.
د ماښام د تیارې سره باران پیل شو او زه وېرېدم چې د لارې د طرف نه
به نه خبرېږم ځکه سپوږمۍ نه وه او ما له ستورو اندازه لګوله چې کومې
خوا ته ورتلو. خو باران زیات نه ورېدواو اسمان ژر صفا شو. په هغه
شپه مونږ لویدیځ لورې ته د یوې وادۍ نه تېر شو چې لاره یې سمه او



هرې خوا ته یې کلي وو. د لمر خاته نه وړاندې (په ۱۷) زه یې یو کلي (زین
خیل) ته بوتلم او بې له دې چې چا لیدلې وې، مونږ د لرګي په زړو پوټیو
بره یوې کوټې ته وختلو، چې یو سړی پکې زمونږ په انتظار و. زه یې په
یو کټ څملولم، اېښېدلې هګۍاو الوګان د خوړولپاره او چای یې د څښلو
لپاره راته راوړل. دا مې په خوند وخوړل او وروسته یو څه خوب مې هم
وکړو. ما ټوله ورځ هم هلته تېره کړه او چې ښه تیاره شوه نو له دې کلي یې
په هم هغه لاره بېرته وویستلم چې په کومه یې راوستی وم. د شپې لومړۍ
برخه د نورو شپو په شان وه ( تګ مو کاوه) خو کله چې د درې نه راووتلو
نو بیا یو لوړ غره ته په ختلو مو پیل وکړ. په نیمایي لاره کې یو سپین
ږیری مو مخ ته راغلو چې څو شپې را سره بېرته روان و. بیا یو
ځایودرېدواو پخپل مخ ولاړو. د دې غونډۍ له سره هم هغسې ننداره وه،
پرله پسې غونډۍ وې چې هېڅ ځانګړې نښه یې نه لرله. ما له نږدې نه د
یو سیند د اوبو غږ اورېدواو ژر ورته نږدې شو چې د غونډۍ په لمنه کې
بهېدو. د سیند کاسه ډېره لویه وه خو اوبه یې لکه د نرۍ داړې په منځ کې
روانې وې. مونږ د دې سیند منځ ته ولاړو او د دې د اوبوسره سره مو
تګ وکړو. څو وارې له دې اوبو تېر راتېر شو. د اوبو نه د پورې وتلو پر
وخت دوی به زه رااوچته کړم خو هر وارې زه به لمده شوم. زما تلوسه
شوه چې دا تګ به کله ختمیږي. یو ځای شمال لویدیځ ته د سیند نه
وتلې ویالې سره تاوې شوې چې اوبه یې د بره غونډۍ نه رابهېدې.

په هغو غرونو کې ماپر زمکه سپینې نښې ولیدې او لومړی مې وګڼله چې دا به مالګه وي. خو کله چې ټوله زمکه مې سپینه ولیده او د یخ احساس مې وکړو نو پوهه شوم چې ښه ډېره واوره وه. ساړه ډېر وو او پر زمکه یخې تخته شوې وه. ښایي مونږ څه نا څه ۷ زره فټه له زمکې لوړ و خو تر هغې هم په واورو پوښلي هغه غر دومره لوړ وچې داسې ایسېده، چې څوکې ته به یې چرې نه رسیږو. خو اخر چې سر ته یې وختلو نو سپیده په چاودېدو وه ( ۱۸ نیټه) په دې سپینو غونډیو لمر ډېر ښکلیښکارېدو. چاپېره د زیاتو غونډیو پرټیټو لمنو د جلغوزو ونې شنې وې. دا یوه ښایسته ننداره وه او فضا دومره روښانه او له ژونده ډکه وه چې که څه هم د یخ د لاسه مې لاسونو پښو کې دم نه و او ډېره ستړې وم خو د دې په لیدو زه یو وارې بیا راتازه شوم.

مونږ لږ وخت دلته دمه وکړه او د هغې خوېې غونډۍ بلې غاړې ته مخ په ښکته روان شو. د دې په بیخ کې یو کلی ښکاره شو او هیله مې وه چې ګوندې مونږ به هلته لاړ شو خو دومره بخت مې نه و. مونږ د جلغوزو د ونو په یوې بلې غونډۍ ور وختلو چې د هغې یخوانۍ په پرتله ټیټه وه. د دې غونډۍ په سر ما هغه څه ولیدل چې په ژوند کې مې چرې نه و لیدلي. یوهښایسته دره چې زمکې یې کرل شوې تر میلیونو غځېدلې وه. د دې په منځ کې سیند بهېدواو پرغاړه یې خال خال کلي وو چې خپله خپله برخه کرلې زمکه یې لرله. په کومې غونډۍ چې مونږ ولاړ وو، د دې په لمنه کې



یې راته یو کلی په نښه کړو چې ډېرښایستهښکارېدو. راته یې وویل چې دوی به مې هلته وړي او تګ مو پیل کړو. د جلغوزو په دې ځنګل کې تګ خوندور او ما ته یې د انګلستان سپرلی را په زړه کړو. هلته ځنګلي بنفشه راټوکېدلې وه او زمکه د جلغوزو د ونو په ستنو (پاڼو) پوښلې وه. مونږ ژر له هغه ځنګله یو پراخ میدان ته راووتلو چې د کلي د پاسه و. زه یې په منډه له دې ځایټېره کړم او د یو کور د لرګي په پونیو بره کوټې ته وختلو. زه خبره نه وم چې څلورسترې کوونکې ورځې به مې پکې په انتظار تېرېږي.

دا کور دوه پوړیزه و چې یوه کوټه یې ښکته او بله د دې د پاسه جوړه وه. خو د بره کوټې یوې خوا ته بله وړه کوټه هم وه چې یوه وړه دروازه یې لرله. دا وړه کوټې یې ما ته راکړه چې ځان له پکې یواځې وم. په دې کې یوکټ و چې وربانډې توشکه او برستنه غوړېدلې وه. په دې توګه زه ارامه وم. د دې نه علاوه دوی د کوټې په منځ کې راته د لرګي د لیټکو نه اور هم بل کړی و، چې کوټه خو یې تودوله، ولې دومره لوګی به یې وکړو چې ساه به مې پکې نشوه اخستې. وروسته ورسره عادته شوم. بل شی چې ما ترې وغوښتل، خواړه وو. دوی راته چپاتي او الوګان راکول او وروسته یو ډبې د نارنجو مربه یې راوړل. په دې کې شک نشته چې دا ډبې به یې د کوهاټ ښار له یو دکان څخه غلا کړې وي.

ما درې ورځې دا خواړه د چایو سره خوړل. ښځو راسره ډېر ښه چلن

وکړو او د رارسېدو سره یې زما لاسونه او پښې ووینځلې. پاتې ورځې چې مې هلته تېرې کړې نو دوی به ټوله ورځ ما ته ځیرې وې. دوی له ویرې زه بهر نه پرېښودلم چې هسې نه پردي خلک مې ووینې. بله ورځ هم د تېرې ورځې په شان وه چې راباندې سخته تمامېده. په درېیمه ورځ دوی کاغذ، قلم او رنګ (روشنايي) راوړل او راته یې وویل چې د کوهاټ ډپټي کمشنر ته زما د خوشې کېدو لپاره د دوی شرایط ورته ولیکم.

په دې کې شک نشته چې ما ټول وخت هم دغه غوښتل خو تراوسه زه نه وم خبره چې دا هر څه یو چل او زما د تسلي لپاره یې غوښتل. ځکه زما شک و چې داسې لیکونه به د کلي نه بهر ورلیږل کېدې شول او که نه؟ زما لپاره دا یو خواشینونکې خبره وه او ډېر په ګرانه پوه شوم چې دوی څه غوښتل. زمااندازه ډېره ښه وه او دوی زما په لیکنه نه پوهېدل نو دومره پرواه مې هم نه وه. پاتې ورځ یې له څه پېښېتېره شوه. بله ورځ هم دغسې وه، سهار به ساړه وو او وروسته به ورځ توده وه.

د سهار لس بجې وې چې په دوی کې یو تن زما لپاره یوه وړه ټوکرۍ او دوه لیکونه راوړل. پخپلو سترګو مې باورنه کېدو خو لیکونه زما وو او ژر مې لفافه (پاکټ) پرانسته. یو لیک د هغه ټوکرۍ سره بدرګه و چې د دې د خوندي رارسېدو هیله پکې څرګنده شوې وه. بل لیک په کورمې کې د یو حکومتي چاروآکي قلي خان له خوا و. ده لیکلي و چې هغه زما نه ایله دولس میله لیرې او زما د خوشې کېدو پورې به هم هلته پاتې وي. ما



سمدلاسه څو لنډ لیکونه ولیکل چې هغه قاصد یې قلي خان ته ورکړي او دې یې زما له خوا ورانديوسي. بیا مې هغې ټوکرۍ ته پام شوچې پکې د درېیو څلورو ورځو خواړه او زما د اړتیا وړ جامې وې. ما جامې واغوستې او ښه خواړه مې وخوړل. په دې کې یو کتاب هم و چې پاتې ورځ مې په لوستلوتېره کړه، تر څو تیاره شوه او نور مې توري نه شول لیدې. بیا زه په دې هیله ویده شوم چې ژر به مې خوشې کړي او د بېرته تلو لپاره مې توان پکار و. د شپې لس بجې وې چې زه یې راوېښه کړم او د تګ لپاره د تیارولو یې راته وویل. ما ته یې وویل چې زه د یوې سپین پوست میرمنې ته تلمه خو باور مې نه کېدو، ځکه په دې ښه خبره وم چې زما تښتوونکي به راته هر دروغ ووايي. د دې لپاره چې زه ورسره د کور ته د تلو په هیله نوره هم لیرې ولاړه شم. که څه هم مونږ د شپې لسو بجو نه سمدلاسه وروسته له کلي راووتلو خو ډېر لیرې نه وو تللي او هم هلته د نیمې شپې پورې ایسار شو. زما نیوونکي څلورکسان وو او درې نور سړي هم راسره مله شول نو بیا روان شو. زه خبره نه وم چې دوی مې نور هم لیرې بیايي او که نه؟ د دې لپاره ما خپل ټول پام لارې ته وګرځوو چې دوی کوم لوري ته تلل. زه خوشاله شوم چې مخه مو جنوب لویدیځ ته وه او دومره پوهېدم چې هغه لاره ما د خپلو ملګرو سره نږدې کوي. مونږ پرله پسې په غرونوکې ډېر وخت مخ په بره روان وو چې زما په اند هم هغه لاره وه چې مونږ پرې راغلي وو خو اوس پرې واوره نه وه.

پە دې ټوله لاره دوی زه په اوږه یوړم، تر څو د غونډۍ بلې غاړې وادۍ ته ورسېدو. له دې ځایه مونږ جنوب لور یو لوی کلي ته ورسېدو چې "خانکې بازار" نومېدو. په تېره کې مو داسې کول چې د کلیو نه به بهر په بهر تېرېدو، خو دا ځلې مونږ نیغ د کلي منځ ته مخه کړې وه. یو لوی غولي ته ورننه شو چې دواړو غاړو ته یې دروازې وې. مونږ لس مینټه هلته په انتظار پاتې شو او یو سړې له یوې کوټې راښکاره شو چې مونږ یې د هغه مخ ته یوې بلې کوټې کې وردننه کړو. هلته یې زما لپاره کټ کېښودو. زه هېڅ نه پوهېدمه چې څه پېښېږي. دوی راته وویل چې هغه سپینه میرمنه هم هلته اوسېده خو ما نه لیده نو ځکه مې ځان سره پټیلې وه چې دا دروغ وو. شا و خوا نیم ساعت وروسته دوه سړي راغلل او یو پکې وویل چې دې قلي خان و او زه له برام تا خوشې وم. بل کس مغل باز خان د سر جان میفي شخصي معاون و. دوی دواړه د حکومت لوړ رتبه چارواکې دي او ښه انګریزي ژبه یې زده وه. ما ورسره اوږدې خبرې وکړې او دوی راته ټول حال وویلو، دا چې تر هغې روغه جوړه نه وه شوې خو زه خوندي وم ځکه زه د ملا په کور کې وم او هلته دواړو غاړو کې هېچا بل ته تاوان نشو رسولی. د سپینې میرمنې د شته والي په اړه یې هم راته وویل چې میرمن ستار نومېدهاو دلته راتلو لپاره اجازې ته منتظره وه.

بیا قلي خان زه بلې کوټې ته بوتلم او خپل کټ یې راته راکړو. زه د شپې درې بجې هلته بیول شوې وم او ترسهاره په هغه کوټه کې وم. اووه بجې میرمن ستار راغله او ما ته یې څو لیکونه او د هغه ځای خبرونه راکړل.



له هغې وروسته دې زما د څلورو نیوونکو سره په شرایطو اوږدې خبرې وکړې خودا معامله حل نشوه. دوی لاړل او مونږ یې یواځې پرېښودو. ما یو څه وخوړل او ښه خوب مې وکړو.

د ورځې په اوږدو کې زما نیوونکي کوټې ته په تلوسه راننوتل، میرمن ستار یې ورتیله کړه او امر یې پرې وکړو چې زما خوا له به نه راځي او د دې خبرې وضاحت دې وکړي چې د هغوی د کورونو د سیزلو نه یې څه مطلب و؟ میرمن ستار هم هغه شېبه مغلباز خان او قلي خان خپلې مرستې ته راوبلل او دوی ورسره اوږد بحث وکړو. دا خبره رېښتیا وه چې د دوی په کورونو د یو اپریدي ځواک له خوا یرغل شوی و. هغوی په قهر وو چې زه د هغوی د لارې ولې نه خوشې کېدمه، چې زما په سر یې د انعام پیسې پخپله ګټلې وې. دا خبرې لا روانې وې چې ملا راغلو او چې ټول حال یې واورېدو نو هغو څلورو کسانو ته سخت په قهر او ښېرې یې ورته وکړې. په دې هغه کسان دومره ووېرېدل چې د معاملې شرایطو ته یې غاړه کېښوده او له ملا یې بخښنه وغوښته. ملا دوی ته بخښنه وکړه خو له کلي یې وشړل او دا څلور وحشیان زمونږ له مخه ورک شول.

په بله ورځ (٢٣) سهار نهه بجې زما د خوشې کېدو شرایط ومنل شول او مونږ سمدلاسه د کور لوري ته سفر پیل کړو. لومړې زه په یو قچر سپره وم خو کله چې د غرمې ګرمي شوه نو زه یې په یو سټرېچر کې یوړلم. کله چې هوا سړه شوه نو بیا په قچر سپره شوم. د شینوارو کلا ته وروستي درې میله مو په پښو مزل وکړو ځکه په تیاره کې سورلۍ کول خطرناکه

و. په شینوارو کې ما د خپل پلار او خپلو خلکو سره ولیدل. شپه مې هلته تېره کړه او بیا د پېښور حکومتي کورته ولاړو. دلته تر هغې پاتې وو تر څو بمبۍ ته لاړو او هلته نه مو د کور په لوري بېړۍ واخیسته.

دلته زه یوجدول کې درته دخپل سفر د واټن او د ارتفاع په اړه معلومات درکوم.

د اپریل ۱۴. نهه میله.

د ۱۴ او۱۵ شپه. نهه میله.

د ۱۵ او۱۶ شپه. ۱۹ میله

د ۱۶ او ۱۷ شپه ۱۵ میله

د ۱۷ او ۱۸ شپه ۱۶ میله

د ۲۱ او ۲۲ شپه. ۸ میله

په ۲۳ ورځ ۲۲ میله.

دا فاصلې د نقشې له مخې هر څومره چې مې کولې شول د خپل تګ د لارې په نښه کولوبرابر کړې دي. پداسې ملک کې تاسو د هر واټن څلورمه برخه پکې وراضافه کولی شی چې د ځمکې د حالاتو سره سمون وخوري. د ارتفاع په اړه مې اټکل کړی دی خو د زیات پر ځای مې کم ښودلې دي .

( د ارتفاع شمېرې نه دې ژباړل شوي)

مولي اېلس. جون ۱۹۲۳ م.

✦✦✦



## پنځم باب

# جرم او سزا

عجب خان د مولي اېلس د ورخوشې کولو پر وخت د نورو شرایطو سره سره د خپلو دوو ملګرو، شاه زمان او شوکت علي د خوشې کېدو غوښتنه کړې وه. د هغه لپاره دا دواړه مبارزین او د انګریز په نظر ډاکوان او په بېلابېلو حملو کې د عجب خان سره مله وو.

د اپریل په میاشت ۱۹۲۳ م کې د مولي اېلس د تښتونې نه علاوه په دې سیمه کې دوه نورې داسې پېښې هم شوې وې چې انګریزته یې زیان اړولی و. په اتماپریل د لنډي کوتل سره نږدې دوه انګریز افسران هم وژل شوي وو چې یو یې میجر اینډرسن اوبل میجر اور، نومېدل. د دې قتلونو پړه د دوو مفرورانو، داود شاه او ارزالي پر غاړه وه چې په شینوارو کې پټ وو.

د مولي اېلس د خوشې کېدو خبر سره مشرکمشنر په کلکتې کې د خارجه امورو سکرتر نه په علي شیرزو د بمبارۍ اجازه وغوښته چې عجب خان ته یې پناه ورکړې وه. هغه پخپل لیک کې ولیکل چې که یو بم په جواکې هم وغورځوو نو دومره بد کار به نه وي.سبب یې دا وښودلو چې د کرنل فووکس په وژنه کې د دې ځای خلکو هم لاس و چې په دې جرم کې ورسره شریک وو. حکومت ورته د بمبارۍ اجازه ورنکړه خودا یې ورته وویل چې د قبایلو د ویرولو لپاره الوتکې وراستولی شي.

د مې د میاشتې په اتمه نیټه ۱۴ الوتکې د خانکي بازار په اسمان

راښکاره شوې. دا دومره ښکته رواني وې چې خلکو د دوی پایلټان لیدی شول. د الوتکو دا پرواز د ځینو خلکو د ویرې سبب شو چې پکې ملاخونزاده هم شامل و. هغه دواړو ورونو ته وویل چې خپله کډه دې له هغه ځایه د مسیدو سیمې ته یوسي.

د مې په ۱۳ چې د روژې د میاشتې ۲٦ نیټه وه، سر جان میفي د ټولو قامونو او خېلونو په ګډون یوه جرګه راوبلله چې تر هغه دومره لویه جرګه نه وه شوې. دا جرګه په "شنه وړې" کې وشوه او پکې حکومت ګواښ وکړو چې د ټولو قامونو واجبات ( د میاشتې پیسې) بندولې شي.

دې جرګې فیصله وکړه چې عجب خان، شهزاده خان، ګل اکبر، سلطان میر او حیدر شاه د دوی دښمنان دي. که پنځه واړه د اپریدو په زمکه کې ور دننه شول نو دا به د هر اپریدي دنده وي چې دوی ونیسي او واکدارانو ته يې وروسپاري. که چا دوی ته پناه ورکړه نو حکومت به هر هغه څه وکړي چې مناسب ګڼي. په دې کې د هوايي بمبارۍ ګواښ هم شامل و. جرګې دا فیصله هم وکړه چې له هغو ټولو کلیو دې تاوان واخیستل شي چې عجب خان او د ده ملګرو ته يې پناه ورکړې وه.

په کورمې کې د انګریز سیاسي استاځي د خوست لوري ته تلونکې لارې بندې کړې چې عجب خان افغانستان ته ونه تښتي. د دې نه علاوه د ده د نیولو یا وژلو لپاره يې علي شیرزو ته یو لک ( ۱۰۰ زره) روپۍ



انعام د ورکولو ژمنه وکړه. په ۱۵ مې علي شیرزو پخپلې جرګې کې په "میاګان غونزه" کې د عجب خان د کور سیزلو فیصله وکړه او په هم هغه ورځ يې دا کار تر سره کړو. نورو خلکو د اختر د لمانځنو لپاره تیاري کوله او د عجب خان ټبر د مسجد باغ په لوري روان وو.

په هغه ماښام دواړو ورونو د ملاخونزاده سره روژه ماته کړه، هغه ورله د کډې وړلو لپاره څو کچرې ورکړې وې. د ټبرا سید انور، د مندتې کلي ملک منصور، عجب خان او شهزاده خان ته د پناه ورکولو ژمنه وکړه. څو ورځې وروسته دوی "مورګه" نومې غره ته وختل چې د شینوارو په لاس کې و. شینوارو پخپلې جرګې کې ټول قام ته خبرداری ورکړو چې که چاعجب خان ته تاوان ورسوو نو ٥٠زره روپۍ جرمانه به ورکوي.

په ۲۱ مې د پېښور مشر کمشنر د قامونو یوه بله جرګه کوهاټ ته راوبلله چې پکې ۷٦ قومي مشرانو ګډون وکړو. انګریز د حکومت له خوا یوه تړون وړاندې کړو چې دوی يې ومني او تصویب کړي. د تړون شرایط دا وو.

۱. د دره ادم خیل قبایل به په شپږو اوونیو کې دننه انګریز حکومت ته ٥٠ زره روپۍ جرمانه ورکوي. ( ښايي دا د مولي اېلس د لټون لګښت و)

۲.په بوستي خېلواو شیراکي کې به د عجب خان د استوګنې ځایونه ړنګ کړل شي.

۳.په دره ادم خېلو کې د ټیلیفون د مزو د غځولو، د کوهاټ درې د پراخولو او د خاصه دارو (ملېشه) د دریو څوکېو د جوړولو په کار به

لاس پورې شي.

د ادم خېلو نه علاوه په دې ترون د بر محمد خېلو، ماني خېلو، سپاه او ستوري خېلو ملکانو هم ګوتې ولګولې. د نه منلو په حالت کې يې ورته د پوځ له خوا د پېښور او د کوهاټ د لارې د حملو ګواښ وکړو.

د مولي اېلس ژوندۍ بېرته ورتګ د جان ميفي لپاره لوی برياليتوب و. دی خبر و چې که دعجب خان د نيولو لپاره يې پوځ يا پوليس ورواستوو نو ټول قبايل به د انګريز پر ضد پاڅون وکړي. په کلکتې کې د هغه مشران په دې خوشاله نه وو چې ده د يوې انګريزې ښځې (ليليان ستار) ژوند په خطر کې اچولی و. د ده نه پوښتنې کېدېاو ده هغوی ته قناعت نشو ورکولی چې د پښتنو سره ولې بايد د نور هندي وګړو په شان چلند ونشي. د مولي اېلس د ژغورنې په لانجه د سر جان ميفي خپل حکومت سره اختلاف پيدا شو. هغه د چيف کمشنر د عهدې نه استعفا ورکړه او په ۱۹۲۴ م کې د هند نه ولاړو. د انګريز نوې کمشنر "هوريشيوبولټن" نومېدو.

د مولي اېلس د خوشي کولو لپاره انګريزانو په دريوشرايطو کې د عجب خان يو شرط منلی و، چې د ده څلورو ملګري يې ورخوشې کړل. د هغه د مکمل معافي او د ۵۰ زرو روپو غوښتنه له پامه وغورځول شوه. چيف کمشنر ته په يو ليک کې عجب خان پخپل کلي د حملې لپاره ترينه تاوان غوښتی و. دا تر ډېره حده سمه خبره وه. خو انګريز دا ونه منل. د هغوی



په نظر عجب خان ټوپکې غلا کړې وې او د هغه په کور ورننوتل ورته سم کار ښکارېدو. د قبايلو په خاوره انګريز مجرمانو ته د سزا ورکولو لپاره خپل قانون پلی کوو او دې ته يې د فرانټير کرايمز ريګوليشن نوم ورکړی و.

انګريز اوس په افغان حکومت فشار ډېرکړو چې عجب خان د دوی مجرم او بايد ورته وسپاري. هم هغه وه چې د جلال اباد حاکم عبد الکريم د دواړو ورونو د نيولو لپاره شينوارو ته امرجاري کړو. د شينوارو "سانګو خېلو" چې عجب خان ورسره پاتې و، د دې امر د منلو نه انکار وکړو. د جون په لومړۍ اوونۍ کې حاکم عجب خان او د ده ملګرو ته په ولايت کې د حاضرېدو امر وکړو خو دوی هغه حکم هم ونه منلو. په پايله کې د سرحداتو مشر او د " اچين" والي د دوی د نيولو امر وکړو. په ۱۷ جولۍ عجب خان او د ده ملګري د والي په وړاندې حاضر شول او هغه دوی په ضمانت ورخوشې کړل.

عجب خان د خپلو هغوملګرو د قيد نه د پرېښودو غوښتنه وکړه چې انګريزانو د مولي اېلس د تښتونې پر وخت نيولي وو. دا ګواښ يې وکړو چې که هغه ملګري يې ورخوشې نشول نو نور انګرېزان به هم تښتوي.

د نومبر په مياشت ( ۱۹۲۳م ) کې د کورمې ملېشه کپتان واټس او د ده ميرمنه په پاړا چنار کې ووژل شول. د انګريز پوره باور و چې دا هم د عجب خان کار و.

په ۱۹۲٤ م کې په هند کې د خلافت تحریک اغیزې د پښتنو سیمو ته هم کډه وکړه. د کوهاټ یو شاعر جیون داس پخپل نظم کې په مسلمانانو ملنډې ووهلې. دی د مذهبي نفرت د راپارولو په تور ونیول شو خو وروسته انګریزانو خوشې کړو. له دې وروسته د کوهاټ د هندوانو او مسلمانانو تر منځ ستونزه زیاته شوه. د سپتمبر په میاشت کې مسلمانانو د کوهاټ په لوی بازار کې د هندوانو هټۍ چور کړې او په خپلو کورونو کې کلا بند د ځینو هندوانو په ډزو، لس مسلمانان ووژل شول. د کوهاټ په بازار کې د اور وژنې او د امن راوستلو لپاره د انګریزپوځ نورې دستې ور وراستول شوې او په ښار کې کرفیو ولګیده.

هغه کال د پوځ یوه ډله د اپریدو د لښکر په مرسته د ډیورنډ د پولې نه واوړېده چې خپل مفروران ونیسي. افغان پوځ د انګریز سره د نورې شخړې د مخنیوي لپاره د خپل حکومت په امر د هغوی مفرور "اردالي" پخپله ووژلو. په دې پېښه عجب خان پوه شو چې افغانان ممکن د انګریزانو د فشار له کبله دی هم مړ کړي. بیا برطانوي حکومت په نومبر ۱۹۲۳ م کې په بمبۍ کې د افغانستان لپاره د وسلو بار یوه بېړۍ کراچۍ ته د تلو نه ایساره کړې وه. په افغان خاوره تېرې او د بېړیو ایسارول، د امیر امان الله خان لپاره د اندېښنې ور خبره وه. هغه د جلال اباد حاکم عبد الکریم خان علومي په لاس عجب خان ته دا پیغام ورواستوو چې جلال اباد ته ورشي. خو عجب خان د خپل ژوند د ژغورلو په هڅه کې و.



تر څو علومي د جلالاباد حاکم و ، عجب خان هلته ولاړ نشو، څو میاشتې وروسته احمد علي خان د جلال اباد حاکم شو. هغه ډېرې هلې ځلې وکړې چې عجب خان د ډیورنډ د لیکې نه واوړي او اخر یې راضي کړو. خو په هغو ورځو کې انګریزانو د عجب خان او د شهزاده خان په سرونو ۳۰ زره روپۍ انعام ایښی و. نو عجب خان شینوارو ته وویل چې" زه بې له هغې هم جلال اباد ته ځم نو تاسوانګریزانو ته ووایئ چې مونږ له خپلې سیمې وویستو، چې داانعام تاسو واخلئ" ( غبار)

عجب خان څه موده د باجوړ په چمرکند کې میشت و. هلته د انګریزانو پر ضد د هند د نورو سیمو نه فراریان هم ورغلي وو چې پکې هندوان، مسلمانان او سکان شامل وو. د هوډ او عقیدې له پلوه دا ټول وېشلي وو، چا د اسلام ، چا د ملت، چا د کمیونزم لپاره مبارزه کوله خو د دوی دښمن مشترک و.

کله چې عجب خان جلال اباد نوي حاکم ته لاړو نو هغه د بتخاک د لارې کابل ته ورواستوو چې هلته په ارګ کې د امان الله خان میلمه شو. یو وخت د ده د کورنۍ نور غړي هم ورسره یو ځای شول. د عجب خان زوی نیک محمد د پلار له خولېوایي " یوه ورځ د لمانځه پر وخت امان الله خان زما پګړۍ په سرکړه او لمونځ یې وکړو. له لمانځه وروسته یې راته وویل چې ته ترکستان ته لاړ شه. ما ورته وویل چې زه خو نه ځم. ده راته بیا وویل چې زه باید لاړ شم. مادویم وارې هم ورته وویل چې زه نه

ځم. ده راته وویل چې په زور دې لیږم. ما ورته وویل چې زور خو ما د انګریزانو سره وهلی، زما زور هغې لویامپراتورۍ ته ښه معلوم دی. دا چې ته د اسلام باچا یې، تا ته څه نشم ویلې، ناچار به ځم خو دا باید ووایم چې انګریزان چې څوک فراروي نو تورو اوبو ته یې لیږي او تاسو چې څوک فراروئ نو ترکستان ته یې لیږئ. امان الله خان ورته وویل چې هلته به ډېرې زمکې او ښې تنخواوې درته درکړم. خو ما ورته وویل، لویخدای چې تا ته باچاهي درکړې، هر چا ته څه ورکوي. زه یې هم له هغه غواړم. بالاخرد جبل سراج له لاړې، په داسې حال کې چې شاهي رساله راسره وه، زه او زما کورنۍ په اوښانو د مزار شریف په لور وخوځېدو. زمونږ سفر نږدې یوه میاشت ونیوه. په جبل سراج کې یخني وه، د شپې مو د صندلیو لپاره سکاره بل کړل، مونږ یې په چل نه پوهېدو، د شپې یې ټول (ګیسو) ونیولو، ما شهزاده ته وویل ، امان الله خان د انګریزانو نه بدې واخستې، مونږ ته یې په دوډۍ کې زهر راکړل. مونږ ټوله شپه خوا وګرځوله، تر سهاره مو یخې اوبه په یو بل اچولې، تر هغو چې د سکرو نیولو خبره سهار سپاهیانو راته وکړه. مونږ مزار ته ورسېدو. هلته حاکم هم هغه عبدالکریم خان و چې په ما پسې یې شینوارو ته حال رالیږلی و. چې زه یې ولیدم نو د واره یې راته وویل " خانه خرابه، زما په خوله شینوارونه رانه غلې." ما یواځې دا ورته وویل چې خانه خراب خو ستا پلار دی. زر یې رانه بخښنه وغوښته. امان الله خان ده ته زما د عزت کولو په خاطر ډېر څه



لیکلي وو."

عجب خان په ۱۳۰۲ ش (۱۹۲۳م) کې په مزار شریف کې د مستوفیت په مانۍ کې ژوند پیل کړ. د انګریزانو په غوښتنه د افغانستان حکومت عجب خان او د ده کورنۍ بې وسلې کړه. ده ته د ترکستان نه بهر د وتلو اجازه نه وه او د دوی څارنه کېده. کله چې انګریز ډاډمن شو نو په بمبۍ کې د افغانستان لپاره د وسلو ایساره شوې بیړۍ یې پخپله لاره خوشې کړه.

ګل اکبر او د هغه پلار سلطان میر مزار ته ولاړ نشول. د جلال اباد حاکم هغوی د خپلې خاورې نه وشړل. د مولې اېلس د لټون پر وخت د عجب خان یو ځوان وراره ونیول شو او وروسته یې غرغره کړو. د کوکېخېلو قام په دې کار ډېرپه قهر شو، ځکه د دوی په اند حکومت ورسره دوکه کړې وه. مغلباز خان د حکومت له خوا منځګړتوب کوو او د هغه ځوان ژوند یې نشو ژغورلی نو خپل قام (کوکې خیل) د کلي نه وشړلو. ده وروسته په مردان کې ژوند پیل کړو. انګریزانو ځینو قبایلو ته د هغوی د خدمت په بدل کې زمکې ورکولې او ښایي مغلباز ته یې هم دا زمکې په انعام کې ورکړې وې. د هغه پاتې ژوند د قام کلي نه لیرې تېر شو.

میرمن لیلین ستارد پېښورپه مشن هسپتال کې بېرته خپلې دندې ته لاړه. د خپلو خدماتو په بدل کې ورته د هند تر ټولو لوی ملکیاعزاز (مډال) "کېسرهند" ورکړل شو. دااعزاز په ۱۹۲۳ م د جون په میاشت کې د باچا د سالګرې په ویاړ د افتخاري نومونو په لسټ کې اعلان شو. د هغې

داافتخار " لومړۍ درجه " و نو ځکه میرمن ستار د دې اعزاز د اخیستو لپاره لندن ته ورغله او په بکنګهم مانۍ کې یې ښځپله د باچا نه تر لاسه کړو. د دویمې او درېیمې درجې اعزاز به په هند کې ښځپله وایسرای ورکول.

میرمن ستار په ۱۹۲٤ م د فروري په میاشت کې د میجر ګلفورډ انډرهل سره د سیالکوټ (پنجاب) په کلیسا کې واده وکړو. هغې د مولي د ژغورنې کیسه په یو کتاب کې ولیکل چې " د تیرااو د وړوکی تبت داستانونه" نومېدو.

خان بهادرقلي خان ختک ښځپله د عجب خان له خوا د ګواښ سره مخ شو ځکه دی د هغه او د انګریز تر منځ درېمګړي و او په خپلو افسرانو د عجب خان ټول شرایط منلو کې پاتې راغلي و. د مولي اېلس د ژغورلو او نورو خدماتو په بدل کې څو کاله وروسته، په ۱۹۳۲ م کې د "ارډر اف دي برټش ایمپایر" او "کېسر هند" مډال ورکړل شول. دااعزاز یې مغلباز اپریدي ته هم ورکړل. خو د دوی دواړو اعزازونه د " دویمې درجې " وو.

د امان الله خان په امر عجب خان ته په مزار شریف کې ۱۲ سوه جریبه زمکه، شهزاده خان ته یې شپږ سوه جریبه زمکه، او حیدر شاه ته یې دوه سوه جریبه زمکه ورکړل شوه.

داسې ښکاري چې عجب خان او د ده ټبر په یو نوي چاپیریال کې د ژوند سره عادت پیدا کړو. هغسې چې د دوی نمسي اوس وایي چې امان الله



خان ورته ډېر امتیازات ورکړل. خو پنځه کاله نه وو پوره شوي چې افغانستان کې بیا ګډ ودي رامنځ ته شوه.

په ۱۹۲۹ م ( ۱۳۰۸ ش) کې د جبیب الله خان کلکاني (بچه سقاو) د امیر امان الله خان پر ضد پاڅون وکړو. د ده نایب سالار عبد الرحیم خان مزار ته ورسېدواو هلته د سقوي حکومت د ټینګولو لپاره یې لاس پښې ووهلې. ده غوښتل چې د ترکستان حاکم، عبد الکریم خان ژوندی ونیسي خو هغه د عجب خان او شهزاده په کور کې پناه واخسته. د عبد الرحیم خان په مشري یوې ډلې عسکرو د هغه په کور حمله وکړه نو د عجب خان له خوا ورباندې ډزې وشوې. په دې جګړه کې مرګ ژوبله وشوه او دواړه ورونه د دشت شادیان له لارې غره ته وختل.وروسته میاشتو کې دوی د سقاویانو پر ضد د یو لښکر جوړولو هڅې وکړې خو دا سیمه ورته نااشنا وه. اخر دواړو په سرپل کې د غلام رسول خان ساکزي (اسحاکزي) سره پناه واخسته.

د امان الله خان پلویانو کې یو غلام نبي څرخي و چې یوه پوځي ډله د سکتر په لاره او بله یې د سر پل د لارې مزار په لوري ورواستوو. عجب خان او شهزاده خان هم د سر پل نه د دې پوځ سره مله شول چې په دوو ساعتونو کې یې مزار، ایبک، میمنه، اندخوي او شبرغان ونیول. خو د عجب خان لپاره تر ټولوحیرانوونکې پېښه دا وه چې غلام نبي څرخي لږ وروسته افغانستان پرېښودواو شوروي اتحاد ( روس) ته ولاړو.

عجب خان خبر نه و چې امان الله خان کابل ته د راتلوجوګه نشو او په غزني کې د سلیمان خېلواو سقاویانو له خوا مات شو. دی د افغانستان نه اروپا لوري ته وتلي وو. هغه وخت د غلام نبي خان څرخي وروړغلام صدیق خان چې د افغانستان خارجه وزیر و، ورته ټیلیګرام ورواستوو چې باچاوس نشته. هم هغه وه چې غلام نبي د امو سیند نه پورې ووتلو.

په هغه کال (۱۳۰۸ش) کې ماسکو د غلام نبي څرخي ملاتړ وکړو او دی د پنځوالوتکو په بدرګه بېرته مزار شریف ته راغلو. دا سیمې یې په کنټرول کې کړې او امان الله خان ته یې پیغام ورواستوو چې روسان د ده ملاتړ کوي. خو د باچا لپاره دا خبره د منلو وړ نه وه چې هغه د یو بل ځواک په زور د باچاهي پرتخت کېني. هغه غلام نبي ته پیغام ورواستوو چې زه نه د روسانو مداخله او نه د بل پر مټ واک ته رسېدل غواړم.

غلام نبي څرخي مجبوره شو چې بیا شوروي ته ولاړ شي. په دې اړه د عجب خان روایت داسې دی " غلام نبي خان ما ته درې سوه ټوپک راوسپارل، چې هغه په هزاره ګانو ووېشم، په دې خاطر چې دغه هزاره ګان به د امان الله خان په ګټه د بامیانو له لارې په کابل یرغل وکړي. غلام نبي بېرته شوروي ته ولاړواو سقوي لښکرو مزار شریف ونیو. مااو شهزاده هم هغه درې سوه ټوپک له ځانه سره واخیستل، مونږ دره سوف ته لاړواو هلته د غلام نبي بیګ سره یو ځای شو. هغه ټوپک موږ په هزاره ووېشل، بیا مو په مزار یرغل وکړو. خو لږه موده وروسته دې ته مجبوره



شو چې بېرته دره سوف ته ولاړ شو. په دغه ځل د سقاویانو له خوا زخمي هم شوم."

ددې جنګ نه وروسته سقوي چارواکو په مزار کې د عجب خان کور تالان کړواو د ده د کور ځینې سړي یې په بندي خانه کې واچول. په دوی کې د عجب خان خوریي، عبد الجلال او دده درې ملازمان هم وو، چې دوه د پېښور او یو د کابل د قره باغ اوسېدونکی و.

په دې اړ او دوړ کې عجب خان او شهزاده بیا یوې او بلې خوا سرګردانه و. کله چې د امان الله خان د انګریزانو د خوښې کس جنرل نادر (خان) شاه د کابل پرتخت کېناستو او په افغانستان کې حالات ښه شول نو عجب خان، شهزاده د باچا دربار ته ورواستوو چې خپل راتلونکی ورته روښانه شي. نادرشاه ورته په مزار کې د پاتې کېدو وویل او ټولې ځمکې او کورونه یې بحال کړل. دوی ته د مزار نه د وتلو اجازه نه وه او د انګریزانو هغه بندیز ورباندې هم هغسې پاتې شو.

د دویم نړیوال جنګ په پای کې د هند د خپلواکۍ پاڅون زور ومونډلو او انګریز ښکېلاک پای ته ورسېدو. په ۱۹۴۷ م کې د نادر شاه زوی ظاهر شاه واکمن شو نو د دیورنډ د کرښې لانجې غوځولو او د خپلوسیمو د بېرتهاخیستو ناره پورته کړه. هغه وخت عجب خان د غازي په نوم ونمانځل شو او د شهزاده سره یو ځای کابل ته یې ورووبللو چې د پښتونخوا په ګټلو کې څه رول ولوبوي. خو د ظاهر شاه په وړاندې څه ممانعت و او

ولې يې څه عملي ګام پورته نکړو، څرګنده نه ده.

په نوي جوړ شوي ملک پاکستان کې اپريدي د نويو واکمنو سره په جوړ جاړي اخته وو. زيات فراريان چې وينه يې توده وه، دهندوانو نه د کشمېر د ګټلو لپاره د پوځ په اشاره لښکرې جوړې کړې.

✦✦✦



شپږم باب

# د عجب خان خبرې

په مزار شريف کې د اپريديانو ټبر په دري (فارسي) ليکل شوې يوه مسوده لري چې پکې عجب خان خپله کيسه بيان کړې ده. د دې ليکوال د شهزاده خان مشر زوی دوست محمد اپريدی و چې د خپل تره له خولې خبرې يې کټ مټ وليکل. دا مسوده په لومړي ځل اردو او پښتو کې د دې کتاب لپاره وژباړل شوه. په قوس کې ليکلي معلومات د ژباړن له خوا دي.

## تېرې کارنامې

عجب خان او شهزاده خان، د انګريزانو په مقابله کې يې يوه بريالی‌تګلاره خپله کړه. د دې غازيانو کارنامې په افغان قام کې ډېر نوم لري. د هند وايسرايد مس اېلس دتښتولوخبرونه وليکل.برطانوی ميډيا داپېښه ډېر په منفيانداز کې وړاندې کړه او د دې حقيقت نه يې سترګې پټې کړې چې‌انګريزانو د پښتنو نهازادياخيستې وه، ځوانان او سپين ږيري يې وژل، د دوی کورونه يې ورانول. په دې ټولو خبرو دوی (انګريزانو) سترګې پټې کړې‌او د مس اېلس داغوااسباب يې بلکل له پامه غورځولي دي.

## تړون

د هغې مور په نوم چې په غیرتي لمنه یې داسې ډېر افغان ځوانان لوی شول چې د راتلونکې نسلونو لپاره د ویاړباعث وو.

## د عجب خان او شهزاده خان ریښتونې سرګذشت

عجب خان اوشهزاده خان دواړه ورونه او د غلام حیدرخان زامن او د محمد عظیم خان نمسي وو. په قام اپریدي، ادم خېل، په دره ادم خېلو کې بوستیخېل، یونس خېل وو. د دوی تره ایمل خان او زوی علم خان ځینو کاررونو کې ورسره مله وو. د دوی اصل وطن دره ادم خېلدی چې د پېښوراو کوهاټپه منځ کې واقع دی او دلته هر ډول وسله او ګولی ترلاسه کېږي.

کله چې انګریزانو د پېښور او کوهاټ ترمنځ د سړک جوړولو کار پېل کړو نو د عجب خان پلار او نیکه د ده په مخالفت کې د"غابنی"په مقام دانګریزانوسره ډېرجنګونه وکړل چې سړک جوړ نشي. په یو ډول دا جنګونه هغه ته په میراث رسېدلي وو. دااصل پېښه ده چې د هغه له خولې بیان شویاو د لوستونکو به خوښ شي.ممکنمختلف خلک یې په لوستلو بېلا بېل نظر ورکړي خو الله شاهد دی چې مونږ څلور کاله او څلور میاشتې دانګریز پوځپر ضد یواځې د اسلام او د پښتونخوا دازادۍلپاره جنګېدو. هر څه چې زما (عجب خان)یاد دي نو بې له څه



کمی زیاتی تاسو ته یې بیانوم.

په ۱۲۹۸ ه ( ۱۹۱۹ م) کې زه د افغانستان جنوبي سیمې منګلو قام ته د تجارت لپاره تللیاو څه موده هم هلته مېشت وم. هغه وخت افغانستان د خپلواکۍ هلې ځلې کولې او هرې خوا نه افغان ځلمي د انګریزانو خلاف جهاد ته راټولېدل. د دې لپارهد پلازمېنې کابل له خوا د پکتیاد محاذ مشرسالار شهید محمد نادر خان وټاکل شو او هغه خوست ته ورسېدو.منګل قام او د پکتیاولس د خپلواکۍ جنګاو یرغلګرو ته د ماتې ورکولو لپاره د جنرل نادر خان په مشرۍ یو موټې شول. ماد دې ځای خلک او سپین ږیري ډېربښه پېژندل.مونږجنرل نادرخان ته ورغلو چې هغه وخت یې په ټل د حملې هوډ کړی و. هغه منګل قام ته وویل چې د افغان لښکر د لارښوونې لپاره یو رضاکارغوره کړئ. د منګل قام سپین ږیرو د دې لپاره جنرل نادرخان ته زه وروپېژندلم او هغه ته یې زما ډېر صیفت وکړو.جنرل نادر زه د حمله کوونکو لښکرلارښود وټاکلم. هم هغه شپه مونږ ټل لوري ته روان او سهارپه ښارکې وردننه شو. دغسې ټل زمونږ لاس ته راغلو. ورسرهمو بالاحصاراو د اورګاډي سټېشن چې د ښار نه بهر و، کلا بند کړل. سهار لس بجې جنرل نادر د نورو لوړو پوځي افسرانو سره ټل ته ورسېدو، د ښارپه منځ کې یېافغان بیرغ جګ کړو او په ټل کې اسلامي لښکر خیمې ټک وهل شوی. د دښمن مرکزونه کلا بند شول او په دې وخت کې انګریزسخت مقاومت وکړو.

جنرل نادر راته سپارښتنه وکړه چې دانګریزپوځتول جنګیالي ستا د قام (اپریدو) نه دي نو هغوی راوهڅوه چې مونږ سره یو ځای شي. د دې لپاره به ورته انعام ورکوو، که خپلو کورونو ته بېرته لاړل نو د دوی ژوند او مال به خوندي وي او د لارې خرڅ به هم ورته ورکوو. ما په دې سپارښتنه سمدلاسه عمل وکړو، کلابند دښمن ته نږدې ورغلم او یو اپریدیافسرسره مې خبرې اترې پېل کړې. کله چې ما ورته پوره ډاډ ورکړو نو هغوی د جنګ نه لاس واخستو. نوموړیافسر جنرل نادرخان ته مې وروستلو نو جنرل ورته د سروزرو ۱۵۰ سکې په انعام کې او دااجازه هم ورکړه چې دوی سره کومې ګولۍ او بارود موجود ووهغه د ځانه سره وړې شي. ورسره یې ما ته دا مسولیت راکړو چې د خپل قام ټولو جنګیالو سره بدرګه خپلې سیمې ته ورشم. مونږ د دریو ورځو د سفر نه وروسته اخر تیرا ته ورسېدو، دوی مې هلته پرېښودلاو خپل وطن دره ادم خېلو ته راغلم. په دې وخت کې زما ورور شهزاده خان په کوهاټ د حملې تیاری کړی وځکه هغه انګریز پوځیان چې په کوهاټ کې وو، له هغوی نه یو پوځي د شهزاده خان سره لوظ کړی وچې دوی به بې له جنګ او وژنې دا کلا ورته وسپاري.

کله چې ما د جنرل نادرخان نه رخصت اخیستو نو هغه ما ته دا سپارښتنه کړې وه چې خپل قام دانګریزانو پرضد منظم کړم او د دوی خلاف حملې جاری وساتم چې دښمن هر وخت د ویرې په حالت کې وي.



کله چې مونږ د دې حملې تیاري کوله نو خبرشو چې جنرل نادرخان خوست ته رسېدلی دی. هغه وخت زه او ورور مې کوهاټ ته لاړو او ځلورپېرنګیان مو ووژل.

نادرخان چې خوست ته لاړو نو مونږ اندېښمن شو نود هغه سره لیدو لپاره مو د تګ فیصله وکړه. د هغه سره په ملاقات کې جنرل نادر راباندې دا زیری وکړو چې انګریزانو زمونږ د خپلواکۍ غوښتنه منلې ده او په دې لړ کې خبرې اترې روانې دي. ده راته وویل چې مونږ یواځې دافغانستان نه بلکهد سرحد خپلواکي هم غواړو نو تاسو خپل جهاد روان وساتئ ځکه د افغانستان حکومت دانګریزانو په مقابله کې نور ګامونه اخیستونکې دی. نو ته سمدلاسه بېرته لاړ شه، مامحمود اخوندزاده ته وسله او پیسې وراستولې چې غازیانتشویق کړي.او دا چې د غازیانو لپاره به زمونږ کومکونه جاري وي. مونږ چې دا واورېدل نو د هغه په اجازه خپل وطن ته راغلو. کله چې محموداخونزاده زمونږ د بېرته راتلو نه خبرشو نود ادم خېلواپریدو ٤٠ وسله وال کسان یې راته د یو پیغام سره راواستول. په پیغام کې لیکلي وو چې"عجب خان اوشهزاده خان! تاسو داسلام او پښتونولۍ لپاره د هر ډول قربانۍ نه به په شا نه شئ. دافغانستان لپاره ستاسو دا نیک قدم تاسو او داسلامینړۍ لپاره د یو نوي روح په شان دی. د دې لپاره باید مونږ درته د قدر په سترګه وګورواو ستاسو دا قربانۍ به د خدای (ج) په دربارکې ډېرد قبول وړوي."محمود

اخونزاده چې کوم ۴۰ وسله وال رالېږلي وو نو په هغوی کې د تیراد ادم خېلو میرک هم وو چې پخپلې سیمې کې ډېراغیزناک شخصیت و.

ادم خېلو، چې زه د دې قام نه یم، د تیرااوکوهاټ په سیمو کې دانګریزانوخلاف ډېرې مبارزې وکړې خو څه خاص کامیابیې تر لاسه نه کړه. په دې کې محمود اخونزاده هم شریک و.

د محمود اخونزاده رالیږل شوې دستې او مونږ دواړو ورونو په کوهاټ کې د شپې انګریزانو د سپاره ځواک پر یوې ډلې چپاو وکړو، هغوی ته مو ډېر ځاني او مالي تاوان ورساو او د غنیمت ډېرمال مو ترلاسه کړو. څو ورځې وروسته هغو ۴۰ کسانو مااو زما ورور ته د"بانیانانقلاب" خطاب راکړو.

انګریزمخبرانو د تل په نیولو کې د جنرل نادر خان د ملا تړاولا رښوونې، او د شلوروانګریزانو د وژلو چې بره یې ذکر شوی دی، په اړه انګریز حکومت ته خبر ورکړو.انګریزانو زمونږ د نیولو لپاره فعالیت پېل کړو.

د مخبرانو د شر نه ځان ساتلو لپاره ماد وروروسره دا پلان جوړکړو چې په اولس به باورنه کوو. مونږ سره وسله، ګولۍ، بارود او خواړه ډېر وو. په عامو خلکو زمونږ باورختم و، فقط زه او وروړمې په یو بل ډاډه وواودا هوډ مو کړی و چې د نن نه به انګریز ته هرډول تاوان اړولو نه به په شا نشو. له هغې ورځې وروسته مونږ د انګریزانو چاونۍ، دافسرانو کورونه او د دوی مرکزونه چې ډېرخوندي یې ګڼل، حملې پېل کړې او په انګریزانو



موغدۍ راوسته. وژل، نیول، پرزول او تښتول زمونږ دنده شوه. یو متل دی چې د زمري سره دښمني، د ځان سره دښمني ده. زمونږ مبارزه روانه وه او که زه یې ډېر تفصیل ووایم نو دا به یوه افسانه ګڼل کېږي. نو ځکه د دې د جزیاتو نه به تېر شم چې لوستونکي ته مشکل پېدا نشي.

په دې وخت کې د قام هغه خلک چې د انګریزانو پلوي یې کوله، زمونږ لپاره یې کرکه زیاتېده. د محمود اخونزاده ۴۰ کسان راته راغلل چې مولانا محمد علیاوشوکت علي چې مسلمانان وو،انګریزانو قید کړي دي. نو که یو انګریزه ښځه یا سړی ستاسو لاس ته ورغلل نو هغه برامته کړئ.په دې کار ممکن د محمد علیاوشوکت علید خوشې کېدو څه لاره راووځي. د دې پېغام په اورېدو چې زه د دوو مسلمانانو د ازادولو لپاره څه کولی شم، زما جذبه لا زیاته شوه او زما په وړاندې د دې هدف نه سېوا بل هېڅ مهم پاتې نشول.

نوزه او شهزاده خان د محمود اخونزاده د سړیو سره کوهاټ ته ورغلواو د یوانګریز ډګرمند (کرنل)په کورد حملې تیاری مو پېلکړ. د دې کرنل دوه پیغلې لوڼېاو ښځه یې په هغه بنګلې کې اوسېدل. مونږ د دې جینکو د تښتولو لپاره په هغه کورحمله وکړه. لږ وخت په یو بل ډزې کېدېاو وروسته مونږ بنګلې ته ورننوتلو کې کامیابه شو. هغه کرنل چې یو ډاکټر و، دی او ښځه یې ووژل شول. د هغه دواړه لوڼې په تشناب کې پټې شوې او ډېرمو ولټولې خو پېدا مو نکړې. له هغې وروسته د محمود اخونزاده

سړي مو بېرته ولېږل. کله چې انګریزان زماوو د ورور په نیولو کې پاتې راغلل نو دوی زمونږ قام ته د روغې پیغام ورواستوه. هغه وخت دا رواج و چې که چا په انګریزانو باور نه کوو نو دګرفتارۍ نه د ځان ساتلو لپاره د قام سپین ږیرو ته به یې په ضمانت ځان وسپارلو.

هم دغسېډېټي کمشنر زه او شهزاده خان د سپین ږیرو په وړاندې راوغوښتلو. کله چې مونږ حاضرشو نو ډېټي کمشنر راته وویل چې هغوی تیار دي چې زمونږ دواړو ورونو لپاره ډېره لوړهوظیفه وټاکیاو دا یې هم وویل چې هغه په چاونیو او پوځیانو، زمونږ د حملو نه خبر وو.او دا چې تاسو پوځیان وژنی او بیا ترې وسله یوسی. د اوس لپاره تاسو لاړ شئ او څو ورځو کې به زه مو بیا راغواړم.

د هغه ډېټي کمشنر نوم ډونلډ و او دسرحدیسیمو په اړه یې ډېرمعلومات لرل. ډونلډ نه وړاندې هلته د بروس په نوم یو ډېټي کمشنرو. هغه ډېرظالم افسراو د کوهاټ امنیت د نورسختولو ګواښ یې کړی و. د هغه په ګواښ مونږ ډېر په قهر شو او د ده په بنګلې مو چپاو وکړو. بروس له کوره وتښتېدواو د هغه محافظان زمونږ د لاسه ووژل شول. له دې عملیاتو نه پس ته بروس مونږ سره د ملاقات لپاره پیغام راوستاو چې په سختۍ مو رد کړو. له دې وروسته هغه زمونږ خلاف هلې ځلې نورې هم ګړندۍ کړې.

زما ترهایمل خان د تجارت لپارههندوستان ته تللی و، بېرته په راتګ،



هغه یې ونیولو او د هغه تجارتي مال چې ډېر زیات و، ترینه ایسار کړو. د دې سره انګریزانو د ۳۲۰ روپو ګمرک( ټیکس) چې د غاښۍ نه تېرېدونکې سړک په سر یې زمونږ قام ته ورکاو، هغه یې هم ورباندې بند کړو. د دی نه علاوه په ښار کې یې زمونږ جایدادونه ضبط کړل. خو د دې ټولو سختیو او پابندیو سره سره هم بروس و نه توانېدو چې مونږ خپل فعالیت ختم کړو بلکه زمونږه سرګرمی لا ګړندۍ شوې.

په دې دوران دهند وایسرایاو د پېښور والي چې لاټ یې نوم و، د سرحدونو په دوره او هغه سړک لیدو لپاره راغلو چې بره مې ذکر کړی دی. د درې ټول ملکان او سپین ږیري د سړک پر غاړه د ده هر کلي ته ولاړ وو. زما د ورورشهزاده خان په لاس کې د بروس خلاف یو لیکلی درخواست و چې هغه یې وایسرایته وړاندې کړو.وایسرایهغه درخواست ولوستو، موسکی شو او بیا یې بروس ته وسپارلو. بروس درخواست لوستل پېل کړل او کله چې هغه ځای ته ورسېدو چې د سرحد ذکر پکې شوی و نو هلته موجودو خلکو ته یې مخ واړواو ویې پوښتل چې په تاسو کې عجب خان کوم یو دی. په دې زما ورورشهزاده خان وړاندې شو او ویل چې ’زه عجب خان یم‘، بروس ورته وویل چې‘ زه به درسره ګورم‘

په تل کې یو ځای دی "ډاله روغه"نومیږي، دا داورکزوسیمه ده او اووه مفرورانو پکې پناه اخیستې وه.بروس د خپل زور ښودلو لپاره په دې سیمه کې د یو لوی ځواک سره عملیات وکړل او د هغو کسانو نه علاوه

نورخلک يې هم ونيول او له ځانه سره يې يوړل، هېڅامزاحمت ونکړو. له دې وروسته د بروس د غرورنشهلا ډېره شوه خو زمونږ سرګرمۍ جاري وې.انګريز حکومت د بروس له کاره ډېرخوشاله و ځکه د دوی دا خيال و چې په دې توګه ورو ورو په سرحدي سيمو کې د دوی نفوذ قايم شي.

د افغانستان د خپلواکۍ درې کاله تېر شول او زمونږ قام د انګريزانو له چلند سخت بېزاره شوی و. بلې خواانګريز داخبارونو او مجلو د لارې زمونږ د نيولو ياوژلو لپاره د انعاماعلان جاري ساتلياو ورسره د انعام پېسې يې هم ور زياتولې. له دې مونږ انديښمن شو چې د انعام په حرص به د خپل قام خلک مو ووژني. مونږ ته د دې سخت حالت اندازه وشوه او غور مو پېل کړو. فيصلهدا وشوه چې مونږ دواړه ورونه به په هېڅ حالت کې له يو بل نه جلا کېږو. نتيجه يې دا شوه چې هېڅا په مونږلاس اچولو ته زړه نه ښه کوو. که د چا په زړه کی دا خيال راغلی هم و نو پوه و چې که بل ورور يې ژوندی پاتې شو نو خېر به ورته نه رسوي. د انګريزانو خلاف زمونږ فعاليت جاري و.

بلې خوابروس هم په ډېره جذبه زمونږ په ضد فعاليت کې بوخت و. يوه شپه ما د خپل ورورشهزاده خان او دوو نورو ملګرو سره د کوهاټ د پوليسو په مرکزحمله وکړه. په دې کې مونږانګريزپوليس ووژل او څومره ټوپکې او ګولۍ چې مو اوچتولی شول، له ځانه سره يوړل.بروس د يو زخميمار په شان راپسې ولګېدو. هغه زمونږ قام ته ګواښ وکړو چې په



هرحال دغه دواړه ورونه د ګرفتاری لپاره ورته حاضر کړي. ګني څه حال چې د ااورکزو د کلي"خيرو" کړی و، هغه به ستاسو هم وي.

قام راته د دې ګواښ په اړه هېڅ و نه ويل. مونږ ته خطرزيات و خو احساس راته ونشو. زمونږ لپاره د سرکار او د قام مخالفت لا ډېر شوی و او مونږ درې واړه، زه، ورور او د تره زوی،علم خان، په دې جنګ کې يواځې پاتې شو. قام چې د جهاد اواتحاد روح ترې وتلی و، زمونږ خلاف کارونه پېل کړل. يواځې د خدای پاک فضل او د حق پلوي زمونږ حوصلهلوړه ساتلې وه، د دې نه علاوه د نويو وسلو مرسته هم رارسېده.

هغه وخت مونږ فکروکړو چې د انګريزانو نه لوټ شوېاضافي وسله به افغان حکومت ته ورکړو ځکه هغه د اسلام باچا دی. په دې کار به د هغوی مرسته هم وشي او دا به بېرته د انګريزانو لاس ته هم نه ورځي.

په ۱۹۲۳ م کې افغان حکومت په جلال اباد کې يو لوی جشن اولويه جرګهراوبلله چې پکې د سرحدي سيمو استازې هم شامل وو. ما خپل ورورپه ظاهره جرګې کې د ګډون لپاره ورواستوه خو پهاصل کې مې د افغان حکومت ته د وسلو د سپارلو په اړه خبرو ته لېږلی و.

ورورته مې ويلي وو چې په افغان حکومت کې يواځېنې کس چې مونږ پېژني، هغه نادر خان دی. نو د وسلې په اړه به د نادر خان سره خبرې کوې.شهزاده خان په جلال اباد کې خپل يو ملګری باچاګل په دې خبرکړو. هغهد ترنګزو د حاجی صاحب زوی و.باچاګل شهزاده خان ته

مشوره ورکړه چې" ته افغان حکومت ته د وسلې خبره مه کوه ځکه که هغوی ستا وړاندیزومنلو نو سمه ده خو په بل حالت کې درته د تاوان رسېدواندېښنه ده.البتهمونږ حاضر یو چې هرڅومره وسله او ګولۍ درسره دي، هغه په پېسو درنه واخلو. د دې مشورېسره هم شهزاده خان د جنرل نادر سره د ملاقات هڅه وکړه چې خبره وړاندې ته یوسي خوهغه ته د لیدو موقع پېدا نشوه. زما د ورورېوپېښوری اشنا هم لوی جرګې ته تللی و او شهزاده خان په واپسۍد هغه سره پېښور ته لاړو. هغه ملګري په دې خبره شهزاده خانایسار کړو چې په دوو دریو ورځو کې هغه هم درې ته ورځي چې له هغه شپږ ټوپکې واخلي.انګریزان خبرشول چې شهزاده خان په کابل کې او زه ښکار له تللی وم. دوی هم دغسې د موقع په انتظار وو چې چاپه ووهي او زمونږ د وسلې زیرمه قبضه کړي.

بروس زمونږ قومیمشران د لسو تکړه ځوانانو سره یو ځای راوغوښتل، ځوانان یې د سپایانو سره پېښورته ورواستول چې لاره ورته وښاییاو مشرانو ته یې وویل چې حکومت مجبور دی چې د عجب خان په کورچپاو وکړي او هلته هرشیضبط کړي چې د هغه فعالیتونه بند شي. ځینو قومي مشرانو بروس ته خبرداری ورکړو چې له دې کاره لاس واخلي ځکه د هغو مشرانو وینا وه چې دوی د اورکزو یاد خیبرملاګوري قام په شان نه دي.عجب خان اوشهزاده خان، زمریان او د دوی شناخت دیاو که تاسو د عجب خان اوشهزاده خان په کورچپاو وکړو نو د دوی په



زړونو کې به له تاسو کرکه نوره سېوا شي. بله دا چې د هغوی په کور کې زمونږ ناموس، ښځې خویندې لونې پاتې دي. د دې لپاره به مونږ هم مجبورشو چې ستاسو د دې عمل بدل واخلو.بروس مشرانو ته وویل چېدا ستاسو خام فکر دی ځکه زما په فعالیت د سرحد دا طلسم (بدل/انتقام) مات شوی دی.البتهزه ستاسو د قام درناوی کوم نو ځکه دااامتیاز درکوم چې د چپاو نه وړاندې کله چې پوځیان کلي ته ورننږدې شي نو اعلان به وکړي چې ښځې، ماشومان او سپین ږیري دې له کوره ووځي. له دې وروسته به د عجب خان په کورچپاو کوي.

په چپاو کې د زور پېدا کولو لپاره دوه ډلې، یوه د هغو ځوانانو چې بروس پېښورته لېږلي وو او بله د قومي مشرانو سره د شمال او جنوب نه وردننه شول او زمونږ کلی یې محاصره کړو. مونږ په دې حال هېڅ خبر نه وو. سهار محال انګریزانو اعلان وکړو چې ښځې، ماشومان او بوډاګان دی کورونه تش کړي ځکه د حکومت د دوی سره هېڅ غرض نشته. د دوی تش عجب خان اوشهزاده خان پکار دي. هغه وخت زمونږ په کور کې څلور سړي موجود وو. زما مور ورته وویل چې مرګ خو د هرچا په تندي کې دی، که د انګریزانو سره وسله ده نو هم هغسې وسله تاسو هم لرئ. په کورکې ښه ډېرخواړه هم شته. نو ځکهد افغان اواسلام د ناموس لپاره دې ترمرګه د انګریزانو سره مقابله وکړي او دغسې د اسلامی دود او پښتونولي دې پرځای کړي. خو هغو څلورو زما د

مورتشویق کوونکو خبرو ته هیڅ پام ونکړو.

اخر ښځې، ماشومان او بوډاګان له کوره ووتل اوانګریزد قومي مشرانو سره زمونږ په کور ورننوتل. کورته د ورتلواجازه وه خو دننه نه بهرهېچا ته د وتلو اجازه نه وه د هرې خوا نه یې څارنه کېده.انګریزانو په کورکې دننه ټوله وسله او ګولۍ ونیولې او هغه څلورسړي چې زما د تره زوی علم خان هم پکې شامل و، ګرفتارکړل. د کورنورسامان هم د غنیمت په توګه سرکاري کړل او څه چې پاتې وو، هغه ته یې اورورته کړو.

زما ورور چې له دې پېښې خبرشو نوسمدلاسه د پېښورنه کلي ته ورسېدو خو کورړنګ و، قیدیان یې بیولي وو اوانګریز له دې علاقې وتلی وو. زمونږ ښځو او ماشومانو د بوستی خېلونورو کورونو ته پناه وړې وه. زه چې دوه ورځې وروسته د ښکارنه بېرته راغلم نو په لاره د دې واقعې نه خبر شوم. ما خپل یو سړی په تیراکې محمود اخونزاده ته وروا‌ستوو چې زما د ټبر لپاره هلته د اوسېدو بندوبست وکړي.بروس د قومي مشرانو په لاس پیغام راوستاو چې زه دې ځان بخپله بې کوره نکړم ځکه انګریز حکومت زما خلاف د نورو عملیاتوهېڅاراده نه لري او د دوی له قوله ما ته یې د خپلو کړو سزا راکړې وه.

د دې په ځواب کې مې ورته ووېل چې د برطانوي طاقت سره هم تاسو راته هیڅ تاوان نه دی رسولی ځکه ستاسو دا عمل لکه د غلو و چې زه په کور کې نه وم او تاسو په ښځو چپاو وکړو. زمونږ توان د تاسو په مقابله کې



ډېرلږ دی خو په کومه میرانه چې مونږ درسره مقابله کوو، د دې بدل تاسو په سلو کالوکې هم نشیاخیستی.او نه د برطانیې په تندي لګېدلی داغ پاکېدی شي. زما له خوا تاااو برطانوي سرکار ته داپیغام دی، اوس چې زه د خپل قام نه ووتلم نو خبردار واوسئ او په دې ځان پوهکړئ چې زه به خپل بدل اخلم او خپل څلور کسان هم ستاسو له بنده راخوشې کوم.

له دې وروسته ما خپل ټبر تیراته یوړو. د اخونزاده کسان راسره داورکزو په فیروزخېلو کې مخامخ شول. ما کورنۍ خپل ترهایمل خان ته وسپارله، د شهزاده خان سره کوهاټ ته ورغلم او د شپې په ښار کې وردننه شو. په بایسکلونو سپاره دوه انګرېزان مو ولیدل او د نیولوهڅه مو وکړه خو دوی رانه په تښتېدو کامیابه شول، مونږ ورباندې ګولۍ وچلولې خوژوندي ووتل. ورځ مو په غرونو کې تېره کړه او د شپې بیا ښار ته ورغلو او چاونۍ کې داخل شو. هغه ځای ته د عامو خلکو ورتلل ممنوع وو، د شپې به ورباندې سخته پهره وه او سپایانو به ګشت کاو. خو د تیاره له کبله مونږ ته هیڅ مشکل پېښ نشو. په هغې چاونۍ کې یو ټبرهم اوسېداو یو کلپو چېانګریزان به ورته د تفریح او ډوډۍ خوړلو له ورتلل. زما ورور شهزاده خان کلب ته ورنږدې شو او د کړکۍ د ښېښې نه یې دننه وکتل. هلته په لوی شمېرانګریزان خوراک موسیقی او په ګډا لګیا وو. مونږ د کلب د لارې نه لیرې پاتې شو چې هسې نه څوک مو وګوري.

هغه وخت یوانګریزسړی، ښځه او یو بل کس مو ولیدو چې په لاس کې

یې چراغ او زمونږ لوري ته روان وو. مونږ پټ شو. پهګشت ماموروسپايي هم هلته موجود وو او ګمان مې وکړو چې کېدېشي ګشت کوونکې زمونږ له شتو خبرشوي وو. ماشهزاده خان ته وويل چې زه دا ښځه نيسم او ته پهانګريزسړي د ټوپک ګوزار وکړه. په دې کې دګشت ډله رانږدې شوه، مونږ د يوې ونې شا ته پټ شو.ګشت کوونکو ناره کړه او ځوابورله انګريز ورکړو، بيا د ګشت ډله لويديځ لوري ته تاوه شوه اوانګريز سړی او ښځه ختيځ لوري ته لاړل. له هغې وروسته ښځه د سړي نه بېله او کورلوري ته روانه شوه، مونږ ورپسې لاړو خو هغه زمونږ د رسېدو نه وړاندېد چراغ بردار سړي سره کور ته وردننه او دروازه يې بنده کړه. هم هلته څو بوټي وو چې مونږ پکې پټ شو. څه نا څه يو ساعت د انتظار نه وروسته کله چې ډاډه شو چې هغوی به ويده وي نو مونږ په بنګله ورننوتلو. د هغه ځای تفصيلي جاج مو واخيستو او بيا د ورځې تېرولو لپاره غره ته لاړو چې د شپې ښکار، ياني هغې ښځې د تښتولو لپاره بيا راشو. د شپې چې راغلو نو هرې خوا ته د سپوږمۍ رڼا خپره وه او داسې ښکارېده چې مونږ به خپل هدف ترلاسه نکړی شو. هغه شپه مونږ په جاج اخيستو او منصوبه جوړولو کې تېره کړه او سهار مهال له هغه ځایه لاړو. فکر مو وکړو چې يو وارد کورنۍ سره ليدو لپاره تېرا ته ورشو او د هغوی د خوراک څښاک بندوبست نه وروسته بيا د خپل ښکار په لټون راووځو.



کله چې مونږ کوهاټ نه روان شو نو په لاره هغه غرنه تېرېدو چې زمونږ کلي او کور ترېنه ښکارېدل. څه ګوروچې د کلي خلکو خپل څاروي زمونږ پټيو ته ورخوشې کړي دي چې په غنمو کې څرېدل او يو کس ورته د څارنې لپاره په تيږه ناست و. د خپل قام په دې نامردۍ مونږ دومره خفه شو چې ترمرګه به د هغې اثر زما له زړه څخه ونه وځي. د غره د سر نه شهزاده خان په هغه شپونکي ډز وکړو، ما ورته په دوربين کې کتل.کله چې ګولی د هغه شپونکي مخې ته پر زمکه خښې شوې نو وارخطا د کلي لور ته يې منډې کړې. لږ وروسته د کلي خلک ډډول، سورنااوټوپکو سره (په چغه) هغه غر لوري ته روان ښکاره شول. مااو شهزاده خان خپل د پټېدو ځای بدل کړو او هغه ورځ مو په غرونو کې تېره کړه.

د شپې مونږ خپل وران کوراو پټي ليدلو له کلي ته ورغلو. بيا مو د يو يو قومي مشر دروازه وټکوله او هرڅوک چې به را بهر شول، هغه مو نيولو او يو داسې ځای ته به مو يوړو او وتړلو چې د يو بل د شتو نه خبر نشول. بيا ټول مو يو ځای کړل او هغه بې عزتي مو ورته په ګوته کړې چې زمونږ په مقابله او د انګريزانو په حمايت کې يې کړې وې. مونږ ورته وويل چې ستاسو پښتونوليااو اسلامي غيرت دا و چې زمونږ دولت، مال اوکور انګريزانو ته وسپارئ.او اوس زمونږ په تيار فصل کې خپل څاروي وڅروئ! اوبيا۳۰۰ وسله وال کسان په غرونو کې راپسې خوشې کړئ! دا

چلند چې تاسو مونږ سره وکړو د انګرېزانو د عمل نه بدتردی! اوس دا زمونږ فرض جوړېږي چې تاسو په داسې شرمونکي مرګ ووژنو چې په تاریخ کې یې بېلګه نه وي!قومي مشرانو خپله غلطي ومنله او قسم یې وخوړو چې که په راتلونکيکې د دوی خره یا چرګان هم زمونږ پټیوته ورغلل نو د یو څاروي په سر به دوی راته ۱۰۰ روپۍ جریمه راکوي. په بله ورځ د قام ټول مشران یو ځای شول او دا لوړه یې وکړه چېد عجب خان او شهزاده خان پر زمکه که چا کس یاحیوان قدم کېښودو نو هغه به پنځه روپۍجرمانهورکوي. د قام له دې فیصلې وروسته مونږ تیرا کې خپل تېرته لاړو.

زمونږ په غیرموجودګۍ کې بروس د قام خلکو ته په ښنګزن ډول دا ویل چې عجب خان او شهزاده خان ځانونه د صوبه سرحد راسن لوپن(ارسین لوپین) او نپولین بوناپارټګڼي. خو تاسو خلکو ولیدل چې داسې وتښتېدل چې اوس یې نوم هم پاتې نه دی. ځینو خلکو بروس ته وویل چې مونږ هغوی پېژنو، خپل بدل به ارو مرو اخلي.

مونږ تیرا کې خپل تېرته لاړو، په هغو ورځو کې د ادم خېلو قام د میرک خان اوسلطان میر سره ایسار وو.میرک او سلطان میر د ۴۰ کسانو په هغې دستې کې شامل وو چېاخونزاده پهانګریز چاونۍد حملې لپاره ما ته کوهاټ ته رالېږلي وو.په هغوعملیاتو کې مونږ یو شمېر پوځیان ووژل او د دوی وسله مو لوټ کړه.دوه ورځې د خپلې کورنۍ سره د پاتې کېدو



وروسته مونږ محمود اخونزاده سره (سمه ماموزی) ته لاړو. هغه ته مو د دعا خواست وکړواو بیا د خپل ښکار په لټون کوهاټ ته روان شو. په دې کار کې دوه نور کسان هم راسره مله شول.

کوهاټ ته په رسېدو مونږ نیغ هغه هدف ته لاړو چې خو ورځې وړاندې موغوره کړی و. د تلو سره مو دا ډاډ تر لاسه کړو چې زمونږ هدف یانې هغهانګریز سړی او ښځه پخپل ځای موجود وو. له دې وروسته بېرته غره ته لاړو او ورځ موهلته تېره کړه. د شپې تقریبایوې بجې شاوخوا مونږ خپل هدف ته ورسېدو. د بنګلې کړکۍ سره مو یو پړی وتړلو او زه وردننه شوم او شهزاده خان لپاره مې ورپرانستو. دوو نورو کسانو ته مو وویل چې څارنهوکړي او که څه خطر وګوري نو مخه یې ونیسي. د هغه ځای نه مونږ دانګریز ښځې په کوټه کې وردننه شو، مونږ خبرنه وو چې په هغې کوټې کې دوه ښځې وې. ځکه د دې نه وړاندې مونږ د جاج اخیستو او پلان جوړولو لپاره هر وخت چې هلته تلو نو یوه ښځه او یو سړی به مو لیدل. نو داسې فکر مو وکړو چې په کوټه کې به هغه ښځه او سړی ویده وي. ما د چورباتۍ (لاسي چراغ) په رڼا کې د لیدو هڅه وکړه خو یو چا په لته هغه زما له لاسه وغورځوله چې پریوتو سره ماته شوه. هم د هغه کس په لاس کې یوه شپېلۍ وه او کوشش یې وکړو چې شپېلۍ په غړولو د خطراعلان وکړي. کله چې شهزاده خان ولیدل نو هغه کس سره ونښتو او مجبورشو چې ورباندې د خنجر ګوزار وکړي او د شپېلۍ غړولو

نه يې منع کړي. که ساتندويان خبرشوي واى، زمونږ کاربه نورهم ګران واى. په دې وخت کې ما مس اېلسد لاس نه ونيوله او کور نه مې بهر بوتله.په دې ټول کشمکش کښه تقريبانيم ساعت تېر شوی وي خو په بل چا کې دومرههمت نه و چې هغه جينۍ يې زمونږ له پنجو خوشې کړې واى. هغه وخت په چاونۍ کې په زرګونو پوځيان موجود وو. که زه دا دعوهوکړم نو مبالغهبه نه وي چې دا يو بې سارى کار و او د خلکو په زړه کې زمونږ وېره دومره وه چې بيا چا زمونږ مخې ته د راتلوهمت ونکړو.

شهزاده خان اېلسپه شاواوچته کړهاو ما د شهزاده خان د دفاع لپاره خپل ځان تيار کړو.شهزداه خان ډېر زړور و خو زما په پرتله د هغه تجربه کمه وه. شهزاده خان اېلس په شا کړه او روان شو او مونږ درې کسان د هغه په ساتنه شو. د وتلو لپاره مو د کوهاټ ښار لويديځ لوري ته د تلو فيصله وکړه خو قدمونه مو بې ارادې د ښارختيځ لوري ته واخيستل. په لاره ساتندويان وارخطاو پښه نيولي ولاړ وو او مونږ بې له څه مزاحمت د چاونۍ له بريده ووتلو. کله چې مونږ د کوهاټ خوشې برخې ته ورسېدو نو هغسې چې پخوا مو د لويديځ لوري ته د تلو فيصله کړې وه، برعکس مونږ ختيځ لوري ته تاو شو که څه هم داسې مو ګڼله چې ګني مونږ لويديځ لوري ته روان وو. هغه وخت په چاونۍ کې دننه د خبرداری نغاره وغږول شوه. ټول سپايان د وسلو سره، پلې، په اسونو او جنګي ګاډو کې د کوهاټ لويديځ لوري ته په منډه شول.



مونږ سهار وختې د يو لوړغرڅوکې ته وختلو او په يوغار کې پټ شو. هلته مو درې ورځې او شپې تېرې کړې. د غاښی سړک(کوهاټ پېښورته) مونږ نه د څلورو ميلو په فاصله و، د غره په لمنه کې يوه ابادي هم وه. په دې وخت کې زمونږ خواړه او اوبه خلاص شول خو د مس اېلسلپاره مو څه نا څه ساتلي وو. د غرونو تازه هوامونږ ښه مستعد او چست ساتلي وو. زه خپله ځواني او زورد نړۍ يو څيز په بدل کې ورکولو ته تيار نه يم.شهزاده خان مس اېلسته ووېل چې د نورو په عزت لاس اچول د اسلام او د پښتونولی نه لیرې دي. په تېره زمونږ خلکو لپاره دا لکه د يو تور داغ ته ورته وي. نو ځکه ته ډاډه اوسه چې د پښتنو په قيد کې يې او مونږ به د خپل مور او خورنه زيات ستا حفاظت کوو.

مس اېلسپوښتنه وکړه چې که تاسو ما د تاوان په بدل کې خوشې کوئ نو څومره تاوان به غواړئ؟ شهزاده خان ورته ووېل چې تقريباڅلور لکه روپۍ. په دې هغه موسکی شوه او ويې ويل چې دا خو ډېرې دي. په دې شهزاده خان ورته ووېل چې ښه مونږ به دې پرېږدو خو په دې شرط چې ته مونږ ته د بروس د ښځې پته راکړه چې ستا په بدل کې هغه ونيسو. دا چې يې واوريدل نو مساېلس حېرانه شوه، يو اسويلق يې وکړو او ووېل چې زه پوهه شومه، عجب خان د بروس د ښځې په لټه دی او هغه به ما د څلورو لکو په ځای څلور کروړو لپاره هم نه خوشې کوي ځکه ته زما په بدل کې د هغې ښځې نيول غواړې.

کله چې مامساپلسد بسترې نه اوچته کړه نو هغه لړه لوخه وه او شهزاده خان خپل څادرهغې له ورکړو چې ځان پکې پټ کړي.مساپلسچې څادر ولیدو نو لړه خفه شوه ځکه په هغې وینې لګیدلې وې. د دې نه علاوهمساپلسد خپلې مور ګړۍ هم ولیده چې د پرزونو پر وخت د شهزاده خان لاس ته ورغلې وه او په وینو لړلې وه.

مساپلسوویل چې داسې ښکاري تاسو زما مور وژلې ده. په دې خبره مونږ ډېرغمژن شو ځکه مونږ ښځه وژل نه، بلکه تښتول غوښته.مساپلسد یو سړي په شان په مونږ د برلاسي هڅې کولې څه چې مونږ نه غوښتل هغه شوي وو.

شهزاده خان مساپلسته وویل، ته چې څنګه سوچ کوې، هغسې نه ده، ستا مور ژوندۍ ده، هغه ډېره تکړه وه او ما سره یې ډېرې پرزونې وکړې چې په هغه دوران کې د پوزې نه یې وینې روانې شوې.دا ګړۍ خو پرمیزایښې وه او ما له هغه ځایه اوچته کړه.اوس چې دا ستا د مور ګړۍ ده نو ته یې ځانه سره وساته. په دې مساپلسلړه ډاډ منه شوه.

څلور ورځې وروسته مونږ د هغه ځای نه روان شو. په لاره به موځنګلي میوې او بوټي خوړل تر څو تېراادم خېلو کې خپلې کورنۍ ته ورسېدو. په دې وخت کې په عامو لارو د انګریزانو پهره وه خو د خدای په فضل هېچرته زمونږ مخې ته رانغلل. که زه د هغه سفر حال درته بیان کړم نو پوره کتاب به وربانديې لیکل غواړي. زمونږ کور ته د رسېدو سره



سمدلاسه قومي جرګه راغله او غوښتنه یې وکړه چېمساپلسدې ورته وسپارو او هرڅومره تاوان چې غواړو هغه به راته راکوي.شهزاده خان ورله ځواب ورکړو چې هغه د داسې قام سره خبرو ته تیار نه دی چې د انګریزانو لپاره یې د دوی سره بده وضع وکړه او د نورو قامونو پېغور یې په ځان واخیستو.او دا چې مونږ د کروړونو روپو په بدل کې به هم جینۍ ورته نه ورکوو. په دې خبره قومي جرګه بېرته لاړه.

له جرګېوروستهقلي خان، چې په کورمهکې سرکاري ملازم و، محمود اخونزاده ته ورغلو او غوښتنه یې ترې وکړه چې مساپلسدې هغه ته وسپارل شي.اخونزاده راته وویل چې جینۍ ورته واپس کړو. مونږ ویل، ښه ده، انګریز دې زمونږ بندیان خوشې کړي او د کوراو مال تاوان پوره کړي نو جینۍ به پرېږدو.اخونزاده دقلي خان سره دا فیصلهوکړه چې زمونږ څلور قیدیان به ورخوشې کړي او د اتلسو زرو تاوان به پوره کوي چې له هغې وروسته به جینۍ ورخوشې کړو.

مونږ دافیصلهومنله، سره له دې چې زمونږ غوښتنې له دې زیاتې وې. خو چونکهاخونزاده یو مجاهد او دینداره سړه وه نو د دې لپاره مو د هغه خبره ومنله. داجرګهایله ختمه شوې وه چې زمان خان تیراته ورسېدو. هغه داپریدو د کوکیخېلو څانګې نه و دانګریزانووظیفه خور و. هغه د انګریزیه وړاندې غورې کړې وې چې په زوره به نه یوازېمساپلسراخوشې کړي بلکه عجب خان به هم ونیسي او د دوی په

وړاندې حاضر کړي.

تېراته په رسېدو هغه مونږ ته پیغام راوستاوه چې نه خو ستا قیدیان به خوشې شي او نه به تاوان ورکړل کېږي‌او ستا خبره دې کې دی چېمساپلسسمدلاسه ورخوشې کړې. د زمان خان دا چلند د سړيتوب او د اخلاقو نه پریوتی و او په دې مونږ سخت په قهر شو. د محمود اخونزاده پهجرګههم مونږ پښېمانه شو او ورته مو وویل چېمساپلسبه چرې همانګریزانو ته نه ورسپارو. له دې وروسته یوه درېیمهجرګه"توره وره" کې وشوه چې پکې د پېښور کمشنرلاټ، بروس اوځینو نوروانګریز افسرانو ګډون وکړو. دا خلک د کربوغه ملا صاحب ته ورغلل او هغه ته عذر او زارۍ وکړې چې د دوی استاځوسره مرسته وکړي چې محمود اخونزاده سره وویني او هغوی عجب خان ته تاوان ورکړي.

ملا صاحب چې داخونزاده پیرهم و، انګریزان اخونزاده ته د وروستلو نه معذرت وغوښتو ځکه هغه د دوی د ژوند ضمانت نشو ورکولی.البتههغوی یوه استاځې ډله جوړه کړه چې پکې مغل باز خان، نصرالله خان او یوه نرسه شامله وه.او هغه ډله د خپل زوی په مشرۍاخونزاده ته ورواستوله.

د نرس د وراستولو هدف دا و چې هغه دمساپلسمعاینهوکړي او دا خبره معلومه کړي چېمساپلسره جنسی تېری خو نه و شوی. کله چې داجرګه محمود اخونزاده ته ورسېده نو هغه مونږ ته پېغام راواستاوه



چېمساپلسد ځانه سره زما کور(ماموزی)ته راولې. د هغه کورشاوخوا درې میله لیرې و. مونږ‌مساپلسد اخونزاده کور ته د وړلو لپاره ووتلو. بل خوا زمان کوکیخېل، چې مونږ ترټلی و، د یو لښکر سره په هغه کورحمله وکړه چې مونږ پکې پناه اخیستې وه. په کور کې یواځې زما ترهایمل خان موجود و. هغه په لښکر ډزې پېل کړې او ځلور کسان یې ترې ټپیان کړل. د انګریزانو په لاس مونږ ته دومره تکلیف نه و رسیدلی څومره چې زمان خان راته ورساوه، که څه همانګریز زمونږ دښمن و. دلته (ماموزو کې) جرګهروانه وه چې میرک داپیغام راوړو چې تاسو خو دلته جرګهکوئ او هلته زمان خان د یو لښکر سره زمونږ په کورونو چپاو وکړو او هر څه یې لوټ کړل. شهزاده خان سمدلاسهمساپلسد لاس نه ونیوله او د جرګې نه یې لیرې بوتله.او ویې ویل چېزمان خان زمونږ کور په لوټلو لګیا دی او تاسو جرګه کوئ. د هغه د لاسه زمونږ ښځې او ماشومان په ځنګله کې پناه اخیستو ته مجبوره شول،زه دا جرګه نه منم!

اخونزاده فورا زمان ته پیغام ولېږلو چې کهمساپلسزمونږ له لاسه ووتله نو د دې ټوله پړه به ستا (زمان خان) پرغاړه وي.سرکاری استاځو او اخونزاده دواړو د زمان خان په دې عمل معافي وغوښتله او خپلې فیصلې په منلو یې ټینګار وکړو.

هغې نرسې چې دمساپلسمعاینې لپاره راغلې وه، له هغې وپوښتل چې ورسره

جنسي زياتي خو نه و شوی.مساېلس د جرګې په وړاندې زمونږ د ښه
چلند او شرافت ستاینه وکړه او پښتونولي او پښتنانه يې ډېر وستايل.نرس
مساېلسيوې بلې کوټې له بوتله او کله چې بهر راوتله نومساېلسوويل
چې،که شهزاده خان زما د مور قاتل نهوې نو ما به ورسره واده کوو او دا
خبره مې شهزاده خان ته ليکلې هم ورکړې ده چې که دا ثابته شوه چې هغه
زما د مورقاتل نه دی نو زه به ورسره واده وکړم خوافسوس چې هغه زما
مور وژلې ده.

که دوی زما د مور قاتلان نه وای نو دواړو ته به مې د دوی د ښه سلوک
داسې ښه بدل ورکاوه چې تاريخ ليکونکو او د دې داستان لوستونکو ته
به يادګار جوړ شوی وای. د برامته پر وخت دوی له ما سره ډېرشرافت
وښودلو او د دوی دا چلند به زه چرې هم هېرنکړم.

د خوشې کېدو د تړون نه وروسته مس اېلسهغه ليک بېرته وغوښتو او
شهزاده خان لږ شوخي نه وروسته هغه ليک ورته واپس کړو. جرګې هغه
ځای هم وټاکلو چې قيديان به پکې يو بل ته سپارل کېده. له دې
وروسته د تاوان د ۱۸۰۰ روپو نه مو يو امېل جوړ کړو چېاخونزاده
مساېلس ته په غاړه کړو. د اخونزاده يو اس هم مونږ سره امانت و، په
هغې مومساېلسسپاره کړه او هغه ټاکلې ځای ته مو روانه کړه. هلته
بنديان تبادله شول او ورسرهاخونزاده په لاس دانګريزانو سره د شپږو
مياشتو لپاره د امن يو تړون هم وشو خو انګريزانو چرې هم په دې عمل



ونکړو.

مونږ د بروس او زمان د لاسه رسيدلی تکليف هم ورته وبخښلو ځکه
چې کومه نرسه د استاځو سره راغلې وه، هغې رانه بخښنه وغوښتله. د
پښتنو د دود سره سم، که يوه ښځه د چا کور ته ورشي او معافي ترې
وغواړي نو بيا ځانياو مالي تاوان ورته وبخښل شي.څو ورځې وروسته
انګريزانواخونزاده ته پيغام ولېږلو چې عجب خان د خپلې پولې نه بهر
وباسي که نه د جنګ لپاره دې تيار شي.

محمود اخونزاده مونږ سره ژمنه کړې وه چې کهانګريز لس وارې هم د ده
په کور بمباری وکړي، هغه به مونږ د خپل پناه ځخه نه اوباسي. خو کله
چې دانګريزانو پيغام ورسېدو نو هغه راته د خپلې سيمې نه د وتلو وويل.
د قيديانو د تبادلېايله دولس ورځې شوې وې. مونږ چې کوم ځای ايسار
وو، هلته دانګريزانوطيارو نکرانې شروع کړه. مونږ د اخونزاده په وينا د
ده له سيمې ووتلو،اورکزي کېغونځېپه نوم يو ځای دی، هلته لاړو. خو
چا پناه رانکړه او مجبور شو نو سعيد انور شاه ته لاړو چې دافغانستان
نمايندهاو وظيفه خور و. د شپې زمونږ ټبر هم راسره يو ځای شو. سهار
۴۰ کسان راغلل او راته يې هغه ځای د پرېښودو وويل ځکه هغوی راته
پناه نشوه راکولې. له هغه ځای مونږ د شينوارو سيمېنازيانته لاړو. دا
دافغانستان خاوره ده چې د ټبرا په پله وه. دلته مو هېڅوک نه پېژندل
البتهد سعيد انورشاه خسر هلته اوسېدواو مونږ هغه ته لاړو.

**دوست محمد:**

زما تره چې کله دې ځای ته ورسېدو نو په ژور سوچ کې ډوب شو، داسې لکه چې په تصور کې د هغو پېښو جاج بیااخلي. څو شېبې وروسته یې سر پورته کړو او ما ته یې وویل:

عزیزمن، اوږده موده تېره شوې ده، تر ټولو ګرانه راته د محمود اخونزاده نهتېرااو تېرانه د شینوارو سفرو.خو تفصیل کې به نه ځو، زه نه غواړم چې د تېرشویو حالاتو تفصیل ته لاړ شم. ځکه چې د هغې لپاره به ډېر وخت پکار وي چې لوستونکو لپاره به د تکلیف سبب شي.

دا یې وویل او خپله کېسه یې جاري وساتله.

کله چې مونږ شینوارو ته ورسېدو نو وړوکیاختر ته څو ورځې پاتې وې. د اختر نه څو ورځې وروسته د شینوارو قومي مشران، چې پکې سازمیرخان، شیرخان، منصورخان، غمیرخان او نور مشران شامل وود"مندتې" په ځای کې یوه جرګهوکړه او جرګې دافیصلهوکړه چېعجب خان او شهزاده خان په ناپوهۍ زمونږ خاورې ته رادننه شوي دي نو لازمهده چې هرډول د دویاخلاقیاومالیمرسته وشي. که انګریزانو په افغانستان ډېر فشار راوړو بیا هم مونږ له پکار دي چې د عجب خان ملاتړ او ژغورنه وکړو.انګریزانو۱۸۰۰اپریدیان په کار ګومارلي وو چې هغوی زمونږ مخبري وکړي او هر کس ته به یې څلور روپۍ د ورځې مزدوري ورکوله.



مونږ خپلې ښځې او ماشومان یو خوندي ځای ته یوړل نو بیا د دوی له ژغورنې بې غمه شو. همدا وه چې زه، شهزاده خان، د تره زوی علم خان اواتهکسان شینواري دتېرا نهخوست ته لاړو. له هغه ځایه مونږ بیا توتکۍ او پاړا چنار ته ورغلو. مونږ خوشې ګرځېدو او د شپې تېرولو لپاره یو کورته ورغلو. څه ځانګړې واقعه پېښه نشوه او په بله ورځ مونږ مقبل غرته وختلو، هلته مو ورځ واړوله او د شپې بیا ښار ته لاړو. د یو شینواري عمرا خان نه علاوه، نورو ټولو شینوارو ښار ته د ورتلو نه ډډه وکړه. کله چې مونږ د شینوارو نه، ښکارلپاره روانېدو نو د عمرا خان مور خپل زوی ته وویل چپاول خو مه څه او که ورځې نو خدای پاک دې ستا ساتونکی شي! اوزما دا خبره د زړه په غوږو واوره چې که عجب خان ووژل شو نو ته ما ته ژوندی رانشې ځکه ته که داسې ژوندی راغلې نو خلک به راته پېغور راکوي او دا زما غیرت نشي زغملې. د هغې په لاس کې یو تبر و او خپل زوی ته یې وویل چېږه به دې په دې تبر وژنم چې د خلکو له پیغوره خلاصه شم.

مونږ څلور واړه د یو انګریز بنګلې شا ته لاړو او د یوې کړکۍ نه مو کتل چې دا خلک ویده شي. په دې وخت کې یوهانګریزه ښځه او سړی بنګلې ته لاړل او ویده شول. زمونږ اراده وه چې سړی به وژنو او ښځه به تښتوو. لږ انتظار مو وکړو چې هغوی ژورخوب ویده شي. دروازه مو ماته کړه او بنګلې ته ورننوتو. د دوی اجل راغلی و او د تښتېدو هڅه یې

ونکړه. په هغې کوټې کې د دوی یو سپی هم و او انګریزانو ورته وویل چې په مونږ حمله وکړي. د ټوپک په کنداخ مې سپی یوې ډډې ته کړو او په انګریز مې دوه ډزې وکړې چې خطا لاړې.انګریز ما پورې ونښتو، په کوټه کې تیاره وه او کله چې ښځه د پالنګ نه اوچته شوه نوعلم خان ورباندې د سړي په اشتباه ډز وکړو او ښځه یې ووژله. سړي ډېر زور لرلو او شهزاده خان د شا نه وربانديې د خنجر وار وکړو او ویې وژلو. په هغه کور کې نور خلک هم وو چې خرېدل خو هغوی څه حرکت ونکړو.

مونږ د تیارې نه ګټه واخیسته چې تل زمونږ پټمن ملګرې پاتې شوې وه او بیرته ځنګله کې د خپلو شینوارو ملګرو سره یو ځای شو. زمونږ جامې د انګریزانو په وینو لړلې وې او سخت وږي هم وو. کله چې ملګرو ته ورسېدو نو هغه وخت یو شپونکی د وزو رمه ځنګله ته د څرولو لپاره په مخه کړې وه. زما ملګرو ورته وویل چې یوه وزه دې راته راکړي چې حلال یې کړو او خیټه مړه کړو خو شپونکي ونه منل او د کلي خلک خبرولو ته لاړو. په لږه شېبه کې شاوخوا۱۰۰ کسانو زمونږ مخه ونیوله.

شهزاده خان مونږ نه وړاندې روان و او هلته د خپلو جامو نه وینو وینځلو کې لګیا شو. د کلي خلکو ته یې وویل چې زما د ملګرو نه غلطي شوې ده او مونږ وزه نه ده حلال کړې نو د دوی خطا راته وبخښئ. د کلي خلکو نه منل او ټینګار یې کوو چې کوم سړي وزه نیولې وه، هغه دې ورته وسپارل شي.



شهزاده خان ورته وویل چې تاسو ګورئ نه چې زما د جامو نه وینې څاڅي، دا د یو انګریز او د هغه د میرمنې وینې دي. مونږ په وینه ککړ یو نو ستاسو دا ګواښ نشو منلی. دا چې یې واورېدل نو خلکونور څه ویلوته زړه ښه نکړو او مونږ ته یې لاره پرېښوده، ټخپله بیرته کلي ته لاړل. مونږ سمدلاسه روان شو او داړولی په نوم یو کلي ته ورسېدو. دا کلی دافغانستان سرحد ته بالکل مخامخ و. هلته په ځنګله کې مو هوسۍ ښکار کړې او خیټه مو مړه کړه. شهزاده خان درې هوسۍ ښکار کړې، هلته د لرګیو کمی نه و، تیکې موجودې کړې او ښه په مړه ګېډه مو وخوړلې.

په بله ورځ مونږ د کورمې نهتېراته د تلو فیصله وکړه خو نورو ملګرو مو نه منل او ویې ویل چې ښه ډېره غوښه لرو او بله شپه به هم هلته تېروو. بله شپه مو هم هلته تېره کړه او ګټه یې دا وه چې دګرفتارۍ نه پاتې شو ځکه په کومه لاره چې مونږ ورتلوهغه انګریزانو ټخوا راته نیولې وه د "توتکۍ" نه تر ټل د هغوی سپایانو کمین نیولی و. په دې وخت کې چاانګریزان خبر کړل چې عجب خان د ځاځیو د لارې ننګرهار ته تللی دی. دا چې یې واورېدل نو انګریزانو لارې خوشې کړې او سپایان یې بیرته وروغوښتل. په دې توګه مونږ د یو عادي لارې نه تېرا کې خپل ملګري ته ورسېدو. د انګریز د لارې تړلو خبره راته خپل ملګري وکړه. هغه راته وویل چې ستاسو قسمت ښه و ځکه که پرون راغلې وی نو یا خو به نیول کېدئ او یا وژل کېدئ. د هغه ملګري نه مو د خوراک

ځنباک توکي واخستل او د دریو ورځو د سفر نه وروسته خپلې کورنۍ ته ورسېدو. په دې سفرکې مونږ د زمان خان کلي څنګ ته تېر شو. پهتېراکې مورګهنومې یو غر دی، هلته مو واورېدل چې د زمان خان قام ته د انګریزانو دااعلان کړی و چې د عجب خان د نیولو لپاره دې هلته د ټولولارو څارنه وکړي. د لارې څارونکو هرو دوو کسانو ته یو ګډ (پسه) د ورځې مقرر و چې خلک ښه بیداره څارنه وکړي. کله چې مونږ د هغې سیمې نه په خبر ووتلو نو زړه مو ډاډه شو چې د خطر نه بهرووو.او یو وارې بیا مو وینې راکې ګردش وکړو. په لاره د یو غر په څوکې د کاکاخېل میا صبب کور و، هغه د بازانو ښکار کاوه. مونږ د ده کور ته وردننه شو نو هلته مو ډېره ایره او د څناورو هډوکې ولیدل. شهزاده خان مو په څارنه کېنولو او پخپله ویده شو.

شهزاده خان د میا صبب نه هسې د ایرو او د هډوکو حال وپوښتلو نو د میا صیب په ځواب حیرانه پاتې شو. ورته یې وویل چې عجب خان په نوم یواپریدی په توتکۍکې یوه انګریزه ښځه او سړی وژلي او د هغه ماشومان یې برامته نیولي دي.زمان خان یو لښکرتیار کړی دی چې که عجب خان له دې لارې تېرشو نو هغه ونیسي.انګریزسرکارد لښکر د دوو کسانو لپاره یوه پسه د ورځې مقررکړی دی. دااېرې او هډوکې د هم هغو لښکریانو نه پاتې دي.شهزاده خان د میا صبب نه پوښتنه وکړه چې عجب خان څنګه سړی او د کوم قام دی. په دې خبره میا صبب ورته



په قهر شو او شهزاده خان ته یې وویل چې که ته عجب خان نه پیژنې نو بیا څوک پیژنې؟!

له دې وروسته میاصبب ورته عجب خان داسې وروپېژندلو: عجب خان ډېرمشهورسړی دی، هغه د اپریدو دادم خېل قام نه دی. هغه هروختانګریزان وژني. د زمان خان لښکریان ځکه له دې ځایه لاړل چې هغوی خبر شوي وو چې عجب خان د یوې بلې لارې نه شینوارو ته تللي دی.

شهزاده خان مونږغلي شان پاڅولو او راته یې وویل چې دا ځای راته خوندي نه دی. مونږ شپه په شپه له هغه ځایه ووتلو او د شینوارو په نازیانو کې خپل تېر سره یو ځای شو.

انګریزانو افغان حکومت ته وویل چې مونږ د افغانستان په خاوره پناه اخیستې ده نو ځکه انګریزانو ته مو وسپاري.انګریز ولس (خپل) حکومت ته پیغور ورکوو چې عجب خان او شهزاده خان مو کله وژني او کله مو تښتوي او تاسو د خپل ټول توان او قدرت سره هم د هغوی هېڅ نشئ کولی.افغان حکومت ورته په ځواب کې وویل چې عجب خان د دوی په سرحد کې دننه نه دی. په دې وخت کې زمان خان دتېرااو شینواروپه سرحد ډېره شو او قومي مشرانو نه یې غوښتنه وکړه چې هغوی ورته سوګند وخوري چې عجب خان د دوی په پناه کې نه دی. هغه د شینوارو قومي مشران د سوګند نه منع کولو لپاره اوو (۷) زرو روپو

ګډان ډالی کړل. له دې وروسته هغه انګریزانو ته لاړو او مشوره یې ورله ورکړه چې دامیرامان الله خان نه دې غوښتنه وکړي. د شینوارو قومي مشرانو نه دې قسم واخلي او د دې خبرې تصدیق وکړي چې عجب خان او شهزاده خان د شینوارو په خاوره کې نه وو.

د امیرامان الله خان په حکم یو مېړني افسر(احمد علي) خپل ماتحت کسانو ته دا دندهورکړه چې د شینوارو قومي مشرانو سره یو ځای په لواړګي کې انګریزاستاځي ته ورشي. هلته په رسېدو دا مشران قسم خوړلو ته تیارشول. په دې زمان خان انګریزانو ته وویل چې دا هغه مشران نه دي چې عجب خان ته یې پناه ورکړې ده. په دېانګریزانو هغو مشرانو نه قسم وانخستو.

احمد علی خان، زمان خانته ډېر په قهر شو چې ته ځان ته پښتون وایې خود انګریزانو غلام یې.احمد علی انګریزانو ته وویل چې کوم مشران د دوی پکار دي، هغه به په دریو ورځو کې دننه ورته حاضر کړي خو په دې شرط چې دا ځلې به هغوی لواړګیته نه ورځي بلکهانګریزان باید افغان سرحد ته ورشي.احمد علی هغه مشران چې زمان خان په نښه کړي وو په دریو ورځو کې په ټاکل شوي ځای وروستل. دانګریزانو د راتلو نه وړاندې زمان خان د دوی د شناخت لپاره سرحد ته ورغلو. کله چې هغه پهافغان حدودوکې وردننه شو نواحمد علی خان ورته (د وژلو لپاره) تمانچه ونیوله او ویې ویل چې هغه دانګریزانو تالي څټ اوغلام دی.



عجب خان اپریدی دیاو تههم اپریدی یې.شینواری چې د هغه قام نه دی، قسم خوړلو او د هغه غازیسړي په خاطر هرتکلیف اوچتولو ته تیاردي او ته نامرد او تالي څټ سپی د انګریزانوخدمت او خوشالي لپاره شینوارو ته تکلیف اوعجب خان د نیولو لپاره لګیا دي. دوه باچاهان پخپلو کې جنګول غواړي. شیطان او بې شرفه! هغه وخت دانګریزانواستاځي هم راغلو. زمان خان انګریز تهګیله وکړه چېاحمد علي خان په ده تمانچه راوویسته او ښکنځلې یې ورته وکړې.

انګریزانونهخو جرګهوکړه او نه یې شینوارو له قسم ورکړو، بلکهاحمد علي خان ته یې د جنګګواښ وکړو او ورته یې وویل چې په دې سلسله کې به بلهجرګه نه کېږي ځکه زمونږ ښځې راله پېغور راکوي چې د دومره شان او شوکت سره هم تاسو دوه کسان نشئ قابو کولی. دوی وایي چې تر هغې مونږ درسره نشو اوسېدیتر څو مو چې عجب خان او شهزاده خان نه وي ورک کړي.

احمد علی خان ترینه د یوې میاشتې موده وغوښته چې پلټنې وکړي او دا ثابت کړي چې عجب خان په افغانستان کې دننه نه و.انګریزانو په دې شرط هغه خبره ومنله چې د عجب خان درک ولګي نوافغانان بهپوځيعملیات کوي خو د دوی کومانده به دانګریز افسر په لاس کې وي. په دې ټولو موافقه وکړه او جرګه ختمه شوه.احمد علی خان د افغانستان د لوري شینواروته وردننه شو او مونږ ته یې پیغام راواستاوه

چې د شینوارو نه ووځو او دتېرا خاورې ته ورشو ځکه دانګریزانو
استاځې په شینوارو کې ستاسو د شتو یا نه شتو په اړه د سپیناوي لپاره روان
دی. مونږ د اوبو سره روان شواو په تېرا کې وردننه شو.

احمد علی خان د خپلې فرقې یو قوماندان نصیر احمد خان مونږ ته د یو
پیغام سره راواستاوه چې چرته یوهم هلته ایسار شو او ورسره شل ډبلې
کارتوس یې هم راولېږل. بل خوا د تېرا لوري نه د زمان خان لښکر هم
راغلو. په غرونو واوره پرته وه او مونږ سره د وتلو هیڅ لاره نه وه بس یو
د خدای اسره وه. مونږ او ماشومان مو د واورو سره عادت نه وو او
سخت په مشکل کې وو.

سید باچا، چې د افغان حکومت وظیفه خور و، د شپږو سوو کسانو سره
راغلو او زمونږ پناه ګاه یې ولیده. هغه یو لیکلې سند کې تصدیق وکړو چې
عجب خان په تېراکې دی او دغه سند یې امیر امان الله خان ته ورواستوه.
په دې انګریزان وارخطا شول اوامیرامان الله خان ته یې خواست وکړو
چې د عجب خان له پنجو د خلاصې لپاره دې ورسره مرسته وکړي. ځکه
د دوی(عجب خان) په فعالیتونوانګریزحکومت په ټوله نړۍ کې بدنامه
شوی دی.امان الله خان انګریزانوته ځواب ورکړو چې کههغوی عجب
خان افغانستان ته راوستلو نو په دې د افغان حکومت ډېر مصرف
راځي.انګریزانود ټولولګښتونو پره ټخپله غاړه ومنله او یو تړون یې
ورسره وکړو. له دې وروسته امان الله خان خپل استاځی پاچاګل خان



مونږ ته راولېږلو چې د مومندو پیر و. هغه د ځانه سره ځینې مشران هم
راوستل چې مونږ ته ډاډ راکړي چې ځان سره افغانستان ته د بوتلو لپاره
راغلي وو.

په دې دوران مساپلسانګریزانو ته وویل چې هغې د شهزاده خان سره لوظ
کړی و چې دا به دانګریز حکومت اوعجب خان تر منځ روغه کوي. نو
لازمه ده چې د هغې د لوظ درناوی وشي.مساپلس محمود اخونزاده ته
پیغام ورولېږلو چې که هغه عجب خان د ټبر سره خپل کور ته راوبللو
نو دا به ورته یو لک روپۍ( ۱۰۰ زره) په انعام کې ورکوي. د دی لپاره چې
انګریز حکومت روغې ته راضي کړي.اخونزاده مونږ بېرته رابللو نه
انکار وکړو.برطانوي غلام، زمان خان د انګریزانو په وړاندې ډېرې
غورې کړې وې چې عجب خان او شهزاده خان به وژني نو ځکه
دمساپلسپه ویناهیڅ ډول روغې ته اړتیا نشته.

زمان په ښکاره ښه شیطان او د انګریزانو تالي څټ و. د ده وجود کې د
پښتو او د پښتونولۍ هیڅ درک نه و او په پوره اخلاص د انګریزانو تر
اغیز لاندې و. هغه زمااو د مساپلستر منځ د روغې په لاره کې خنډ جوړ
شو.جبارملک، د زمان خان وراره و، خپل تره ته یې پیغام ورواستوه چې د
ده سره د خپلوي نه شرمېږي. ځکه هغه دانګریزانولپاره د عجب خان
وژلو ته ملې نغښتي و، حال دا چې دی في سبیل الله مجاد دې. د هغه لپاره
مشکلات جوړکړي دي، تا له شرم پکار دی چې د زړه له کومې د

انګریزانو د غلامۍ جغ دې په غاړه کړی دی. ستا له کبله په قام کې له شرمه زما سر ټیټ دی. کاش کهته زما تره نه وای او نه دې زه وراره وای!زمان خان د جبار خان په خبره هیڅ غوږ و نه ګراوو او ویې ویل چې د ده ډوډۍ د انګریز له دسترخوان راځي.

پاچاګل مونږ له راغلو. د معاهدې لومړیشرط دا و چې په جلال اباد کې به راته د استوګنې ځای راکوي. نور شرطونه هم وو خو مونږ تهاندازه وه چیافغان حکومت به مو په جلال اباد کې اوسېدو ته نه پرېږدي. که څه هم زمونږ خوښه وه چې هلته مېشت شو، داسې راته ښکارېده چې افغانستان پرېښودو ته به اړشو. خو زمونږ د فکر برعکس افغان حکومت د نورو شرایطو سره سره په جلال اباد کې د پاتې کېدوشرط هم ومنلو. مونږ ځان له تسلي ورکړه چې دا سیمه پولې ته نږدې ده او مونږ هر وخت د انګریزښکار ته تلی شو. د ټبر له خوا به هم راته اطمینان وشي او مونږ به خپل مزاحمت جاري وساتو.

✦✦✦



## اوم باب

# د غازیانو کلی

عجب خان د خپل ټبر سره د افغانستان په شمال کې نوی ژوند پیل کړو. د خپلو میرمنو نه علاوه ورسره څلورترورياڼي هم وې. د عجب خان د درېو مېرمنو نه ټول ۱۸ اولادونه وو چې لس زامن او اته یې لوڼې وې. د شهزاده خان پنځه زامن وو او د لوڼو شمېر یې نه دی څرګند. د حیدر شاه شېږ زامن او یوه لور وه چې په زامنو کې یې اوس یو جمعه شاه پاتې دی.

د ۲۰۱۲ م نه تر ۲۰۱۴ م پورې عمراپریدي د غازیانو کلي کې د عجب خان درېیم زوی، قاضي غلام حبیب، نمسي عبد الرحمان، د شهزاده خان زوی محمد صدیق، نمسي یار محمد (د دوست محمد زوې) او د حیدر شاه زوی جمعه شاه سره مرکې وکړې. دلته هغه خبرې یو ځای شوي دي. د ځینو په خبرو کې تضاد دی او د حافظې کمزوري یا د ډېر وخت د وتلو له امله یو بل سره ګډوډ شوي دي.

عجب خان په ځوانۍ کې د انګرېز په پوځ کې شامل و خو د ده په کورنۍ کې هېڅوک خبر نه دي چې ده څومره موده نوکري وکړه. دومره معلومات لري چې یو وخت هغه د کوهاټ په چاونۍ کې د سنتري (محافظ) دنده سر ته رسوله. "دی د دروازې له خولې نه واخله تر دننه د ودانۍ د هر ګوټ سره بلد و." عجب خان څه وخت د پوځ نوکري پرېښوده او یا ترې وویستل شو، څرګنده نه ده.

محمد صدیق خپل پلار شهزاده خان ته ډېرنږدې و او د سترګوعلاج لپاره یې کوهاټ، پېښور او کراچي ته یوړو. په هغو وختونو کې پلاربه ورته د خپلې مور کېسې کولې چې د سلطان میر لوراو "ډېره هوښیاره ښځه وه." شهزاده د هغې د خولې یوه کېسه وکړه، " یو وخت درې ورځې زمونږ په کورکې ټیکاله نه وه. هلته په درمندونو کې مې لوبې کولې نو بیا به چې وږې شوم نو مور ته به مې منډه کړه. ویل یې، دې به لږې نیني، جواري راته نیني کړې و. هغه به یې راکړل، ویل به یې دا دې دوره (اوره) لمده کړې مې ده. درې ورځې هم دغسې تېرې شوې چې په دریيمه ورځ مائیګردې پلار راغې، اوره ورسره و او په تبخي مې ټیکاله پخه کړه" دا میرمنه وروسته په مزارکې مړه او د دې تبر په هدیره کې خښه شوه.

محمد صدیق وایي چې انګرېزانو د کوهاټ په غاښي کومه تانه (پولیس سټېشن) جوړه کړې وه، د هغه ځای نه به ښکته ټوله دره ښکارېده. په درې کې ښځې لرګیو او نورو بوټو ټولولو لپاره ورتلې او بره نه د پوځیانو کتل د دوی لپاره یو ډول د شرم وږ وو.

د کوهاټ د تانې وسلتون (مېګزین) نه عجب خان ښه خبر و. هلته په سوونو ټوپکې ایښې وې او راویستلو لپاره اته کسان ورسره د تېرا نه مله شول چې یو پکې د ده مورنی نیکه سلطان میر و. وروسته دوی هغه ټوپکې پخپلو کې ووېشلې او "اخرچې یو ټوپک پاتې شو نو هغه یې د کوهاټ او د دره ادم خېلو په منځ کې یو زیارت ته وبخښلو. د محمد



صدیق له خولې "زمونږ نیکه وایي چې تر ۳۰۰ پورې ټوپکې وې ما سره. دا یې پخپل کلي کې یو کوهي کې پټ ایښې وو."

محمد صدیق وایي چې هغه وخت د افغانستان باچاامان الله خان په جلال اباد کې یوه جرګه رابللې وه. عجب خان خپل ورور شهزاده خان ورواستوه " ورته یې وویل چې ورشه هم هلته په جرګه کې ګډون وکړه او د امان الله خان په خلکو دا ټوپکې خرڅې کړه. په دې کې زیاتې ټوپکې او لوی شمېر کارتوس دوی د کوهاټ د غاښي د تانې نه او نور د پوځې چاونۍ نه وړې وې. هغو ټوپکو ته به یې "پټ ټوپک" ویل چې " یوولس ډزې" هم نومېدو. یار محمد وایي چې " بیا دلته خپلو ورته مصلحت ورکړو چې د افغانستان باچا ته پخپله د ټوپکو مه وایه. که یې واخستل نو ښه په ښه. خو که خبر شو چې دومره وسله درسره ده نو هسې نه چې نیت درته بد شي."

د عجب خان د خولې خبره ده چې " د وطن خلکو شیطانت وکړواو انګریز یې خبر کړو." د هغه شک پخپل تره "ایمل خان" او د هغه په زامنو و چې ورسره په کور کې اوسېدلا و د هر څه نه خبر وو. "سهار چې زمونږه نیا جیګه شوه نو ګوري چې توپې کور له سمې دي. دوی ډزې کولې...زما پلاراو تره په کورکې نه و او چرته ښکار له تللي وو. انګریزانو دا کور ولټوو او ټول (ټوپکې) یې یوړلې. دوه درې کسان یا زیات زمونږ خپلوان یې هم بندیان یوړل."

د کوهاټ په تاڼې د عجب خان د حملې یو دلیل د انګرېز د بند نه خپل ملګري راخوشې کول وو. محمد صدیق وایي چې " شاه زمان او شوکت علي دوه مبارزین د ده د پلار ملګري وو. داانګلیسانو ونیول."

یار محمد وایي د عجب خان درې ملګري انګرېزانو نیولي وو چې یو یې محمد عالم او بل میراکبر پخپلو کې د تره زامن وو. د درېیم نوم ورته یاد نه و. دوی د یو انګرېز د وژلو په جرم نیول شوي وو. د درې ملکان او خلک راغونډ شول او د انګرېزانو سره په ګډه زمونږ د کور تلاشي وشوه. بیا مورعجب خان ته پېغور ورکړو چې د پښتو او د پښتنو په وطن کې، تا دا پېغور له زه جوړه کړم. خپل تیونه یې ورته راویستي دي چې زه به شوده نه دربخښم، تاسو په مونږ انګریزان راننه باسل."

د تالاشی نه وروسته عجب خان تېرا کې محمود اخونزاده ته احوال ورکړو چې اسونه، قچرې یا خرونه راولېږې چې د دوی ښځې او ماشومان پرې سفر وکړي. دوی نیمه کډه په بوستي خېلو کې پرېښوده چې زړې ښځې پکې شاملې وې او نوره یې تېرا ته یوړه. "دوی خپل بندوبست کوو او په دې پوهېدل چې انګریزان سبا له بیا مونږ سره څه کارکوي. هغه نه مخکې دوی خپل بچې د دې ځای نه وویستل."

د بدل اخیستو لپاره عجب خان د یو انګریز د تښتولو پلان جوړ کړو. د شهزاده خان نه علاوه د ده سره دوه نور کسان هم مله شول چې یو یې حیدر شاه نومېدو. یار محمد د خپل نیکه نه اوریدلي وو چې حیدر شاه د



ملتان د میاخېلو نه و. په څه خبره یې د انګریزانو سره شخړه پیدا شوه او وتښتېدو.خو د حیدر شاه زوی جمعه شاه وایي چې هغه په اصل کې د جنوبي پنجاب د تله ګنګ د "جبې شاه دلاور"اوسېدونکې و. هلته د ده درې زره جریبه زمکه وه او د قتل په تورونو د انګریزانو مفرور و. هغه خپلې سیمې نه ووتلو او دره ادم خېلو ته لاړو.

په دره کې د عجب خان یو باوري کس و چې پټ خبرونه به یې ورته ورکول. یو ځا هغه ته خبر ورکړو چې نااشنا سړی د عجب خان پوښتنه کوي. دا سړی ورته مخ شوی دی نو ترېنه یې پوښتنه وکړه چې ته څوک یې او د عجب خان سره دې څه کار دی. هغه ورته خپله کېسه تېره کړه خو ده پرې باور نه کوو. حیدر شاه ته یې وویل چې هلته ایسار شه او د شپې به ګورو.

هغه وخت عجب خان د خپل کلي نه لیرې په غرونو کې یو "ګارې" (غار) کې اوسېدو. ده سره نور ملګري هم وو چې شمېره یې د اتو شاوخوا وه. د شپې به په دوی کې دوه کسان وېښ وو او " پهره" به یې ورکوله. هغه کس حیدر شاه د شپې په تیاره کې غرونو ته بیولی دی. کله چې ګارې ته ورسیدل نو په پهره دارو یې غږ وکړو. بیا یې هغه لوړ دنګ، لږ تور بخن سړی عجب خان ته وروړاندې کړو. ده په اردو ژبې خبرې کولې او د سترې مشي نه وروسته هغه ته یې خپله کېسه بیا تېره کړه.

د عجب خان اندېښنه شوه چې هسې نه دا سړی د انګریزانو له خوا

جوړشوی او د هغه د وېشتلو لپاره یې رالېږلې وي. هغه سره " ښه اصیل "
ټوپک او پیسې هم وې. دا ټوپک یې ترې واخیستو او ورته یې وویل چې
د مېلمه په شان راسره اوسېږه. بیا څو ورځې یې د حیدر شاه نه پوښتنې
کولې چې ده ریښتیا ویل او که نه. دا پوښتنې یې د دې لپاره کولې چې څه
لانجه ورته جوړه نشي ځکه د انګرېز مفرور ځان سره ساتل یو لانجمن
کار و. حیدر شاه لکه چې د ډېرو پوښتنو نه په تنګ شو او یوه ورځ یې
ورته وویل چې ټوپک مو رانه واخستو او پکار ده چې باور پرې
وشي.وروستهدوی ولیدل چې هغه تکړه او "مجاهد" سړی و نو وربانديې
یقیني شول. د هغه میرمنه او یو زوی یې په تله ګنګ کې پاتې وو خو
عجب خان ورته خپله لور لال نساء ور واده کړه او دی د هغه د ټبر یو
غړی شو.

د عجب خان سره څلورم کس ګل اکبر و چې لږ خلک ترې خبر دي.
صدیق وایي چې د ده پلار به " کله نا کله د هغه ځوان ذکرکوو نو سترګې به
یې له اوښکو ډکې شوې. د هغه نوم اکبر او تنکی ځوان و چې ږیره یې هم
سمه نه وه راغلې.

د پېښې نه یوه شپه وړاندې عجب او شهزاده په کوهاټ چاوڼۍ کې د
انګریز پوځي مشر کوراو د دې موقعیت لیدو لپاره لاړل. یار محمد وایي
چې انګریزانو د دریو بنګلو چاپېره وڼې پریکړې وې. د پېښې په شپه " دا
څلور واړه د یوې ویالې نه د هغې احاطې ته ورسیدل چې د ګلابو بوټې یې



لړل. دوی خړڅادرونه تاو کړي وو او د شپې ورته هلته پټ شول."
د عجب خان دخولې خبره ده چې په ژوند کې په لومړي ځل د ویرې
احساس یې وکړو، "د مرګ څخه نهوېرېدو بلکه د دې وېره ورسره وه چې
چرته زخمي نشي او انګریز یې قید نکړي. په دې کې د ګارډ ګزمه شروع
شوه، دوی اویااتیا کسان وو. کله چېګارډ خپل عمومي چکر ولګوواو
بېرته لاړل نو ګل اکبر د کمین نه ووتلوچې سنتري خاموشه کړي."
کله چې د میجر ایلس بنګلې ته ورننوتل نو اکبر په داسې ځای کې ورته
ودرېدو چې که څوک پرې ورپېښ شول نو مخه یې ونیسي. په لاس کې یې
ټوپک و او دوی دواړو ته یې وویل چې " وروره، بېغمه خپل کار کوئ"
هغه د خپل ځایځخه و نه خوځېدو. شهزاده خان به ویل" داسې زوی
مور نه زیږوي. داسې اکبر نه زیږوي."
عجب خان حیدر شاه ته وویل چې هغه دې دننه سنتري قابو کړي.
سنتري یو دوه چکرې ولګولې چې حیدرشاه په پیش قبض د شا نه
وربانديې حمله وکړه. سنتري لږ اه وکړل او هم هلته پریوتو. ورپسې
عجب خان او شهزاده خان دواړه ورونه هغه کورته وردننه شول.عجب
خان دروازې ته پخپله اوږه ورکړه، دویم ځلې او بیا په دریم ځلې د درې
سره پخپله هم کمرې ته ننوتلو. دی وایي"هلتهګل ډانګ (بلډاګ) سپی و
چې په ما راغی. یوه چهړۍ (کوتک) زما لاس کې و چې د هغه په سر مې
ووهلو، هغه څملاستو." د عجب خان سره یوولس ډزي انګریزي ټوپک

هم و خو د هغه ډز يې ونکړو. د حيدر شاه وينا وه، "هلته موجود انګريز ورک شو،ډېرمو ولټوو خو پيدا مو نکړو. په دې مونږ هلته جينۍ ونيوله. هغې وويل شوز... شوز...يعنی زما بوټان پاتې شول.هغه وخت جينۍ مې د دوو کمبلونو سره په غېږ کې اوچته کړې وه، خوشا ته يې مور، دا جينۍ کلکه نيولې وه.په پښتوکې خو ډېر شرم دی چې ښځه ووهې کنه."شهزاد خان، عجب خان ته وويل "دا خو ډېرشورکوي." ويل يې غلې يې کړه. صديق خان وايي" کله چې په پيش قبض يې مور وهلې وه، نو بلې خوا د بابا (شهزاده) په لاس هم ولګېدو. بابا راته هغه لاس ښودلی و، هغه دومره مضبوط خلک ووچېدې مخ نه هغه مخ ته پيش قبض ترې وتلی و."

محمد صديق وايي چې هغه انګرېزه جينۍ يې يو غر ته يوړه. " د کوهاټ د چاوڼۍ نه په يوولسم ميل پاس په غره کې يوه ګاره ده. په دې ګاري کې يې ورځ تېره کړې ده. بيا شپې د دې ځای نه وتلي دي."

جمعه شاه د پلار له خولېوايي چې له هغه ځايه د وتلو نه وروسته کله چې دوی "د کوهاټ بازار نه ووتل نوشا ته نه راباندې ډزې پېل شوې" د دوی ډوډۍ د يوې غرمې نه تر بلې غرمې پورې وه. کله چې د عملياتو د جنګ لپاره ورتلل نو څلورو کسانو به يو ګډ خوړو " کله به موغرڅه ووهله، پخه به مو کړه او څلورو به سره وخوړل. نور به د خوړو لپاره څه نه وو، بس لږه ګوړه او پټاس (پوټاشيم) به راسره وو."



تېراته د دريو شپو لاره دوی په يوې شپې کې ووهله. حيدر شاه به د دوی نه وروسته پاتې شو او د انګريز په ډلې يې ډزې کولې او درې نور به وړاندې لاړل. دتېراته څه پنځه کلوميټر فاصلهپاتې وه او دوی په غر ختل. په لاره عجب خان وليدل چې حيدر شاه ورپسې نه و.هغهپه اصل کې دانګريز فوج پهګولی زخمی شوی و. عجب خان واپس شو او وې ليدل چې يو ځای يې سر ايښې و، د حيدر شاه نه ډېره وينه ضايع شوی وه. عجب خان د ګوړې يوه چکۍاو پټاس (پوټاشيم) يو ځای کړل، ملهم يې جوړ کړو او پرې ووهلو، " لونګۍ يې له سرخلاص کړه، پښه يې ورله وتړله او روان شو.نيمه کلچه ګوړه يې وساتله چې په لاره چرته پرې ضعف راشي نو پکار به يې شي."

کله چې دوی تېرا ته ورسېدل نو مولې اپلس يې خپل ميشتځای ته بوتله او دا يې د کور ميرمنو ته وسپارله.

محمد صديق د خپلې نيا له خولېوايي چې " پلار دې دا (اپلس) راوسته نو لوڅه وه. بوټان يې په پښو کې نه و. پرتوګ يې هم سم نه و. بيا دغه سلطان مير ورته څپلۍ راوړې، کالي يې راوړل، شوده يې پټ راوړلې. کله چې شپه شوه نو د جينۍ سره زما مور وه.شهزاد خان هم ځوان و، هغه جينۍ هم ځوانه وه. زما نيکه به د دروازېنه بهر ويده کېدو چې دا جينۍ و نه تښتي."

د عجب خان د ټبر ټولو کسانو چې مرکې ورسره وشوې دا خبره ياده کړه

چې کله د اخونزاده په وینا مولي اپلس يې وسپارله نو د هغې طبي معاینه وشوه چې جنسي تېرى وربانديې نه وي شوى.

جمعه شاه دا خبره په دې ډول بیان کړه " جینۍ چې خپل پلار ته يې ورکړه او هغه غوښتل چې د جینۍ طبي معاینه وکړي نو هغې ورته وویل چې زما يو پلار ته يې او يو عجب خان دى چې زه يې د خپلې لور په شان وساتلم.نو خپله لور او میرمنه يې ما سره سره ساتله. هغوی راسره ډېر شریفانه چلند وکړو. ته هېڅاندېښنه مه کوه."

د مولي د خوشې کېدو نه وروستهانګریزانو تېرا ته جنګي الوتکې ورواستولې چې هدف يې د خلکو وېرول وو. د حیدر شاه وینا ده"زما مور وایي چې دومره طیارې جګې شوې وې چې د دروغجن خبره، په زمکې يې سیورى و."

محمد صدیق وايي چې کله د جینۍ د خلاصون لپاره جرګه وشوه نو اتلس زره (۱۸زره) روپۍ او څو دانې ټوپکې يې عجب او شهزاده ته بخښش ورکړې. یار محمد وايي چې انګریزانو بیا په کلي غرض ونکړو. خو د اپریدو جرګه يې راوبلله او په هغې کې ملکانو ومنل چې د عجب خان ټبر له به ځاى نه ورکوي.

د عجب خان د جرم په سزا ټول اپریدی قام اویا زره ( ۷۰۰۰۰) کلدارې جریمه کړو چې د دې نه وړاندې يو قام هم دومره پیسې نه وې ورکړې. د دې د پوره کولو لپاره چا خپله غوا خرڅه کړه، چا ټوپک او چا د نورو



نه پور واخیستو. انګرېز د عجب خان د زمکو او کور د ضبطولو امر هم وکړو خو د اپریدي قام په حساب د دوی زمکې او پټي هم هغسې پراته دي، چا پرې ابادي نه ده کړې.

" دوی د اپریدیو د خاورې نه ووتل، شینوارو له ولاړل. خو دوی په هغه ځای کې و چې نه د شینوارو وه او نه د اپریدو. په یو برید کې يې دا ورځ تېره کړه. بیا زمونږ نیکونه راغلل په شینوارو کې اوسېدل." په شینوارو کې دوی د سیال جان مومند سره لاره جوړه کړه چې د انګریزانو نه لیرې شي. هغه ورته وویل چې " تاسو به زما سره یئ او که زما د ټبر په یو کس کې هم ساه وي نو ستاسو حمایت به کوي."

د دوی څلورم ملګرى، ګل اکبر په ادم خېلو کې د مفرور په توګه ژوند کوو. د ده د نیولو لپاره انګرېز انعام اعلان کړى و. څو کاله وروستهاکبر سخت ناروغه شو او" خپلو تربورانو ورته وویل چې راځه علاج له دې بوځو. اوس څوک تا پسې دي؟ څوک څه پوهیږي.؟" هغه يې د علاج په بهانه پېښور ته یوړو. د روغتون نه يې انګرېزانو ته حال ورکړو او د هغوی پوځیان ورپسې راغلل. دى يې ونیولو او غرغره يې کړو."

عجب خان د خپل ټبر سره د مورګې غر(شینوارو) ته لاړو. د افغانستان په حکومت د انګریزانو فشار زیات شو چې مفروران دې ورته وسپاري. جمعه شاه د مور نه اوریدلي وو چې دوی تر نهو میاشتو په مورګه کې وو" او زما مور وایي چې شینوارو راسره ډېر ښه چلند وکړو. د شینوارو يو

سړی او یوه ښځه زمونږ په خدمت کې په واورو کې مړه شوي هم وو.امان الله خان خپل نایب الحکومه عبد الکریم خان ته خپل لاس لیک شوی قران ورواستوه چې زماو ستا تر منځ خدایاو د هغه کتاب دی. دا ضامن دي چې مونږ به تاسو ته هیڅ تاوان نه اړوو."

د افغانستان باچاامان الله خان جلال اباد کې د عجب خان سره ولیدل. سیال جان مومند خپل دوه سوه(۲۰۰) وسله وال، په بدرګې کې ورسره روان کړل. دوه کسه شینواري هم ورسره مله وو. یار محمد وایي چې کله دوی ورسیدل نو "امان الله خان د دوی ډیرعزت وکړو. هغه کوم خلک چې تللي وو دوی ته یو یو موټی سره زر ټولو ته بخشش ورکړو... چې تاسو دا غازیان مونږ له راوستي دي." بیا یې دواړه ورونه کابل ته وروغوښتل اویار محمد وایي چې د هغوی تر منځ خبرې ډیرې غیر رسمي وې. " عجب خان ته یې ویل چې ته زما تره یې، زما مشر یې، زما پښتون ورور یې. نو زه تا له په ترکستان کې زمکې درکوم، کورونه به درکړم."

عجب خان د باچا خبره ونه منله او صدیق وایي باچا " ورته وویل چې په زوره دې لیږم. ده ورته وخاندل."

قاضي غلام حبیب د عجب خان زویوایي " پلار او تره مې ویل چې مونږ ترکستان ته نه ځو. که څه ملک یا جایداد راکوې نو جلال اباد یا عادي ځایو کې راکړه. بیا هغه وویل زه باچا یم چې څه غواړې هغه وطن کې به درکړم. دوی وویل چې ته باچا یې خدای تا ته روزي درکوي. مونږ له به



هم راکړې." جمعه شاه وایي چې بابا یې څلویښت (۴۰) ورځې په ارګ کې ساتلی و او شهزاده خان، زما پلار او نور ټبر یې په اوښانو سپاره کړل او او د یوېشتو(۲۱) ورځو د سفر نه وروسته دوی مزار شریف ته ورسیدل.

د عبد الرحمان وینا ده چې کله دوی د کابل نه وراستول کېده نو د هغه وخت یو موټر یې ورکړو چې چاریکارو پورې ولاړل، عسکر یې ورسره وروواستول. هغه وخت د سالنګ لاره نه وه جوړه او مزار لپاره خلک به په غور بند ورتلل. " بیا څلویښت(۴۰)اوښان او پوستینونه یې ورته ورکړل. حرکت مو وکړو نو څلویښتو شپو کې مزار ته راورسېدو."

کله چې شهزاده خان د ټبر سره مزار شریف ته ورسېدو نو عجب خان په کابل کې د زمکو د اسناد ترلاسه کولو لپاره ایسار و. شهزاده خان اندېښمن شو چې ورور یې ولې را و نه رسېدو. د ځنډېدو سبب به دا مانا لري چې امان الله خان ورته نیت بد کړی وي. هغه وخت د کندهار یو کس چې غلام رسول خان نومېدو، په سرپل کې د واکمن په شان ژوند کوو. شهزاده خان سرپل ته ولاړو او هغه نه یې خواست وکړوچې د یو پښتون په حېث دې ورسره مرسته وکړي. غلام رسول کندهاري باچا ته یو لیک ولیکلو چې عجب خان په درناوي رخصت کړه چې خپلې کورنۍ سره یو ځای شي. دا لیک د غلام رسول مشر زوی احمد شاه خان پخپله کابل ته یوړو.

" امان الله خان هغه خط واخیستو، ویې ولوستو او ویې ویل چې عجب

خان زما تره دې او د خپلو تجربو لپاره ما ځان سره کېښنولې دی. هماغه وه چې ده ته یې ډېرې زمکې او فرمانونه ورکړل او دی یې رخصت کړو." وروسته عجب خان خپله وربره د غلام رسول زوی رئیس عبد الغفور ته واده کړه.

عجب خان څلویښت یاپنځه څلویښت ورځې وروسته مزار ته ورسېدو. " دلته یو ځای د " باغ حضور" نومېدو. دغه ځای د سخي صیب نه یو پنځه شپږ سوه ګزه کې دې. داځای یې ورکړو." خو څه موده وروسته د دوی هغه ځای خوښ نشو او د ښار نه بهر د اوسېدو لپاره حکومت نه ځای وغوښتو.

" دا کلې زمونږ نیکونو خوښ کړو... د کلي شاو خوا څه پټي وو هغه زمونږ نیکونو اخستي وو. بیا د بلخ نه کوزه " اقچه" نومېږي، هلته یې مونږ له زمکې راکړې دي. "دشت شادیان" نومیږي چې هلته د نیکونو هدیره مو ده."

یار محمد وایي چې امان الله خان د دوی نیکه ته " اوو پیکال" زمکه ورکړه. یو پیکال ۳٦۰ جریبه وي. امان الله خان دواړو ورونو ته د دې زمکې لپاره لیک ورکړی و. د زمکې نه علاوه دوی ته معاش هم ورکولکېدو. " یو نیم سل غران هغه وخت ډېره غټه پیسه وه... د دوی تنخواه وه...د هر ورور."

جمعه شاه وایي چې دوی څلویښت کاله هم هغه علاقه کې نظر بند وو.وروسته، نادر شاه او ظاهر شاه هم ورله زمکې ورکړې." یواځې د ارزان



سرای په نوم یو ځای و چې د حکومت ملکیت و، نوره ټوله علاقه ، دا د نهر شاهي سره ٤۰ جریبه باغ، دا کلا هم حکومت راکړې وه, په دې کې دوه سوه شل کوټې وې. دا په شلو جریبو کې ده.د حکومت له خوا زما د پلار تنخواه، د شهزاده خان او عجب خان د ټولو تنخوا ګانې یې ټاکلې وې. تر اوولسو کالو هره ورځ د خوراک لپاره به یې یو ګډ (پسه) راکوو. دا هرڅه د ظاهر شاه تر وخته کېدل."محمد صدیق وایي چې کله دوی په مزار کې ځای پر ځای شو نو د ده پلار یو سرویس (بس) په کرایه کړو او د کوهاټ نه یې پاتې خپلوان مزار ته راوستل.دوی دوه میاشتې ورسره ایسار وو. غوښتل یې چې هغوی زمونږ سره بلد شي. هم دغسې د مزار نه یې یو وارې ټول ماشومان " خاپور" ته لاړل چې یوه اوونۍ د خپلوانو کره پاتې وو.

د ۱۹۲۸ م په وروستیو کې د امان الله خان پر ضد یو پاڅون وشو. د دې بغاوت مشر حبیب الله کلکاني ( بچه سقاو) و. عجب خان د باچا په پلوي ودرېدو چې د عطا محمد خان او غلام رسول خان ساکزي په ډله کې شامل و. دوی په کلا جنګي کې د باغیانو سره جنګ پیل کړو. د کندهار اوسېدونکی سردارعبدالله خان توخي او د ده زوې عطا محمد خان د فرقې مشراو د مزار شاوخوا د ولایتونو نایب الحکومه و. دوی نادر خان(د پوځ مشر) سره ودرېدل.

د باغیانو سرکرده مشران خالدار بیګاولقی، ابراهیم بیګاولقی او عیسی خان نومېدل. دوی ماتې وخوړه نو د یوې پوځي ډلې سره مخ په کته غن

(کندوز) لاړل.

یار محمد وویل چې هلته باغیانو غوښتل چې د امو سیند نه بلې غاړې روس خوا ته ولاړ شي. د شهزاده خان له خولېوايي، " د دریاب په غاړې دوی خپل بچي هم هلته درولي وو. دوه نیم، درې سوه د دوی د کورنۍ خلک وو. نو په هغو کښتیو کې یې لا خپل خلک نه و بار کړي چې زمونږ نیکه ورپسې لنډ ودرېده چې تاسو څه کوئ؟

هغوی ورته وویل چې شهزاده. بس ډېرنرسړی ییاو ډېر بادر سړی یې. مور دې وزیروي تا غوندې زوی. خو دا راته ووایه چې اوس مو پرېږدې چې لاړ شو، که د ښځو او بچو سره مو سپکاوی کوې.

ده ورته وویل چې ستاسو وس نشته، ګورم درته. ځئ په مخه مو ښه... څه نه وایم درته. که نه تاسو سره دا مال هم ډېر دی... خو زمونږ درسره نور کار نشته. نو ده دا خپل بچیان په کښتیو کې بار کړل. ویل یې شهزاده، یوه خبره کوم، اخري، درته...چې زما بچي دې خوار کړل، تا بچي دې هم خدای خوار کړي. زما نیکه به پخپله ویل چې موسکی شوم ورته چې خدای دې خوار کړه، دا خبره مه کوه. بچي دې خدای مه خوارووي."

یار محمد وایي چې د ده د نیکه تېرا والې سندرې خوښېدې چې په راډیو کې به یې اوریدلې."ځینو خلکو د غرونو په لمنو او دښتو کې دا سندرې ویلې. د ده به ډېرې خوښیدې، هغه سندرې." د شهزاده خان دوزیو شودې خوښېدې. ویل یې چې یو وخت " دا غرونه زمونږ ځای و. بیا به د



چا د وزې شودې به یې ولویشلې، تورې چای به مې جوړې کړې نو ډېرخوند به یې کاوه. او اوس چې مې خوښیږي نو هغه ترې مې یادیږي، هغه دښتې مې یادیږي. په دې وجهې مې د وزې شودې ډېرې خوښیږي."

محمد صدیق د خپل تره عجب خان داسې یادېږي " هغه فقیر غوندې سړی و. جومات پرې ډېرګران و. ځان له به یې چندان نه کتل. ږیره به یې هم زیږه وه او کالي به یې هم خیرن و. ملنګ غوندې سړی و."

د شهزاده خان په اړه وایي چې " دې نو بیا صدر اعظمانو سره او وزیرانو سره، داود خان سره کېناستو. اعلی حضرت (ظاهر شاه) سره کېناستو. دا بیل سړی و."

عبد الرحمان د خپلې حجرې د میلمنو خبره یاده کړه چې د دوی حجرې ته ډېر نامتو خلک راتلل. ملک نادر خان، باچا خان،عبد الولي خان، عبد الصمد خان اڅکزیاو داسې نور.

په مزارشریف کې د نوي کال په موقع کله چې جنډه پورته کېدله نو دوه درې سوه کسان به ورکره میلمانه وو او کله کله به خلک دومره ډېر شول چې د لمانځه لپاره به دوه درې جمع کېدې. د پښتونستان جشن کېدو نو د شهزاده خان له کوره به بیرغ راوتلو. د افتتاح یا شروع دا مراسم به زمونږ له کوره پیل شول"توپکې به یې اچولې وې او دلته عسکري باجه خانه وه چې هغې ته به ورتلل. دلته یو ځای دې "باغوزور" هلته به تلل. داځایاوس ولایت دې."

عبدالرحمان د لسو کالو و او د خپل نیکه عجب خان خبري ورته یادې نه دي. " داسې لنډی غونډې سړی و، د سرطان مریض و او په ځای به پروت و. په ساده جامو کې ګرځېدو." یو وخت د دوی حجرې ته د اپریدو نه څوک راغلی و. د هغه کس پښې په ختو لړلې وې او د حجرې ټغر پرې ګنده شو. د دوی یو تره په قهر شو خو پلار (عجب خان) ورته وویل چې " زما میلمه که په هر څومره مرداریو دلته راشي تاسو به ورته تندې تروه نکړئ او نه به ورته څه وایئ."

غلام حبیب وایي چې پلار یې د پارسي ویونکو سره هم ډېر ښه چلند کوو او تر اوسه د هغوی اولادونه یې درناوی کوي. دی وایي " پلار مو حلیم سړی و. تره مو باسیاست سړی و. هغه داسې کار نه کوو چې څوک ترې ووېرېږي."

جمعه شاه وایي چې بابا (عجب خان) دلته لنګر چلوو او د ده حجره به ۲۴ ساعته خلاصه وه. په ژمي کې ۶۰ نوکرانو او په اوړي کې څلور کسانو به دلته خدمت کوو." زما پلار او شهزاده خان دوه وارې د روسانو سره د جنګ لپاره بخارا ته هم تللي وو. بابا هم دلته پاتې و ځکه هغه بوډا شوی و."

عجب خان ته د مزار نه وراخوا د تلو اجازه نه وه. جمعه شاه وایي" کله چې بابا ناروغه شو نو سردار داود خان هغه ته په روس کې د علاج لپاره داستولو وویل نو عجب خان وویل چې هغه د کفر په وطن کې خپل



علاج نه غواړي. زه هغه وخت په یوولسم صنف کې وم ۱۳۳۷ ه ش ( ۱۹۵۸ م) کې چې هغه وفات شو.د محمد صدیق یادېږي " د عجب خان د مرګ پر وخت زه ۳۵ کلن وم. د هغه جنازې له ډېر مخلوق راغلو."

د غازیانو د کلي حجرې ته د سیاسي کسانو نه علاوه هنر مندان هم ورتلل. یو وخت د افغانستان نامتو سندرغاړي ګل زمان او قمرګل د خپلو شلو یا دېرشو کسانو د ډلې سره مزار له ورغلي وو. یو کس د قمر ګلې له خوا شهزاده خان ته پیغام راوړو چې زمونږ میلمستیا دې وکړي " زمونږ نیکه ورته وخندل چې زه خو ټیکاله ورته نشم کولی. خو که راځي، نو که زه یوه پسه حلالوم نو دوه به ورته حلال کړم... د پښتونولي په حساب هغه یوه ښځه ده او زه هغې له ټیکاله نشم کولی... ګلزمان ته یې وویل ، تاسو میلمانه یئ. بې غمه کېنئ، چمن دی، غټه حجره ده. نو ټوله شپه ګل زمان سندرې ویلې."

د یارمحمد په اند د داود خان وخت تر ټولو ښه و ځکه هغه وخت ښه ترقي شوې وه، سړکونه، سکولونه، هسپتالونه جوړ شول. خو روسانو پرې نښودو. ده خپل نیکه شهزاده خان هغه وخت ولیدلو چې سپین ږیری و." په سترګو باندې یې پرده راغلې وه. "د غرمې داسې درې بجې ټیم کې دی به وتلو حجرې له. . .هم هلته په کټ ورته بالښتونه پراته وو، تکیه به شو. هر څوک چې به و سترې مه شي به یې کول. ډېر خلک همیشه د ده لیدو ته به راتلل. ځینې وخت اخبار والا هم ورته راغلي دي چې حاجي

صیب څه ووایه، د خپل ټبر شوي وخت نه. دی ډېر ښه مضبوط او لوړ سړی و. چې ماښام لمانځه له به پنځه مینټه پاتې شو، بیا به یې غږ وکړو چې یارمامده، راځه... بیا د لاس نه به مې ونیولو، روان به مو کړو."

په افغانستان کې د روسي پوځ د راتلو سره د عجب خان د ټبر خلکو هم زیان ومونډلو. یار محمد وایي چې د روسانو سره په جنګ کې د دوی لس دولس ځوانان ووژل شول. څه حکومت ونیول او په جېل کې یې واچول. " مونږه هم ولاړو جهاد لپاره پاکستان ته... زه بخپله د وسلې لپاره تللی وم. یو او بل راته احوال وکړو چې تره دې شهید شو...ته مه راځه.. زمونږ مشر تره او ورور مې جیل کې وو، روسانو نیولي وو. نو پلار خو هسې هم بیمار و پاکستان کې وفات شو... زمونږ په کورنۍ کې داسې غټ څوک پاتې نشو چې هغه زمونږ د کور د ټیکالې چای د راوړلو سړی وي.

مولي اپلس د خپلې تبنتونې نه پنځوس(۵۰) کاله وروسته په ۱۹۸۳ م کې یو وارې بیا پېښور ته ولاړه. په کوهاټ کې د خپل مور په قبر یې ګلونه کېښودل. پاکستان لوړ پوړو چارواکو ورته میلمستیاوې وکړې او د دې نه یې پوښتنه وکړه چې د عجب خان د ټبر خلکو سره لیدل غواړې؟ مولي اپلس انکار وکړو.

دروېشت کلن یار محمد هغه وخت په خیبر کې وو " ملک نادر خان حاجي زخاخېل احوال وکړو چې ته یو ځلې راشه. زما مور د ملک نادر خان د تره لور ده. چې ورغلم ویل یې دا میمه راغلې او غواړې چې تاسو



کورنۍ کې چا سره ملاقات وکړې. ده ماته وویل چې دا د لواړګي په چاوڼۍ کې چې هغه پوځي کلا ده، میمه دلته ده او سبا ته یې غوښتي یې."

یار محمد په بله ورځ هلته ورغلو نو د نورو نه علاوه یو انګریز سړی چې په پښتوغږېدو، ده ته د میمې (مولي اپلس) د ورور په توګه وروپېژندل شو " هغه مولي اپلس په لومړي ځل ولیده او وایي" د هر څو کالو چې وه، په عمر یې نه پوهیدې. خو بلکل لکه چې تکړه سړیکېنې او پورته کېږي. خو ډېره وچه او خواره ښځه وه. د لیرې نه داسې په عزت یې سر راته خوځوو. داسې په یو ګز کې ما نه ودرېدله. مونږه هم د پښتنو غوندې په ټېټر لاس کېښودلو چې ښه یې... جوړه یې؟ بس په دې کې بیا ورور سره یې غاړې وتم. کېناستم، میمه هم کېناسته. خو بیا راغله پنځه شپږ تصویرونه یې زما واخیستل. نو بیا ورور یې ما نه ځینې پوښتنې وکړې چې تاسو څرنګه... ما ویل مونږ داسې...روسان راغلي دي... وطن له...افغانستان خو اوس مو وطن دی. داسې جهاد ته راووتلو، څه زخمیان څه شهیدان. اوس هم جهاد کې لګیا یو."

یار محمد هغو "میلمنو"ته د ډوډۍ بلنه ورکړه. " زمونږ ټیکاله به یوه غرمه، مونږ سره وخورئ. هغه مخکېنې یاد به هم تازه شي. ها خفګان خبرې به لیرې کړو... هغوی هم ډېرخوشاله شو. بیا د هغې میمې ورور ټیلیفون وکړو خو بیاهغوی ویل چې ځینې مشکلات د سفارت د بریطانیې نه مونږ ته شته. مونږ نشو کولی یار مامده چې مونږ ستا ټیکاله وخورو. د برطانیې

حکومت مونږ له اجازه رانکړه. خو کوښښ کوو چې زه ستا ټیکاله وخورم."

د افغانستان د ګډ وډیو له کبله اوس د دوی عزیزان مزار ته نه ورځي.

صدیق وایي " تېر کال یو تېرا وال سپین ږیری راغلی و، یو دوه شپې یې راسره وکړې. ویل یې اوس مو انړېندې نران نه راوړي، ښځې راوړي. دیرش زره روپۍ ما له یې راکړې وې چې کېسه بر رانه ونه وهي. قدیمه سپین ږیرې و نو بیا چې لاس کې مې ورکړې، ده جیب کې اچولې نو ورته مې وویل چې وې شمېره. چې وې شمېرلې، ما ورته ویل پوره دي. ویل یې هو د مخکې نه هم پوره دي. د اخور درې و."

د عجب او شهزاده د تېر لپاره افغانستان خپل وطن دی او یار محمد وایي" کله چې د ۲۲ کالو د هجرت نه وروسته مونږ د پاکستان نه بېرته راغلو نو د افغانستان خاوره مو په سترګو پورې ومښله چې خدایه شکر چې بېرته خپل وطن ته راغلو."

د عجب او شهزاده دا کېسه ډېرو نورو خلکو ولیکله.

دا چې ولې د دې د ژوند په اړه ېځپله دوی څه نه و لیکلي نو محمد صدیق وایي چې " نیکه نو تیار په پارسي کې کتاب لیکلی و." خو دا کتاب تر اوسه نه دی چاپ شوی.

د غازیانو کلي د هدېرې د یوې څنډې زمکه په تېرو جنګونو کې نورو خلکو ترې نیولې ده. یار محمد وایي چې " دا ټوله هدیره مخکې پنځلس جریبه وه. اوس ترې درې جریبه ځای پاتې دې." په هغه زمکه یو ښوونځی جوړ شوی دی.

✦✦✦



اتم باب

# په مزار کې ژوند

په بوستي خېلو کې د عجب خان په کور کې د ده تره ایمل خان هم د خپلو زامنو سره اوسېدو. کله چې عجب خان تېرا ته کډه شو نو د دې تبر ځینې زړې میرمنې او تره یې هم هلته پاتې شول. په تېرا کې د عجب خان مورنی نیکه سلطان میر د مولي اېلس لپاره د خوراک څښاک بندوبست کوو، خو انګریزانوهغه عجب خان ته د پناه ورکولو لپاره جریمه کړی و.

هغوی د عجب خان د زمکو او کور د ضبطولو امر هم وکړو خو په قبایلو کې زمکې او پټي چې د چا وي، هغه ټول عمر د ده په نوم وي. نور خلک نه وربانډې ابادي کولې شي او نه یې څوک خرڅولی شي.

عجب خان او شهزاده خان د خپل ټاټوبي نه ووتل خو د دوی درېیم ملګرې، ځلمی ګل اکبر په ادم خېلو کې د مفرور په توګه ژوند کوو. د ده د نیولو لپاره هم انګرېز انعام اعلان کړی و. څو کاله وروسته ګل اکبرسخت ناروغه شو نو د درملنې لپاره پېښور ته یوړل شو. هلته چا د ده په اړه مخبري وکړه، ممکن د ده تربورانو د انعام ګټلو لپاره دا کار کړی وي. هغه ونیول شو او وروسته یې غرغره کړو. کله چې د ده مړی یې خپلوانو ته وسپارلو نو په هغې سپینه چونا لګیدلې وه. په غرغره شوي مړي به یې چونااچوله چې بوی ونکړي.

د عجب خان تبر د امیر امان الله خان په امر د شهزاده خان په مشرۍ په

موټر کې چاریکارو ته واستول شو او بیا د غور بند د لارې مزار ته د تلو لپاره یې ورته اوښان ورکړل. عجب خان د زمکو د فرمان او د نورو امتیازاتو د رسمي اسنادو لپاره څه موده نور هم په کابل کې ایسار شو.

په سر کې دوی د مزار د مشهور سخي صیب زیارت ته نږدې " باغ حضور" نومي ځای کې میشت وو. خوهلته د ګڼې ګوڼې له کبله خوشاله نه وو اوحکومت ته یې خواست وکړو چې د ښار نه بهر ورته ځای ورکړي. د دوی خبره ومنل شوه او په "دشت شادیان" کې یې ورله د اوسېدوځایونه او د میاشتې معاش ورکړل کېده. د حکومتي زمکو نه علاوه دواړو ورونو پخپلو سپما شویو پېسو نورې زمکې هم واخیستې او لکه د خانانو یې ژوند کوو.

د ۱۹۲۸ م په وروستیو کې د افغانستان شمالي برخو کې د امان الله خان پر ضد یو پاخون وشو. د دې بغاوت مشر حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) و او ډېر ژر یې په ولس کې ریښې وځغلولې. عجب خان د امیر په پلوي راپاڅېدو او په "کلا جنګي" کې د باغیانو سره ونښتو. هغه وخت د کندهار اوسېدونکی سردار عبد الله خان توخي او د ده زوی عطا محمد خان د فرقې مشر او د مزار شریف شاوخوا د ولایتونو نایب الحکومه و. دوی د نادر خان (پوځ مشر) سره ودرېدل. عجب خان د عطا محمد خان او غلام رسول خان ساکزي په ډله کې شامل و. د باغیانو مشران خالداربیګاولقی، ابراهیم بیګاولقیاو عیسی خان نومېدل. دوی ماتې



وخوړه او د امو سیند نه روس ته ولاړل. د امان الله خان نه وروسته کله چې نادر خان د افغانستان باچا شو نو هغه هم د انګریزانو سره شوی تړون مات نکړو او عجب خان د خپل ټبر سره هم هغسې په مزار کې پاتې شو.

مزار ته تلونکې ډلې کې د عجب خان او د شهزاده خان مېرمنې او څلورترورریانې ملې وې. د وخت په اوږدو کې دوی په افغانستان کې نورې خپښې وکړې او دا ټبر لوی شو. ښایي عجب خان د خپلو زامنو او لوڼو ته د ودونو کولو سره سره پخپله هم دوه نورې ښځې وکړې. د ده د درېو مېرمنو نه ټول اتلس اولادونه وو چې لس زامن او اته یې لوڼې وې. د شهزاده خان د دوو ښځو نه پنځه زامن او د لوڼو شمېر یې نه دی څرګند.

هغه خپله یوه وریره (د شهزاده خان لور) د سرپل حاکم غلام رسول کندهاري زوی رئیس عبد الغفور ته ورواده کړه. د عجب خان مور په مزار کې مړه شوه او په هغه هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه چې دوی د خپلو زمکو یوه برخه ورته بېله کړې وه. دوی تر ډېرو کلونو په انتظار و چې د ده له خاورې انګریزان ووځي نو بېرته بوستي خپلو ته لاړ شي. کله چې هند ووېشل شو نو بیا هم ډاډه نه و چې هلته به یې ژوند خوندي وي او که نه؟

د عجب خان حجرې ته به د پښتونخوا نه ډېر میلمانه ورتلل چې د قبایلي مشرانو نه علاوه د ملتپالو ګوندونو خلک هم پکې وو. د لیرې نه

ورغلو میلمنو لپاره حجرې سره نږدې د استوګنې بندوبست هم شوی و. د سپرلي په موقع کله چې په مزار کې جنډه پورته کېده نو په سوونو خلک به د عجب خان په حجره کې میشت وو.

د عجب خان مشر زوم حیدرشاه چې د تله ګنګ اوسېدونکیاو په دره ادم خېلو کې ورسره مل شو، د خپلې سیمې نه تښتېدلی و. ده لږ تر لږه یو کس وژلی و او په دې جرم د سیمې پولیس ورپسې و. هغسې چې د ده ژوند مرموز پاتې شو، مرګ یې هم په مرموزو حالاتو کې وشو. په مزار کې څو کاله ژوند نه وروسته یوه ورځ په حجره کې د عجب خان د بل زوم سره په خبرو کې وران شول. هغه په حیدر شاه ډز وکړو چې دی پرې ووژل شو. د شهزاده خان لپاره دا قتل د منلو وړ نه و ځکه حیدر شاه ملامت نه و. هغه د حکومت نه امر واخیستو او قاتل یې پخپل لاس حلال کړو.

عجب خان اوس زوړ شویاو د سرطان په مرض اخته و ( څرګنده نه ده کوم سرطان؟) هغه نور د فعاله ژوند نه ګوښه شوی و. د نمونځ لپاره به خپل جوماټ ته ورتلو او نور وخت به یې د حجرې میلمنو سره په خبرو تېر کړو.

درې کاله ناروغی نه وروسته دی د ۱۳۴۰ ش کال د اسد په ۱٤ نېټه ( جولای۱۹۶۱ م ) د ۷۵ ( ممکن ۷۷) کالو په عمرکې له نړۍ سترګې پټې کړې. دی د غازیانو کلي په هدېرې کې خاورو ته وسپارل شو.



شهزاده خان تر هغې هم ځوان او تکړه و او د خپل ټبر د مشر په حیث به یې د حکومت چارواکو او لویو خلکو سره ناسته پاسته لرله. د افغانستان د باچا ظاهر شاه له خوا د پښتونستان د ورځې د نمانځنې دود هم پیل شو.

د پښتونستان د جشن پر وخت د شهزاده خان له کوره به بیرغ راوتلو. د افتتاح یا شروع دا مراسم به " زمونږ له کوره به پیل شول. ټوپکې به یې اچولې وې او دلته عسکري باجه خانه وه چې هغې ته به ورتلل. دلته یو ځای دی "باغوزور" هلته به تلل داځایاوس ولایت دی."

یو وخت د افغانستان نامتو سندرغاړي ګل زمان او قمر ګل مزار د خپلو شلو یا دېرشو کسانو د ډلې سره مزار شریف له ورغلي وو. " ماځیګر و چې دوی راغلل. نو بیا زمونږ نیکه ته یې ویل چې حاجي صیب، قمر ګله هم راغلې ده هغه په مزار هوټل کې ده. هغې (قمر ګل) دا وویل چې حاجي صیب دې ما له ټیکاله وکړي. نو بیا زمونږ نیکه ورته وخندل چې زه خو ټیکاله ورته نشم کولی. خو که راځي، نو که زه یوه پسه حلالوم نو دوه به ورته حلال کړم. پخپله دې راشي...خو دا نشم کولی چې دې له ووایم چې ته زما میلمنه یې. پاتې تاسو، تاسو ټول زما میلمانه یئ... د پښتونولي په حساب هغه یوه ښځه ده او زه هغې له ټیکاله نشم کولې. نور که هسې راځي، داحجره ده، کور کلی مې دی. ټول یې په خدمت کې دي... پاتې شو تاسو، ګلزمان ته یې وویل ، تاسو میلمانه یئ. بې غمه کېنئ، چمن دی،

غټه حجره ده. نو ټوله شپه ګل زمان دا باجې ماجې وې، ربابونه وو. مونږ هم هلکان و، تر شپې ناست و. سندرې يې ويلې."

يار محمد وايي چې د ده د نيکه ټېرا والې سندرې خوښيدې چې په راډيو کې به يې اوريدلې. "ځينو خلکو د غرونو په لمنو او دښتو کې دا سندرې ويلې. د ده به ډېرې خوښيدې هغه سندرې."

شهزاده خان د ژوند په ورستيو کلونو کې ناروغه شو او د علاج لپاره کوهاټ ته ولاړو. صديق وايي " ديارلس مياشتې ورسره وم، پېښور، کراچۍ، کوهاټ. له حمام نه بغير به زه (هر وختې) ورسره وم. يو کور يې زما پلار ته ورکړی و، هغې کې و. دوه کوټې يې لرلې، بيل انګر يې و. بس هم هغه کې اوسېدو، کله به داکټر ته ولاړو. خو د شهزاده خان سترګې ښې نشوې او بېرته مزار ته لاړو.

د غازيانو کلي حجره په پنځه جريبه زمکه کې وه چې په منځ کې يې لوی چمن و. هم هلته به چاپېره اته اته کټونه پراته وو. د شهزاده خان خپل کټ و چې لاس نيولی هلته به يې بوتلو.يار محمد وايي " هم هلته په کټ ورته بالښتونه پراته وو، تکيه به شو. په سترګو يې ديد نه لره. هر څوک چې به و، ده به ورسره سترې مه شې کول. ډېر خلک هميشه دده ليدو ته به راتلو. چې ماښام لمانځه له به پنځه مينټه پاتې شو، بيا به يې غږ وکړو چې يارمامده راځه... بيا د لاس نه به مې ونيولو، روان به مو کړو."

د شهزاده خان د وزو شودې خوښېدې. ويل يې چې يو وخت " دا غرونه



زمونږ ځای و. بيا به د چا د وزو شودې به يې ولوېشلې، تورې چای به مې جوړې کړې. نو ډېر خوند به يې راکوو. او اوس چې مې خوښيږي نو هغه ترې مې ياديږي ، هغه دښتې مې ياديږي. په دې وجهې مې د وزې شودې ډېرې خوښيږي."

په افغانستان کې د روسي پوځ د راتلو سره د عجب خان د ټبر خلکو هم زيان وموندلو. يار محمد وايي چې د روسانو سره په جنګ کې د دوی لس دولس ځوانان ووژل شول. څه حکومت ونيول او په جېل کې يې واچوو. څه ورک شول، نور غرونو ته، پاکستان او بهر ملکونو ته وتښتېدل. يار محمد وايي، " مونږه هم ولاړو جهاد لپاره پاکستان ته... زه پخپله د وسلې لپاره تلليوم. تره مې دې خدای وبخښي هغه شهيد شو. يو او بل راته احوال وکړو چې تره دې شهيد شو...ته مه راځه. د تره زوی مې هم شهيد شو... او زمونږ کوميټه هم چې وه کنه... نور پاتې شوه. زمونږ مشر تره او ورور مې جيل کې و، روسانو نيولې و. بل تره مې جيل کې و. يو تره مو شهيد شو، بل تره زوی مو شهيد شو. نو پلار خو هسې هم بيمار و پاکستان کې وفات شو... زمونږ په کورنۍ کې داسې غټ څوک پاتې نشو چې هغه زمونږ د کور د ټيکالې چای د راوړلو سرې وی.

د غازيانو کلي د هډېرې د يوې څنډې زمکه په ټېرو جنګونو کې نورو خلکو ترې نيولې ده. يار محمد وايي چې " دا ټوله هديره مخکې پنځلس جريبه وه. دااوس چې پاتې ده مونږ له درې جريبه غونډې ځای پاتې دې."

په هغه زمکه یو ښوونځی جوړ شوی دی. دی وایي چې دلته پښتانه لږ شمیرکې نه دي او مونږ دلته په مکتب کې زدکړې کړې دي او هغه زمانه کې دلته هیڅ دا خبره نه وه چې دا پښتون دې یا هزاره او تاجیک. خو انقلاب چې وشو نو ځینو مشرانو د خپلې بقا لپاره دا تفرقې شروع کړه.

مولي اپلس د خپلې تښتونې نه پنځوس کاله وروسته په ۱۹۸۳ م کې یو وارې بیا پیښور ته ولاړه. په کوهاټ کې یې د خپل مور په قبر یې ګلونه کېښودل. پاکستان د لوړ پوړو چارواکو ورته د میلمستاوې وکړې او د دې نه یې پوښتنه وکړه چې د عجب خان د ټبر خلکو سره لیدل غواړې؟ مولي اپلس انکار وکړو.

درویشت کلن یار محمد هغه وخت په خیبر کې و چې " ملک نادر خان حاجي زخاخېل احوال وکړو چې ته یو ځلې راشه. زما مور د ملک نادر خان د تره لور ده. چې ورغلم ویل یې دا میمه راغلې او غواړي چې تاسو کورنۍ کې چا سره ملاقات وکړي. ده ماته وویل چې دا د لواړګي په چاونۍ کې چې هغه پوځي کلا ده، میمه دلته ده او سبا ته یې غوښتې یې. زما سره په موټر کې د ماماګانو یو لمسې اورنګ ولاړو. چې ورغلم پوځیانو ودرولو. ما ویل حاجي صیب رالیږلې یم ، دغسې میمې غوښتې یم. زه د شهزاده حاجي نمسې یم. ویل یې بالکل مونږله دا ویل شوي دي چې دې راځي. مونږ چې ورغلو میمه ناسته وه. د میمې یو ورور و، پښتوباندې ګڼېدو...په پښتو پوهېدو. نو بیا هغه پوځیانو معرفي کړو چې



دا د میمې ورور دې او دا مس اپلس چې وه هغه دا ده. داسې وچه کلکه ښځه وه خو ډېره تکړه وه. د هر څو کالو چې وه په عمر یې نه پوهیدې. خو بالکل لکه چې تکړه سړې کېنې او پورته کېږي. خو ډېره اوچه او خواره ښځه وه. د لیرې نه داسې په عزت یې سر راته خوځوو. داسې په یو ګز کې ما نه ودریدله. مونږه هم د پښتنو غوندې په ټټر لاس کېښودلو چې ښه یې... جوړه یې؟ بس په دې کې بیا ورور سره یې غاړې وتم. کېناستم، میمه هم کېناسته. خو بیا راغله پنځه شپږ تصویرونه یې زما واخیستل. نو بیا ورور یې ما نه ځینې پوښتنې وکړې چې تاسو څرنګه... ما ویل مونږ داسې...روسان راغلي دي... وطن له...افغانستان خو اوس مو وطن دې. داسې جهاد ته راووتلو، څه زخمیان څه شهیدان. اوس هم جهاد کې لګیا یو. بیا ما ورته وویل چې مونږ داسې کار وکړو چې مشترک تاریخ لرو. مشترک په دې چې څه په تاسو جوړشوې څه په مونږ... د دې وجهې نه زمونږ تاریخ مشترکه دې. خو یوه شپه یا لس شپې څه چې قسمت کې لیکلي و، تاسو د شکل د یو بندي یا مجبوریت هغه وخت تاسو مونږ سره شپې تېرې کړې دي. او نن تاسو زمونږ ډېر ګران میلمانه، ډېر عزت مند میلمانه او زمونږ نه... چې د ټول پښتونخوا میلمانه...

زما د نیکه کوردې دلته او زه تاسو ته ټیکاله کوم. تاسو سره چې هر څومره کسان وي ما له مشکلات نشته. چې هر څومره خلک درسره وي. هغه دې راشي، ځینې حکومتي خلکو سره. مقصد زمونږ ټیکاله به یوه

غرمه، مونږ سره ډوډۍ وخورئ. هغه مخکېنۍ یاد به هم تازه شي. ها خفګان خبرې به لیرې کړو او د خوشالۍ...دا خبرې مې ورته وکړې. هغوې هم ډېر خوشاله شو. بیا د هغې میمې ورور ټیلیفون وکړو خو بیاهغوی ویل چې ځینې مشکلات د سفارت د بریطانې نه مونږ ته شته. مونږ نشو کولې یار مامده چې مونږ ستا ټیکاله وخورو. د برطانې حکومت مونږ له اجازه رانکړه. خو کوشش کوو چې زه ستا ټیکاله وخورم. نو که داوشو، دا شي منظور شو زما. بیا زه به د حاجي صیب نادر خان سره راشم...هغه به تا پوهې کړي. دا خبرې مو سره وشوې، بیاخدای په اماني مو وکړه."

یار محمد وایې چې میمې د هغوی نه پوښتنه وکړه چې نیکونه دې کوم ځای کې خښ دي؟ " ما ویل مزار شریف کې پخپلو زمکو مو خښ کړي دي. د دواړو ورونو په منځ کې شل ګزه پنځوېشت ګزه فاصله ده...د هډېرې د قبرونو."

د مزار په زیارت د پسرلي د نوروز په ویاړ د جنډې د پورته کولو نمانځنو ته به ډېر خلک د غازیانو کلي کې ایساریدل. د تېرا نه به د سلو نه زیات کسان راتلل. خو د افغانستان د ګډ ودیو له کبله اوس د دوی عزیزان نه ورځي. صدیق وایي، " تېر کال یو تېرا وال سپین ږیرې راغلې و، یو دوه شپې یې راسره وکړې. ویل یې اوس مو انړیندې نران نه راوړي، ښځې راوړي. دیرش زره روپۍ ما له یې راکړې وې چې کېسه بر رانه ونه وهي. قدیمه سپین ږیرې و نو بیا چې لاس کې مې ورکړې، ده جیب کې اچولې نو ورته



مې وویل چې وې شمېره. چې وې شمېرلې، ما ورته ویل پوره دي. ویل یې هو د مخکې نه هم پوره دي. د اخور درې و. نوم یې راته نه راځي."

محمد صدیق وایي چې، " مونږخپل پلار ته نږدې و. بیا په زامنو کې ما سره پلار ډېر جوړ و. زه به ورسره کېناستم، وصیت یې هم ما له کړې دې. پلار ماسره ډېره مینه کوله."

یار محمد وایي چې دوی د ظاهر شاه پر وخت واړه و نو دومره زیات خبر نه دي چې هغه وختونه څنګه وو. خو د ده په اند د داود خان وخت تر ټولو ښه و ځکه داود پر وخت ښه ترقي شوې وه، سړکونه جوړ شول، سکولونه جوړ شول، هسپتالونه ډېر جوړ شول. خو روسانو پرې نښود.

د عجب خان او د شهزاده د زامنو او د نمسو تر منځ د پښتنو دودیزه سیالي موجوده ده او په ځینو خبرو کې یې څرګند شي. لکه محمد صدیق وایي، " دوی ډېر دي، زمونږ تربوورونه. مونږ ټول ټال څلرویشت کسه ...دوی ټول چې حساب کړم، یو سل اویا کسه کېږي. خو یقین دې وشي چې په هېڅ شي کې ترینه پست نه یم پاتې."

دا چې ولې د دې د ژوند په اړه پخپله دوی څه نه و لیکلي نو محمد صدیق وایي چې " نیکه نو تیار په پارسي کې کتاب لیکلې و. ما ویل چې راته راکړئ چې چاپ یې کړم"دا هغه وخت و چې یو لیکوال د " عاصم" په نوم ورته تلو راتلو او د ده نه به یې پښتنې کولې چې د هغه وخت پېښې ورته وواېي. وروسته د کتاب په بڼه چاپ شول چې " درې ننګیالي" نومېدو.

✦✦✦

نهم باب

# افسانې او تاریخ

د برمته شوې جینۍ مولي ایلس هغه داستان ډېر رښتیا ښکاري چې د خپل راخلاصون نه دوه میاشتې وروسته یې ولیکلو. تر هغې داپېښې د دې په ذهن کې تازه وې او سره له دې چې مور یې وژل شوې او دا پخپل وطن کې وه، د غم یا د مظلوم احساس پکې نه دی څرګند.

ښکاري چې د پخواني ټایپ څو کاپیانې هغو ژورنالیستانو یا لیکوالانو ته ورکړل شوې وې چې په دې موضوع یې ورسره خبرې کولې. د یادښتونو په پای کې نقشه او د سیمو جغرافیایي معلومات په لیکلو کې ممکن د هغې پلار میجر ایلس ورسره مرسته کړې وي. خو د انګلستان تعلیمي سیستم داسې دی چې ماشوم د وړوکي عمرنه د نقشو لوستل او د یوې سیمې د مشاهدې زدکړه کوي. د مولي په لیکنه کې د جوش یا د احساساتو کمښت د هغه وخت د انګرېزانو هغه کلتوري او دودیزه چلند په ګوته کوي چې دوی یې پخپله د "اپرسټیف لیپ" په نوم یادوی. د خپلو شونډو د کلک نیولو دا مانا ده چې که هر څومره غم یا خوشالي دربانديې راشي خو ژاړې به نه او نه به په زوره خاندې. یعني خپل هر احساس د غم یا د خوشالۍ، نورو ته به نه ښکاره کوې.

خو د مولي ایلس یادښتونه بیا هم د دې د نفرت، خوشالۍ او د نهیلۍ



احساس ښکاره کوي. دا په خپلو تښتوونکو باورنه کوي او تر هغې چې قلي خان، مغلباز او میرمن ستار یې نه و لیدلي، د خپل راتلونکې په اړه هیله نه لري. داسې ښکاري چې د لیکلو نه وروسته ممکن د هغې پلار یا بل چا لوستلي او بدلون پکې راوستي وي. د سیمو جغرافیایي معلومات د دې یوه نښه ده. د دې نه علاوه د مولي ایلس یادښتونه نور چا لوستي او څومره یې ترې کار اخیستي دی، څرګنده نه ده.

په لیکنه کې داسې شیان هم دي چې ښاییانګرېزان د قبایلو د ژوند ژواک نه څومره ناخبره وو. هغه ډوډۍ چې دا یې چپاتي ګڼي، په اصل کې د تبخې خمبیره ډوډۍ وه چې اوس هم په هغې سیمې کې ښځې پخوي.

بله خوا دا لیکنه د یوې ځوانې جینۍ د مجبورۍ داستان هم دی. تر دوو ورځو هغه اوبه نه څښي ځکه چې یو څو هغه ورته پاکې نه ښکاري او له ناروغه کېدووېرېږي. بل سبب یې د تشو متیازو و چې په هغې بیدیا کې ورته ناممکن کار ښکاره شوی وي.

تراوسه چې د عجب خان په اړه څو فلمونه جوړ شوي دي، په ټولو کې د عجب خان او د مولي ایلس د مینې داستان وروښودلو هڅه شوې ده. ما د مولي ایلس نه د خبرو پر وخت پوښتنه وکړه چې دا دواړه ورونه عجب خان او شهزاده خان ورته څنګه ښکارېدل. هغې وویل، عجب خان راته یوعادي سړی معلومېدو خو شهزاده خان ښکلی و. هغې د " هندسم " توری وکارو. د خپلې تښتونې په اوږد سفر کې مولي خبره نه وه چې مور یې

وژل شوې وه. دا خبر ورته میرمن ستهار ورکړو. ما سره په مرکې کې یې وویل " هغه زما د مور قاتل و او زه به تل ده ته د یو قاتل په سترګه ګورم" په ۱۹۸۳ م کې سپین سرې مولي اېلس صوبه سرحد ته لاړه. د هغه وخت حکومت یې ډېر تود هر کلی وکړو او دا د مور قبر لیدو ته کوهاټ ته ورغله. خو هغې د عجب خان د زامنو او نورې کورنۍ سره له لیدو انکار وکړو.

هغه وخت د اردو او د انګریزي ژبو په مجلو او ورځپاڼو کې د دې د سفر په اړه رنګا رنګ خبرونه او مضمونونه چاپ شول. پخوانیو عکسونو سره سره د هغه وخت د پېښو په اړه لیکنې وشوې او نوې افسانې جوړې شوې. یوه پکې د مولي او د عجب خان د مینې افسانه هم وه.

یو پاکستاني ژورنالیسټ ولیکل چې د هغه یو ملګرې د مولي اېلس " نېنې" ( هغه میرمنه چې ماشومان ساتي) سره د لندن په یوه کوڅه کې ولیدل. هغې ورته وویل چې مولي اېلس د عجب خان په مینه کې ګرفتاره وه. خو عجب خان په دې ټینګار کوو چې دی یو سیاسي مبارزه کې لګیا دې او د هغې سره بل هېڅ ډول اړیکې نشي ساتلې".

داکېسه د خبر په ډول په انټرنیټ کې هم خپره شوې ده او ښایي ځینې کسان پرې باور هم ولري.

خو په ۱۹۸۳ کې مولي اېلس د ۷۷ کالو وه. د " نېنې" د دندې لپاره په عامه توګه د پاخه عمر میرمنې ساتل کېدې. نو که د مولي اېلس " نېنې" د هغې



نه لږ تر لږه دیرش کاله مشره وه نودا به سلو کالو نه د زیات عمر وه. بله دا چې د ژورنالیسټ یو بې نومه ملګري د یو بې نومه سپین سرې نه داکېسه اوري او بیا یې ژورنالیسټ ته وایي.

په انټرنیټ یوه کتاب چې " د اپریدیانو له خوا د مولي اېلس تښتونه " نومېږي. لیکوال یې مایکل-اي- لیمبرټ دی. په دې کې ټولې پېښې حقایقو ته نږدې بیان شوي دي خو پوره معلوماتو د نشتوالي له کبله پکې ځایځای ناسمې خبرې هم شته. یوه بیلګه یې دا ده چې کله میرمن ستهار د اخونزاده په کلا کې مولي اېلس په لومړي ځل ولیده نو دا په یوې کمبلې کې تاو ملاسته وه او سړو د دیوال سره ډډه وهلې وه. د لیکوال په وینا، مولي اېلس هم هغه د خوب کمیس اغوستی و او په پښو کې یې د سړیو بوټان وو. خو دا حقیقت نه دی ځکه د مولي اېلس د ډایري نه مونږ خبرېږو چې هغې د قلي خان له خوا د جامو اود خواړو ټوکرۍ تر لاسه کړې وه او د میرمن ستهار سره د لیدو پر وخت پوره جامې یې اغوستې وې چې هغه وخت د لینګو اوږده لمنه او پوره لستونو کمیس، وربندې کوټ (جیکټ) او په سر یې ټوپۍ وه. په عکسونو کې مولي اېلس هم دغه لباس اغوستی دی.

په ۱۸ اپریل ۱۹۲۳ م د نیویارک ټایمز پاڼې پخپل سر لیک کې داسې ولیکل " یرغمل انګریزه جینۍ د وحشیانو سره ولیدل شوه چې لوی، غټ هډونه لرونکي، د شیطان پروا هم نه ساتي، داسې کسان چې ښه مضبوط

او زیره دي. په دوی کې ډېر داسې دي چې ښکار، جنګاود شوکو لپاره ژوند کوي."

د برطانیې په لر او بر کې د اپریل میاشت د خوشالیو او د لمانځنو وخت و. هغه کال په ۲۶ نیټه د شاهي کورنۍ د یوشهزاده واده و. البرټ چې وروسته د شپږم جارج په نوم باچا شو او د ملکېایلزابت پلار و، د هغه واده ته یو څو ورځې پاتې وې او د مډیا مطبوعاتو خلک ورته سترګې په لار وو. په داسې وخت کې د سلطنت د یوې لیرې او نامعلومې سیمې نه د یوې انګریزې جینۍ د تښتولو خبر په وړو تورو ولیکل شو.

خو د امریکا خپرونو ته داکېسه په زړه پورې وه او په تېره بیا هغه وخت چې مولي اېلس راخوشې شوه. نیویارک ټایمز په ۲۳ اپریل سر لیک داسې ولیکلو" انګریزه جینۍ د افغان نیوونکو نه راخلاصه کړه" دویم سرلیک داسې و چې" یوې ډاکټرې مولي اېلس وژغورله چې قبایلو تښتولې وه" د قبایلو په اړه یې لیکلي وو چې دوی" نیم وحشي" خلک دي. بیا په ۲۷ اپریل یې ولیکل چې مولي په پېښور کې ده او د خپلو کړاونو حال یې ویلی دی چې څنګه د غرونو د ساړه نه د ژغورنې لپاره هغې سره یوائې د یو وحشي اپریدي کوټ و چې شهزاده خان نومېدواو هم هغه د دې مور وژلې وه. نیویارک ټایمز وروسته په دې اړه نور خبرونه ورنکړل.

د برطانیې لندن ټایمز دې موضوع ته زیات پام کړی و، سره له دې چې هغه دوه اوونۍ تر ټولو په زړه پورې خبر د ډیوک اف یارک (شهزاده



البرټ) د واده خبر و. د دې پېښې په اړه ورځپاڼې وروستي خبرونه هم ورکړل چې د تښتوونکو د نیولو لپاره د هلو ځلو په اړه وو او تر هغې یې نومونه نه وو څرګند. لندن ټایمز د ۲۴ اپریل په ګڼه کې ولیکل " د دې جرم سبب هغه سوګند و چې مجرم د خپلې بې عزتۍ د بدل اخیستو لپاره کړی و. بې عزتي دا وه چې څو ټوپکې د بوستي خېلوڅخه وموندل شوې. داسې ښکاري چې ښځو هغه ته دومره پیغورونه ورکړل چې ده یې زغم نه لرلو. او د پښتنو د دود سره سم د خپلې مور وړاندې چې په دې پیغورونو کې تر ټولو وړاندې وه، په قران قسم وخوړو چې دی به یو داسې کار وکړي چې پخوا به چا په اړه یې اورېدلي هم نه وي."

د ټوپکو غلااو د پیرنګیانو له خوا د دوی رابرسیره کول د هغه وخت د روانو پېښنو یوه لړۍ وه. که څه هم د ورځپاڼو راپورونه د عجب خان په کلي کې د ښځو د بې پردې کولو په اړه څه نه وایي خو مونږ اټکل کولی شو چې د برطانیې د لټون ډلې په دې معامله کې د پښتنو د روایاتو په اړه بې غوري کړې وه. د عجب خان زوی نیک محمد په ۱۹۹۱ م کې په کابل کې د یوې مرکې پر وخت راته وویل چې پلار یې تل دا خبره کوله چې انګریز زمونږ بې عزتي کړې وه.

د کرنل فووکس او د هغه د میرمنې د قتل نه وروسته انګریز حکومت د جواکې د اپریدیانو سره خبرې پیل کړې وې او ځینې مشران یې پېښور ته د یوې جرګې لپاره رابللي وو چې ورسره معامله وشي. سر جان میفي د

پښتنو د جرګو نه خبر و او په دې هم پوهېدو چې د يو قام او بل تر منځ د رقابت او د سيالۍ لپاره لږه بانه پکار وي.

دا چې په هغه جرګه کې عجب خان نه و وربلل شوی نو د دې مانا يې ورکوله چې د ده پر ضد به يوه فيصله کېږي. د عجب خان اندېښنې په ځای وې. انګرېز په هېڅ شان هغه ته معافي نه ورکوله ځکه تر هغې د ده د جرمونو لړۍ ډېره اوږده شوې وه. دی پوهېدو چې بې له هغه هم به د خپل ټبر سره له کورمې وشړل شي. خپل قام به هم ورته ځای نه ورکوي. نو ځکه يې فيصله وکړه چې يو داسې کار وکړي چې انګرېز د ده بخښنې ته مجبور شي.

انګرېز افسر د قبايلو د دود دستور نه خبر وو خو په دې نه پوهېدل چې پښتانه د خطر پر وخت يو بل سره ملاتړ کوي. جان ميفي ۲۲ کاله په هند کې خدمت وکړو او په پېښورکې يې د سيمې د مشرانو سره ملګرتيا جوړه کړه چې يو پکې زمان خان و. زمان خان اپريدی د خپل قام مشر او د قام د يو غړي سره يې د دښمنۍ خطر په ځان منلی و. د جان ميفي د خپلو اهدافو د تر سره کولو لپاره د سيمې ملايانو سره هم ملګرتيا ساتله. لکه چې هغه د ملا کاربوغه ملګری و.

بل خوا د ميرمن سټار د کريکټرپه پوخ والي کې د هغې د ديني عقايدو لاس و. هغه د ولس په نبض پوهېده او په دې يې هم باور لرلو چې پښتانه وحشي نه دي، لکه چې د هغه ځای نه ليرې ناستو ژورنالسټانو يې



تحليلونه کول. هغې په خپلو جامو کې ځان او د مولي اېلس لپاره د پښتنو کميس پرتوګ هم وړي وو. دا جامې هغوی نه وېاغوستې خو د دې لپاره يې ساتلې وې چې که اړتيا وه په غاړه به يې کړي. هغه د پښتنو د کلچر نه خبره وه چې ښځې ته څومره احترام لري او کله چې شهزاده پرې چغه ووهله او د دوی کوټې ته ورننوتو نو هغې ورته د اسلام او د ښځې د حرمت خبره وکړه. هم دغه دستور د دې سبب شو چې په لاره د ډېرو کليو نه خوندي تېر شول.

په ۱۸٦٤ م کې د هند وايسرای لارډ جان لارنس د انګرېز سلطنت د سرحدي (پښتنو) سيمې په اړه د انګرېزي ژبې يوه محاوره" بوچر اينډ بولټ" وکاروله. د دې اصل مانا ټپي کول اوپټی کول کېدېشي. خو مطلب يې دا و چې د پښتنو د ارامه ساتلو تر ټولو ارزانه او لنډه لاره لټول پکاروي او د دې سيمې لپاره د يوې بنسټيزې او ژورې پاليسۍ ته اړتيا نشته.

دا هم هغه پاليسي ده چې تر اوسه روانه ده، پښتانه ځپل کېږي، بيا څه موده د دوی ملهم پټی روانه وي او بيا وربانديې بل ګوزار وشي. هم هغه ده چې دا سيمه نه رغېږياو نه پوره ورانېږي.

پای

+++

# سرچينې

۱. د شمال لویدیځ سرحد د صوبې ګېسه. جي-ایم-ایورټ، بیا کتنه د اي-بي- هاویل له خوا - سنګ میل خپرونې ۲۰۰۹ م

۲. ادمخېل اپریدي . د تاریخ په هنداره کې. ( مخ ٦٣ ) محمد عظیم اپریدی. ۱۹۹۹ م . حمیدیه چاپ ځای. پېښور.

۳. د قبایلو تاریخ. میاخان اپریدی. باړه بک ایجنسي، باړه. د چاپ نېټه ناڅرګنده.

٤. د کرمې او تل تاریخ. اسیر منګل. دانش خپرندویه ټولنه. ۲۰۱۱ م. " د اپریدیانو له خوا د مولې ایلس تښتوونه " مایکل-اي- لیمبرټ

۵. د تیراوو د کوچني تبت کیسې. لیلین ستار، هاډر اینډ ستاټن لیمیټېډ. ۱۹۲٤. لندن

٦. د شمال مغربي سرحد د صوبې ګېسه. جې - ایم- ایورټ. د صوبه سرحد د قرطاسې او د خپرونو سرکاري دفتر. ۱۹۲۲ م . ٤، ۸. ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۲٦، مخونه



۷. د شمال مغربي سرحد صوبه. خلک او د ۱۸۳۹ م نه تر ۱۹٤۷ م پېښې. ارتهر سوینټن. فریډریک -اي- پرایجر.

۸. د صفیه حلیم مرکه د عجب خان د زوی نېک محمد غازي زوی

۹. د صفیه حلیم مرکه. د مولې ایلس سره- د جان بټ په مرسته

۱۰. د عمر اپریدي مرکې په مزار شریف کې.

۱۱. د عجب خان د خبرو مسوده- عمر اپریدی

۱۲. نقشې، عکسونه